بسم الله الرحمن الرحیم

## کتاب پېژندنه


**د کتاب نوم:** د لګښت سنجونه

**څانګه:** محاسبه

**راټولوونکی:** عبدالجبار قیومی

**ژباړن:** روح الله عزتمل

**د څار کمېټه:**

- محمد آصف ننګ د تخنیکي او مسلکي زده کړو معین
- دیپلوم انجنیر عبدالله کوزابي د تعلیمي نصاب رییس
- محمد اشرف وحدت په تعلیمي نصاب کې د معینیت د مقام سلاکار

**د تصحیح کمېټه:**

- عبدالجمیل ممتاز
- نصیر احمد احمدی

**د ګرافیک او ډیزاین څانګې مسئول :**

| | |
|---|---|
| **ګرافیک او ډیزاین:** | علی مومنی |
| **چاپ کال:** | ۱۳۹۲ لمریز کال |
| **تیراژ:** | ۳۰۰۰ ټوکه |
| **چاپ ځل:** | لومړی |
| **وېب پاڼه:** | www.dmtvet.gov.af |
| **برېښنالیک:** | info@dmtvet.gov.af |
| کوډISBN: | ISBN 9789936300743 |



Ketabton.com

د چاپ حق د تخنیکي او مسلکي زده کړو له معینیت سره خوندي دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ملي سرود

دا وطن افغانستان دی — دا عزت د هر افغان دی
کور د سولې کور د تورې — هر بچی یې قهرمان دی
دا وطن د ټولو کور دی — د بلوڅو د ازبکو
د پښتون او هزاره وو — د ترکمنو د تاجکو
ور سره عرب، ګوجر دي — پامیریان، نورستانیان
براهوي دي، قزلباش دي — هم ایماق، هم پشه یان
دا هیواد به تل ځلیږي — لکه لمر پر شنه آسمان
په سینه کې د آسیا به — لکه زړه وي جاویدان
نوم د حق مو دی رهبر — وایو الله اکبر وایو الله اکبر

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د پوهنې وزارت پيغام

ګرانو زده کوونکو ، محصلانو او درنو ښوونکو!

د يوې ټولنې وده او پرمختګ کاملاً د همغې ټولنې د پیاوړو کاري کادرونو، بشري قوې او ماهرو متېو په کار او زيار پورې تړلي او د دوی په خوارۍ پورې نغښتي دي. همدا بشري قوه او کاري متې دي چې د هيواد انکشافي اهدافو ته د رسيدو لارې چارې طی کوي او د يوه نيکمرغه، مرفه او ودان افغانستان راتلونکی تضمينوي.

انسان په خپل وار سره د الله تعالی له جانبه او هم د خپل انساني فطرت له اړخه مؤظف او مکلف دی چې د ځمکې په عمران او د يوه سوکاله ژوند د اسبابو او ايجاباتو د تکميل لپاره خپل اغيزمن نقش، همدارنګه ملي او اسلامي رسالت ادا کړي.

له همدې ځايه ده چې د يوه ژوندي او فعال انسان نقش، د خپل ژوند د چاپيريال او خپلې اړوندې ټولنې په اړه، تل مطلوب او په هيڅ حالت کې نه نفی کيږي او نه هم منقطع کيږي.

په ټول کې د پوهنې نظام او په خاصه توګه د تخنيکی او مسلکی زده کړو معينيت مسووليت او مکلفيت لري چې د اسلامي ارزښتونو، احکامو معقولو او مشروعو قوانينو ته په ژمنتيا سره، د افغانستان په انکشاف کې فعاله، چابکه او موثره ونډه واخلي، ځکه دغه ستر او سپيڅلي هدف ته د رسيدو په خاطر د انساني ظرفيت وده، د حرفوي، مسلکي او تخنيکي کادرونو روزنه او پراختيا يو اړين مقصد دی. همدا په تخنيکي او مسلکي زده کړو مزين تنکي ځوانان کولی شي چې په خپلې حرفې او هنر سره په سيستماتيک ډول د هيواد انکشاف محقق او ميسر کړي.

جوته ده چې په افغانستان کې د ژوند تګ لاره، دولتداري او ټولنيز نظام د اسلام له سپيڅلو احکامو څخه الهام اخيستی، نو لازمه ده چې زموږ د ټولنې لپاره هر ډول پرمختګ او ترقي بايد په علمي معيارونو داسې اساس او بنا شي چې زموږ د کارګر نسل مادي او معنوي ودې ته لومړيتوب ورکړل شي. د حرفوي ظرفيت جوړونې تر څنګ د ځوانانو سالم تربيت او په سوچه اسلامي روحيې د هغوی پالنه نه يواځې پخپل ذات کې يوه اساسي وجيبه ده، بلکې دا پالنه کولی شي چې زموږ وطن پخپلو پښو ودروي، له ضعف څخه يې وژغوري او د نورو له سياسي او اقتصادي احتياج څخه يې آزاد کړي.

زموږ ګران زده کوونکي، محصلان، درانه استادان او مربيون بايد په بشپړه توګه پوه شي، چې د ودان او نيکمرغه افغانستان ارمان، يواځې او يواځې د دوی په پیاوړو متېو، ويښ احساس او نه ستړي کيدونکي جد او جهد کې نغښتی او د همدغو مسلکي او تخنيکي زده کړو له امله کيدای شي په ډيرو برخو کې د افغانستان انکشافي اهداف تر لاسه شي.

د دې نصاب له ټولو ليکوالانو، مولفينو، ژباړونکو، سموونکو او تدقيق کوونکو څخه د امتنان تر څنګ، په دې بهير کې د ټولو کورنيو او بهرنيو همکارانو له مؤثرې ونډې او مرستو څخه د زړه له عمقه مننه کوم. له درنو او پیاوړو استادانو څخه رجامندانه هيله کوم چې د دې نصاب په ګټور تدريس او فعاله تدريب سره دې د زړه په ټول خلوص، صميمي هڅو او وجداني پيکار خپل ملي او اسلامي نقش ادا کړي.

د نيکمرغه، مرفه، پرمختللي او وياړمن افغانستان په هيله
فاروق وردګ
د افغانستان اسلامي جمهوريت د پوهنې وزير

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړلیک



| پاڼې | سرلیکونه | څپرکی |
|---|---|---|
| ۱ | د لګښتونو د سنجونې مهم اصطلاحات | لومړی |
| ۵ | د لګښتونو مهم ډولونه | دویم |
| ۲۱ | د لګښت سنجونې مهم اوعمده موضوعات | درېیم |
| ۳۵ | په سوداګریزو تصدیو کې د لګښتونو د ډولونو سنجونه | څلورم |
| ۵۹ | په صنعتي تصدیو کې د لګښتونو سنجونه | پنځم |
| ۸۹ | د لګښتونو د پروسې او وظیفې سنجونه | شپږم |
| ۱۰۷ | په مواضعو باندې د لګښتونو توزیع | اووم |
| ۱۲۹ | د لګښتونو د مواضعو سنجونه | اتم |
| ۱۵۹ | | سرچینې او اخیستنې |

(c) ketabton.com: The Digital Library

**سريزه**

په صنعتي، تجارتي او خدماتي موسسو کې د لګښتونو سنجول د حساب لرونکي سیستم مهمه څانګه ګڼل کیږي، چې د هغې څخه ګټه اخیستنه د وړاندې شویو خدماتو او د تولیدي محصولاتو تمام شوی قیمت ته د لاس رسی، د هیواد د اقتصادي او صنعتي وضعیت لپاره ضروری دی ، ځکه د تمام شوي قیمت څخه په تقلید سره محصولات اوخدمات د مدیریت د لګښتونو دکنټرول له لارې امکان لري .

د خرڅلاو قیمت د عرضې او تقاضا سره سم ټاکل کیږي ، په بل عبارت، ګټه باید د تمام شوي قیمت د تقلیل له لارې منځته راشي، نه د پلورنې د قیمت د لوړوالي له امله، ځکه چې د رقابت زمینه برابره شي .

په دې کتاب کې کوښښ شوی، چې د تمامې شوې برخې ارزونه په ساده طریقه سره بیان شي ،، او د دې کتاب مطالعه کوونکي په مقدماتي کرښو کې د درج شویو مطالبو څخه ګټه واخیستل شي .له همدې امله  په دغه کتاب کې د مسایلو طرحه او حل ښه بیان شوی دی، همداراز د هر فصل په پای کې یې د مطالبو لنډه یادونه شوې ده او پوښتنې یې هم لیکلي دي .

په عمومي ډول په نننۍ نړۍ کې چې اقتصادي ، تجارتي ، او صنعتي رقابت شتون لري ، د لګښتونو د سنجونې کتاب مهم رول لوبولی شي . مدیران رښتینې او مناسبې تصمیم نیونې ته اړتیا لري، ترڅو مالي او د ډاډ وړ معلومات ترلاسه کړي، چې دغه معلومات د لګښتونو د سنجونې په کتاب کې لاسته راځي. دغه کتاب په همدې موخه د حساب داری او ادارې د انستیتوت او د نورو څانګو د محصلینو لپاره چمتوشوی دی.

د نړیوالې ټولنې لخوا خپاره شوي راپورونه د دې حقیقت ښکارندوی دی، چې هرڅومره چې د صنعت له برکته په  بشري ټولنې  کې پرمختګ رامنځته شي ، د تمام شوي قیمت د لګښتونو سنجول او تخصص ته پرمختګ نور هم باید ترسره شي .

دغه کتاب اته فصلونه لري چې په لومړي فصل کې یې د لګښتونو د سنجونې اصطلاحات په بشپړډول بیان کړي ، په دوهم فصل کې د لګښتونو د ډولونو په اړه معلومات شته ، په دریم فصل کې د لګښتونو د سنجولو د مهمو موضوعاتو څخه خبرتیا ده، په څلورم فصل کې د مثالونو په وړاندې کولو سره د لګښتونو د سنجولو ډولونه بیان شوي دي ، په پنځم فصل کې دا را زده کوي چې په صنعتي تصدیو کې د لګښتونو سنجونه څرنګه رامنځته کیږي، په شپږم فصل کې د پروسې او وظیفې د لګښتونو سنجونې د مثالونو په بیانولو سره لیکل شوي دي .

په پای کې د تعلیمي نصاب د محترم ریاست او په ځانګړي ډول له محترمو هر یوه  عبدالمتین شریفي، میرمحمدشاه رفیعي، او ټولو هغو کسانو چې زموږ سره یې د دې کتاب په ترتیب او تنظیم کې مرسته کړې، د زړه له کومې مننه کوم .

په درناوی

عبدالجبار قیومي

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د مضمون ټولیزه موخه:**

د تصمیم نیونې، پلان جوړونې، کنټرول، څارنې او چارو د بررسۍ په موخه د صنعتي او خدماتي مؤسساتو د تثبیت شویو بیو او ګټو په برآورد کې د محصلینو او مدیرانو لپاره د لازمو وړتیاوو پیدا کول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لومړی څپرکی

## د لګښتونو د سنجونې مهم اصطلاحات

**ټولیزه موخه:**

د لګښتونو د عمده مفاهیمو د لاسته راوړلو د وړتیا ارزول (سنجش ).

**د زده کړې موخې:** د دې فصل په پای کې به زده کونکي په لاندې ټکو وپوهیږي:

- پرداخت تعریف کړي.
- په مخارجو وپوهیږي.
- لګښتونه وپیژني.
- په لاسته راوړنه پوه شي.
- حاصل تشخیص کړي.
- په فعالیت وپوهیږي.
- ګټه وپیژني.
- په عوایدو پوه شي.
- زیان وپیژني.

**ورکړه(پرداخت) (Disbursement)Pay**

**ورکړه څه ته وايي؟**

ورکړه په لغت کې د نغدو پیسو ورکولو ته وايي او په اقتصاد کې لاندې معناوې لري:

**الف:** هغه معاش یا مزد یا پیسو ته وايي چې د یو خدمت په مقابل کې ورکول کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ب:** د فعل په توګه د ورکولو يا جبران کولو په معنی دی.

په ارزونه کې د لګښت پرداخت د پيسو ورکولو په معنی دی او په اصطلاح کې د يوې تصدۍ ټولې پيسې دي، که هغه نقدي وي او يا کتبي وي، د پرداخت په نوم يادېږي.

**مخارج out lay يا (Expen diture):** له هغو پيسو څخه عبارت دي چې د جنسونو يا خدماتو په موخه له تصدۍ څخه خارجيږي.
دغه اصطلاح په دوه ډوله راوړل شوېده.

۱- په محاسبه کې د خدماتو يا جنسونو ټولو هغو لګښتونوته ويل کيږي چې د وخت په تيريدو سره رامنځته کيږي او په مقابل کې يې د ګټې طمعه کيږي.

کلي مخارج له نغدي او غير نغدي لګښتونو څخه بحث کوي.

۲- د اقتصاد په علم کې هغه نغدي لګښت ته ويل کيږي چې د مال او يا خدمت د توليد له امله رامنځته کيږي.

**لګښت ( مصرف ) (Consumption) يا (Expense)**

د لګښت جمعې ته لګښتونه ويل کيږي او لګښت د انسانانو د غوښتنو د له منځه وړلو په موخه، د خدماتو يا مالونو د کارولو څخه عبارت دی.

**لګښتونه:** د متاع او خدماتو د ارزښت څخه ګټه اخيستل دي، چې د توليد لپاره کارول کيږي.
يا په بل عبارت: دتوليد د عواملو قيمت دی، چې د توليد په پروسه کې کارول کيږي او په پيسو بدليږي.

**موندنه يا دريافت Receive**

د پيسو د اخيستلو په معنی ده او په اصطلاح کې د يوې تصدۍ د ټولو پيسو اخيستل دي، که هغه نغدې وي او يا کتبي وي د موندنې يا دريافت په نوم يادېږي.

**د پيسو راکړه(ستد):** د يوې تصدۍ له پاره په يوه دوره کې پولي وسايل د پيسو د راکړې په نوم يادېږي.

**حاصل (Output) (Yield):** يوه اندازه مال يا خدمات چې د توليد د يوې عمليې څخه لاسته راغلې وي د حاصل يا د توليد د مقدار په نوم يادېږي.

**حاصل:** دتصدۍ د ټولو اصلي اوفرعي فعاليتونو څخه عبارت دی چې په يو کم واحد ارزول کيږي د مثال په توګه په يوه کرنيزه تصدۍ کې چې غنم د فعاليت په واسطه لاسته راځي، اصلي حاصل دی او سپين واښه چې پاتې کيږي، فرعي حاصل دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**عايد (Income)**

دعايد جمعې ته عوايدويل کيږي. عايد د اقتصاد دعلم په اصطلاح کې پولي حاصلاتو يا نورو مادي منابعو ته ويل کيږي، چې د ثروت د کارولو په واسطه يا د يوآزاد انسان د خدمت له امله ترلاسه کيږي.
عايد دتصدۍ د ټولو اصلي اوفرعي فعاليتونو څخه عبارت دی، چې په پولي واحد ارزول کيږي او يوه اندازه پيسې يې د فعاليت له امله لاسته راځي.

**فعاليت: Activity**

**فعاليت:** فعاليت کار ته ويل کيږي، دا کار که د فزيکي له پلوه وي اويا د اقتصادي له پلوه، خو چې په يوه معين وخت کې سرته ورسيږي، د قدرت يا فعاليت څخه عبارت دی.

**ګټه: (Benefit , profit)**

ګټه هغه پيسې دی چې په يوه شرکت کې د ګټې له امله لاسته راځی او شريکانو ته يې د هغوی د سهم په اندازه رسيږي.
هرکله چې د تصدۍ نتيجه مثبته وي، يعنې د عوايدو او مخارجو ترمنځ تفاوت مثبت وي ، نتيجه يې د ګټې په نوم ياديږي.

**زيان Detriment Damage**

هرکله چې د تصدۍ په نتيجه کې د عايداتو او مخارجو ترمنځ فرق منفي وي، له ضرر څخه عبارت دی.

**د لومړی څپرکي د مطالبو لنډيز**

**۱- ورکړه يا پرداخت:** په لغت کې د نغدو پيسو ورکولوته وايي او په اصطلاح کې د يوې تصدۍ مجموعي پيسوته ويل کيږي.
**۲_ مخارج:** يو مقدار هغه پيسې دي چې له تصدۍ څخه د جنس يا خدماتو د لاسته راوړلو له پاره خارجيږي.
**۳- مصارف:** د ګټې اخيستنې په موخه د وسايلو او خدماتو څخه کار اخيستل دي، چې د توليد په موخه کارول کيږي.

**۴- ترلاسه کول:** په لغت کې پيسو اخيستلو ته وايي او په اصطلاح کې د تصدۍ د ټولو پيسو اخيستل دي، که هغه نغدې وی او يا کتبی وي، د دريافت په نوم ياديږي.
**۵_ د پيسو راکړه:** په يوه دوره کې تصدۍ ته د پولي وسايلو له جريان څخه عبارت ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۶- حاصل:** د تصدي د ټولو اصلي او فرعي فعالیتونو څخه عبارت دی چې په پولي واحد ارزول کیږي.

**۷- عاید:** د تصدۍ د اصلي او فرعي فعالیتونو هغه مجموعه ده چې په پولي واحد ارزول کیږي.
**۸- فعالیت:** کار ته ویل کیږي، که هغه له فزیکي پلوه وي او یا اقتصادي پلوه، خو چې په یوه معین وخت کې سرته ورسیږي د فعالیت د قدرت په نوم یادیږي.
**۹ – ګټه:** هرکله چې د تصدي نتیجه ( د عایدو او مخارجو ترمنځ تفاوت ) مثبت وی، ګټه لاسته راځي.
**۱۰- ضرر:** هرکله چې د تصدی نتیجه منفی وي ، ضرر لاسته راځي.

### د لومړي څپرکي پوښتنې

۱- ورکړه یا پرداخت څه ته وایي، معلومات ورکړی؟

۲- د مخارجو او مصارفو ترمنځ فرق څه دی ویی لیکی؟

۳ – عاید له حاصل سره څه فرق لري، روښانه یې کړئ؟

۴- د حاصل په اړه معلومات ورکړئ؟

۵- فعالیت یا قدرت تعریف کړئ؟

۶- په یوې تصدۍ کې چې کله ګټه لاسته راځي، په مثال سره یې روښانه کړئ؟

۷- یوسوداګر کله له زیان سره مخ کیږي یومثال وړاندې کړئ؟

۸- د لګښتونو د ا رزولو مضمون د څه لپاره مطالعه کوئ، په دې اړه معلومات ولیکی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دویم څپرکی

## د لګښتونو مهم ډولونه

**ټولیزه موخه:**
په تولیدي او خدماتي تصدیو کی د مهمو لګښتونو د ډولونو د تثبیتولو په اړه مهم او اساسی معلومات.

**د زده کړې موخې:** محصلین به په دې فصل کې په لاندې معلوماتو پوه شي:

- د موادو مصرف
- د تصدۍ د وسایلو مصرفول
- د پرسونل مصرف
- د اضافي عواملو مصرف
- متفرقه مصرف
- ثابت مصرف
- بدلون موندونکی مصرف
- مشترک مصرف
- انفرادي مصارف

**د لګښت ( مصارف ) ډولونه**

د تصدۍ د لګښت ډولونه کولای شو د تصنیف د عواملو له پلوه ثابت کړو. د تولید د عواملو استهلاک د اړونده اسنادو په واسطه په معین وخت کې ثابتیږي او همداراز د یوډول لګښت په واسطه نمره ګذاري کیږي.

د متاع د استهلاک اندازه د فزیکي واحدونو لکه کیلوګرام ، متر ، واحد اونورو په واسطه اندازه کیږي د لګښت ډولونه په لاندې توګه بیانولای شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د موادو لګښت**

د لګښت په دغه ګروپ کې، د خامو موادو لګښت ، د کمکي موادو لګښت او د تصدۍ د موادو لګښت شامل دي او د موادو د ارزولو په چوکاټ کې ثابتیږي.

د موادو لګښت لاندې ډولونه لري:

الف – د تولید په ساحه کې کارول شوي مواد.
ب – د تولید په ساحه کې کوچینۍ او معیاري څانګې.
ج – د تولید په ساحه کې انفرادي څانګې چې د تصدي دباندې تهیه کیږی.
د – په تجارتي تصدیو کې تجارتي وسایل
ه: کمکي مواد ( د اداري او فرشونو تر څنګ په نورو برخو کې )
و: په ټولو ساحاتو کې د تصدۍ مواد چې سوخت او نرژۍ هم پکې شامله ده.
کولای شو چې یوه برخه استهلاک شوي مواد له ستونزو پرته ندازه کړو.

**د تصدۍ د وسایلو لګښت**

دغه ډول لګښت په عمل کې د تصدی د وسایلو د ارزونې په چوکاټ کې تثبیتیږي او په دې صورت کې په قصدي ډول استعمالیدونکي عوامل په پام کې نیول کیږي او د تولید په څو مرحلو کې ګټه ترې اخلي. له همدې امله باید د تولید د عواملو استهلاک د تولید د ارزونې په وخت کې په پام کې ونیول شي. دا کار ددې لامل ګرځې چې له یودې خوا د دستګاه د تولید عمومي قوت ( پوتانشیل ) په پام کې ونیسو او له بل لوري د دستګاه یوه دوره استهلاک هم را مالوم شي. د تولید یوه دوره استهلاک کولای شو چې د دستګاوو د د استفادې او پر دستګاه د وخت په تېریدو سره تثبیت کړو. دواړه ډوله یاد شوی استهلاک د تصدۍ په وسایلو باندې اغیزه لري او د وسایلو د استفادې وخت تعینوي.

**مثال:** د یوه موټر د قدرت ( پوتنشیل ) مجموعي فعالیت له KM ۱۲۰،۰۰۰ څخه پورته دی، نو که چیرې د دغه موټر کلنی استهلاک KM ۲۰۰۰۰ وي، نو په دې صورت کې د نوموړي موټر څخه د ګټې اخیستنې موده د هغه تر له منځه تللو پورې ۶ کاله ده. که چیرې له منځه تلل یا خرابیدل د چاپیریال او موسم له لارې رامنځته کیږي، نو په کال کې ٪۲۰ ارزول کیږي، بناء په دې صورت کې ډیره ګټه اخیستنه یواځې پنځه کاله ده.
د یوې دستګاه د مجموعی فعالیت د قدرت فرسایش د تولید د یو پړاو د استهلاک د ضرب د حاصل په نسبت ترلاسه کولای شو او یا داچې استهلاک د زمان د تابع په توګه په نظر کې نیسو، چې په دې ترتیب یوه اندازه تهیه شوې پیسې، د فرسایش په توګه وړاندې کیږي ، لاندې سمبولونه په نظر کې نیسو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

A= د چمتو کولو مبلغ – د داغمې قیمت
B = قدرت (پوتنشیل) د مجموعي فعالیت دستګاه
$V_t$= د T دورې څخه ګټه اخیستنه.
tN= د ګټې اخیستنې موده.
$KA_t$= د تولید د دورې د فرسایش پیسې T
د ګټې اخیستنې فرسایش کولای شو په لاندې ډول ولیکو

$$KA_t = V_t \cdot \frac{A}{B} \sum_{t=1}^{tN} Vt = B$$

زماني فرسایش عبارت دی له:

$$KA_t = f(t \cdot A) \sum_{t=1}^{tN} KA_t = A$$

ذکر شوی مثال په پام کې نیسو اوداسې فرض کووچې که A=۱۴۴۰۰ افغانۍ وي، نو په بیلابیلو کلونو کې د موټر څخه د استهلاک او ګټې اخیستنې پراوونه په لاندې ډول دی:

د لومړي کال استهلاک ۱۸۰۰۰ = (V۱) کیلومتر ه.
د دوهم کال استهلاک ۲۲۰۰۰ = (V۲) کیلومتره.
ددرېیم کال استهلاک ۲۴۰۰۰ = (V۳) کیلومتره.
د څلورم کال استهلاک ۲۰۰۰۰ = (V۴) کیلو متره.
د پنځم کال استهلاک ۱۶۰۰۰ = (V۵) کیلو متره.
د شپږم کال استهلاک ۲۰۰۰۰ = (V۶) کیلومتره.

$$B = 120000Km$$

$$\frac{A}{B} = \frac{14400}{120000} = 0.12\, {}^{Afg}\!/_{km}$$

د زماني فرسایش تابع عبارت دی له:

$$Kat = 0.0667 \cdot A(6 - t)$$

د شپږو کلونو لپاره د وخت د فرسایش څخه ګټه اخیستنه په لاندې جدول کې بیانیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

| وخت (t) | داستهلاک پیسې | |
|---|---|---|
| | د ګټې اخیستنې فرسایش | زماني فرسایش |
| ۱ | ۲۱۶۰ | ۴۸۰۲ |
| ۲ | ۲۶۴۰ | ۳۸۳۲ |
| ۳ | ۲۸۸۰ | ۲۸۸۱ |
| ۴ | ۲۴۰۰ | ۱۹۲۱ |
| ۵ | ۱۹۲۰ | ۹۶۰ |
| ۶ | ۲۴۰۰ | - |
| مجموعه | ۱۴۴۰۰ | ۱۴۴۰۰ |

که د زماني فرسایش څخه د ګټې اخیستنې وخت له پنځو کلونو څخه زیات وی او په هغه صورت کې چې د زماني فرسایش څخه ګټه واخیستل شي نو باید د ګټې اخیستنې قدرت (پوتنشیل) یعنې B=۱۲۰,۰۰۰KM کیلومتره څخه په همدومره وخت کې ګټه واخلو
د فرسایش په پیسو کې لاندې ستونزې هم شتون لري.

**الف** – د پوتنشیل قدرت څخه ګټه اخیستنه او د تولید د پړاو استهلاک د اندازې وړ نه دی. په دې ترتیب د فرسایش د پیسو ارزول د فرسایش د فورمول څخه په ګټې اخیستنې سره صحیح نه دی.

**ب** - د زماني فرسایش تابع معلومه نه وي، چې په دې ترتیب سره نه شو کولای د زماني فرسایش پیسې وارزوو د ( الف ) او ( ب ) ستونزو په پام کې نیولو سره کولای شو چې د فرسایش پیسې په افاقي توګه و ارزوو.

**ج** – د قدرت ( پوتنشیل ) ساتنې او د هغې څخه د ګټې اخیستنې کومه لار چې شتون لري، د ګټې اخیستنې موده یې زیاتیږي. د ترمیم لګښت او په عین حال کې وخت ، د تصدئ یوډول لګښت وړاندې کوي.

**د** – سربیره پردې چې اقلیم په فرسایش اغیزه کوي، نور لاملونه هم شته چې زماني فرسایش تراغیزې لاندې راولي ، مثلا: تخنیکي پرمختګ ، د اړتیا تغیر او نور. د تصدئ د وسایلو د تخنیکي پرمختګ په پایله کې چې ډیره اقتصادي اغیزتیا لري او مولدیت یې لوی وي، د ګټې اخیستنې وړ ګرځي.

**هـ** - د غیر مترقبه لاملونو چې وړاندیونه یې ستونزمن کار دی، لکه زلزله ، اور اونورو په واسطه د

(c) ketabton.com: The Digital Library

تصديو د ګټې اخيستنې قدرت يوه برخه اويا په بشپړ ډول استهلاک کيږي.

پورته لاملونو ته په کتوسره ويلای شو چې د هر توليدي پړاو فرسايش په افاقي توګه تثبيت کړو.

همدارنګه ربح هم د تصدئ د مصرفي وسايلو په چوکاټ کې شامله ده ، هغه مهمه پوښتنه چې د ربحې په اړه مطرح کيږي، داده چې آيا کولای شو ربح د لګښت په چوکاټ کې وشميرو او که نه؟

عالمان د رايو په اکثريت سره په دې باور دي، چې ربح نقدې پيسې او يا هغه متاع ده چې د نقدو پيسو او يا د متاع په بدل کې رامنځته شوې وي.

ربح کولای شو د لاندې معادلو په مرسته ارزيابي کړو.

$$Z = C \times T \times i$$

په دې ځای کې:

Z= ربح
T= د بدلې شوې سرمايې موده.
C= بدله شوې سرمايه
i= د ربحې بيه

مثال:

C= 5000 افغانی
T=240 ورځ
i=6% فيصدي
په دې صورت کې ربح عبارت ده له

$$Z = 5000.240.\frac{6}{100.360} = 200 Afg$$ افغانی

که ربح درې ګونو کسانو ته د تړون په اساس ورکړل شي، نو په دې صورت کې يې داقتصاد ټول عالمان د مصرف په اړه هيڅ شک نه لري.
که چيرې سرمايه څو وارې بدله شي، نو په دې صورت کې مرکبه ربح کولای شو د لا ندې فورمول په واسطه ارزيابي کړو.

$$Z = C[(1+I)n - 1]$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

**په دې ځای کې:**

n = د کلونو شمیر

همدارنګه کرایه هم د تصدۍ دوسایلو په مصرف کې شمیرل کیږي، چې دتصدۍ دوسایلو ځخه د ګټې اخیستنې په بدل کې ورکول کیږي ، مثال د کوټې کرایه ، د ما شینونو کرایې، د دستګاګانو کرایې او نور.

**د پرسونل لګښت:**

دغه لګښت د انسانانو د کار د تولید په بدل کې رامنځته کیږي او د مزد او معاش په چوکاټ کې ارزول کیږي ، د بشر د کا ر د اندازې معلومول په دې پورې اړه لري، چې د بشري وړتیا لپاره کوم معیار وټاکل شي.

په اقتصادي آثارو کې لاندې معیارونه د کار د اندازه کولو لپاره وړاندې کیږي.

الف- د کار وخت

ب- دکار فعالیت

ج- د کار ارزښت

په هغه صورت کې چې د کار وخت د کار د عامل د مصرف د اندازه کولو په توګه انتخاب شي، نوبه دې صورت کې معیارونه عبارت دي له: د کار وخت، د کار شفت (دوري). د اونۍ او میاشتې مزد کولای شو چې د معین نرخ د مزد او د واحد زمان ځخه لاسته راوړو.

په هغه صورت کې چې:

په واحد زمان کې د مزد نرخ = I

د کار وخت = T

د مزد لګښت = kL

وي، کولای شو چې مزد د وخت په اساس په لاندې ډول ولیکو:

$$K1 = T \cdot I$$

کله چې کار سرته ورسیږي، کولای شو چې د مختلفو کمیتونو له لارې لکه مزد ، ساعت اونور ثابت کړو. د واحد زمان د مزد نرخ د څو مزدونو ځخه جوړ شوی وي، چې په لاندې ډول دی:

معیاری مزد ( دتړون له مخې حد اقل مزد چې موافقه وربانديې شوې وي )

قانوني ټولنیز مزد ( رخصتي اوتفریح )

اضافي مزد، فوق معیاري مزد ( لکه په چټل چاپیریال کې کار کول )

د فعالیت جایزه ( زماني جایزه )

اضافي مزد ( د ښوونې او روزنې په وخت کې )

+ د فعالیت جایزه ( مثلاً جایزه زمانی).

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د فی واحد زمان د مزد نرخ**

که د وخت واحد میاشت اویا کال وي، نوپه دې صورت کې د معاش په اړه خبرې کیږی.
هغه مزد چې دوخت په اساس ورکړل شي، نو د تولید په پروسه کې دکارګرانو د فعالیت توپیر په پام کې نه نیول کیږي. په اقتصادي تصدۍ کې ډیر فعالیتونه دکار د تولید دلاملونو د اندازه کولو په توګه کارول کیږی.

کولای شوچې فعالیت په غیر مستقیم ډول، د تولیداتو د اندازې په واسطه او یا په تعین شوي وخت کې تثبیت کړو. مزد د فعالیت او یا د تولید دفي واحد په اساس ورکول کیږی اویا داچې د ټاکل شوي وخت په اساس په موضوع پورې اړوندکار ترسره کیږي.

ټاکل شوی وخت له هغه معیاري وخت څخه عبارت دی، چې د تصدۍ او د کارګر ترمنځ پرې هوکړه شوې وي.

د فی واحد اکورد عبارت دی له:

$$Kl^{A-S} = \sum_{j=1}^{n} Xj.gj$$

په دې ځای کې:

$=kl^{A-S}$ د في و احد د اکورد مزد.

Xj = د تولید په یو پړاو کې د j ډوله تولید شویو محصولاتو شمیره.

gj= د تولید د في واحد موافقه شوی مزد.

د وقت اکورد عبارت دی له:

$$Kl^{A-z} = \sum_{i=1}^{n} \times j.tj.ij$$

په دې ځای کې:

$Ki^{A-z}$ = د وخت د اکورد مزد

tj= د تولید لپاره ټاکل شوی موافق وخت j

lj= په معین وخت کې د في واحد د مزد ډولونه

ددې لپاره چې دکار د فعالیت قوت د ذکرشوي کمیت په مرسته په دقیق ډول تثبیت کړو، اړینه ده چې د تولید د في واحد د اکورد مزد لپاره معیاري او نورمال وخت وټاکو.

د کار داقتصاد په چوکاټ کې ددې معیارونو د ټاکلو په موخه مختلفې طریقې پرمخ وړل شوې. دې ټکي ته باید پام وکړوچې ټول کارونه د اکورد قابلیت او وړتیا نه لري ، نو په دې اساس

(c) ketabton.com: The Digital Library

دکار فعالیت په دوامداره توګه، دکار د تولید لاملونه د یوه معیاري کمیت په توګه نه کارول کیږي. وړاندیز کوو چې د کار ارزښت دانساني کار داندازه کولود معیار په توګه وکارول شي.

د کار ارزښت د کار له ارزیابي سره نږدې اړیکې لري. د کار د اقتصاد په چوکاټ کې دکار د ارزیابۍ د پرمختګ لپاره ډیرې طریقې راوړل شوې دي.

دکار ارزښت دلاندې کمیتونو څخه په ګټې اخیستنې سره واضح کیږي:

الف- دکار توضیح او موضوع یې.

ب- د توقعاتو( هیلو ) تحلیل.

ج- دکار د توقعاتو ارزیابي.

د کار ارزښت د توقعاتو د مجموعي ارزښت څخه عبارت دی ،چې یوکار د یوې ځانګې په توګه وړاندې کیږي

د انسانی کار د معیاری واحد داندازه کولو په توګه دکار دارزښت اهمیت په دې کې دی، چې د کار د روش ( لارې ) د کمیت ارزښت په پام کې نیول کیږي.

د مزد ژر ژر ورکول، په ځانګړو حالاتو کې د کار په موضوع پورې اړه لري، د مثال په توګه: په نا ارامه چاپیریال کې کارکول ، په جټل چاپیریال کې د کار ترسره کول ، په هغه ځای کی کار کول چې ارتفاع یې لوړه وي او یا په نا مناسب حالت کې کار کول او نور

اضافي مزد هغه وخت ورکول کیږي، چې د کار د تولید عامل په خپل بشپړ قدرت، موجودو شرایطو ته په کتوسره پرمختګ ونه کړي. مثال: خرابو موادو ته په کتوسره په سمه توګه د ماشین کار نه کول اونور.

اضافه کار ، له ورځنۍ رخصتۍ نه وروسته کار ، د رخصتی په ورځو کې د کار ترسره کول او په نورو کې ورکول کیږي. همداراز د اضافه مزد ورکول قانون او مقراراتو ته په کتوسره رامنځته کیږي، چې په دې لړ کې قانوني ټولنیزې مرستې لکه د کار بیمه ، د ناروغۍ بیمه ، د تقاعد بیمه ، کوپون ، ماکولات اونور شامل دي.

**د اضافي عواملو لګښت:** د اضافي عواملو د لګښت په چوکاټ کې د لاندې لګښتونو ډولونه شامل دي.

الف – د مالیاتو مختلف ډولونه.

ب- د محصولاتو مختلف ډولونه.

ج – د سهمیې ( برخې اخیستنې ) مختلف ډولونه.

د – د حقوقي او مالیاتي سلامشورو لګښتونه.

هـ- د کمیشنونو لګښتونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**متفرقه لګښتونه:** په متفرقه لګښت کې ټول هغه لګښتونه چې د موادو ، د تصدۍ د وسایلو ، د پرسونل او نورو لارو له امله منځته راځي نه وي شامل، په پام کې نیول کیږي. مهم ډولونه یې په لاندې توګه بیانیږي.

الف – دخدماتو لګښت، چې په هغه کې د تصدۍ څخه د باندې دترانسپورت په واسطه د متاع لیږدول او پرسونل لیږدول او نور شامل دي.

ب – حقوقي لګښتونه.

ج – دربح لګښت اونور.

**ثابت لګښتونه:** که په یوی تصدۍ کې دمشغولیت درجه بدلون ومومي او په لګښتونو اغیزه وکړي، دغه لګښتونه د ثابتو لګښتونو په نوم یادیږي. د مثال په توګه: د ربحې لګښتونه ، د کرایې لګښت ، او تریوې اندازې د استهلاک لګښت اونور. ځکه که چیرې تولیدات او یا پلورل ډیر او یا لږ وي، نوپه دې صورت کې د ربحې لګښت ، د تعمیر او مغازې په کرایه کې بدلون نه راځي اوپه ثابت حالت کې پاتې کیږي. ثابت لګښتونه هغو لګښتونو ته ویل کیږي، چې د تولید د حجم په بدلون سره، د تولید تر مشخصې کچې پورې په کې بدلون رانه شي.

باید پوه شو، چې په ټولیز ډول ثابت لګښتونه د هغو ځانګړتیاوو لرونکي دي، چې هرکه دغه ځانګړتیاوې د لګښتونو لپاره وارزول شي، نو د لګښتونو د یو ګروپ په توګه یې طبقه بندي کولای شو.

**لومړی داچې:** دغه لګښتونه د تولید په مختلفو سطحو کې په ټولیز ډول ثابت وي.

**دویم داچې:** د ثابت لګښت سهم ( برخه ) د تولید په زیاتوالي سره کمیږي او برعکس.

**دریم داچې:** د دغو لګښتونو د رامنځته کیدو کنټرول د بهرنیو اجرایوي مدیرانو لخوا منځته راځي.

**د دغو لګښتونو غوره او مشخصه ځونه**

د مدیرانو د تولید حقوق، د ماشینونو او ساختمانونو استهلاک ، دماشین آلاتو او ساختمانونو بیمه ، اونور مشابه دي.

د ثابتو لګښتونو په ځانګړتیاوو د لاښه پوهیدو په موخه لاندې لاملونه تر څیړنې لاندې نیسو.

فکر وکړی! دیوې کارخانې د اجارې لګښت ۱۵۰،۰۰۰ افغانۍ دی، په لومړي په ټولیز ډول د اجارې لګښت ثابت دی، یعنې که یوه امتعه اویا ۱۰۰ امتعې تولید شي ، په ټولیز ډول په دې لګښت کې هیڅ ډول بدلونه نه راځي. دویم داچې د تولید په زیاتوالي سره د متاع د هر واحد لګښت، په سهم کې کموالی راځي. فرض کړی چی د کارخانې تولید ۱۰۰ عدده دی، که وغواړو ووایو چې له ۱۵۰۰۰۰ افغانۍ اجارې څخه د هر واحد برخه څومره ده، نو په دې توګه عمل

(c) ketabton.com: The Digital Library

کولای شو. (۱۵۰۰ =۱۰۰÷ ۱۵۰۰۰۰ ) نو په دې توګه به د هرې امتعې بیه ۱۵۰ افغانۍ وي. او که ۲۵۰ عدده امتعه تولید شي، د هر واحد د اجارې برخه به څو افغانۍ وي؟ (۲۵۰÷ ۱۵۰۰۰۰=۶۰۰ ) نو د هر واحد برخه ٦۰۰ افغانۍ تعین کیږي. روښانه شوه چې د واحدونو په ډیرېدو سره ثابت مصارف کمیږي او برعکس د تولید په کمېدو سره د امتعې د هر واحد برخه له ثابتو مصارفو سره پورته خیژي.

**بدلیدونکي (متحول) لګښتونه**

هغه لګښتونو ته ویل کیږي چې مجموعي پیسې یې د تولید د سطحې او د تولید د اندازې له بدلیدو سره بدلون ومومي. یعنې داچې د تولید مقدار اود حجم د زیاتوالي له امله په دې لګښتونو کې زیاتوالی راشي. د دغو لګښتونو ځانګړې ئمونې، مستقیم مواد او مستقیم مزد دی.
مستقیم لګښتونه، ځانګړتیاوې او مشخصات لري چې د دغو لګښتونو د تشخیص لپاره لاندې ټکي راوړل شوي دي.

**اول داچې:** دغه لګښتونه په مجموعي ډول له تولید سره مستقیمه اړیکه لري، یعنې داچې د تولید په زیاتوالي سره زیاتوالی او په کموالي سره یې کموالی منځته راځي.
**دویم داچې:** بدلون موندونکي لګښتونه د ثابتې امتعې یوواحد دی که تولید ډیر یا لږ وي.
**دریيم داچې:** په ساده او آسان ډول د تخصیص وړ دی.

دې ته اشاره وشوه چې ددې مصارفو روښانه ئمونه د تولید د نصرفي موادو مستقیم مصارف او مستقیم مزد دی چې په راتلونکې کې به د بدلون موندونکو مصرفي ځانګړتیاوو په اړه لا ډیر معلومات وړاندې کړو.

فرض کړی چې د ۶ عددو میزونو لپاره $4m^2$ متره مربع لرګي ته اړتیا ده، که وغواړو چې ۱۲ عدده میزونه تولید کړو نو حتماً $8m^2$ متره مربع لرګیو ته چې لومړني مواد او مستقیم تولید شمیرل کیږي اړتیا ده. تاسوګورئ چې دتولید په زیاتوالي سره د مستقیمو موادو لګښت هم په ټولیز ډول زیاتوالی پیداکوي، خو باید پام وکړی چې د یوه میز د جوړولو لپاره $1,5m^2$ متره مربع لرګیوته ضورت لرو، (۶÷۱,۵=۴) هیڅکله د تولید په زیاتوالي سره د یوواحد په مستقیمو موادو کې بدلون نه راځي، یعنې د یوه میز جوړول حتماً $1,5m^2$ مترمربع لرګیوته اړتیا لري او په لږو لرګیو نه شو کولای ډیر میزونه جوړکړو، له همدې امله مستقیم لګښت او مستقیم مواد په یوه ثابت واحد کې وي.

له بلې خوا دغه لګښت په اسانۍ سره د محصول په جوړولو کې تعقیبیږي لکه مصرفي لرګې چې د میز په جوړولو کې ورځخه کار واخیستل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**نیمه بدلیدونکي لګښتونه**

ددغه لګښتونو ځینې برخې په متغیر او ثابت شکل جوړې شوې وي. دغه لګښتونه په داسې شکل وي چې د تولید په زیاتوالي یا کموالي سره یې په ثابته برخه کې بدلون نه راځي.

**د مثال په توګه:** د کارخانې برښنا ، هغه برښنا چې د صالون د روښانه کولو له پاره ورځخه کار اخیستل کیږی، تقریبا ثابته وي، که تولید زیاد وي او که کم، خو د ماشینونو برښنا دتولید په کموالي او یا زیاتوالي سره یوشان وي، له همدې امله دکارخانې د برښنا دغه لګښت ته نیمه بدلون موندونکی لګښت ویلای شو.

**ثابت لګښتونه په خپل ذات کې په درې برخو ویشل شوي دي.**

۱- الف ۳ ) د کار خانې د وړتیا ثابت لګښتونه.

۲- الف ۳ ) د ګټې اخیستنې ثابت لګښتونه

۱- الف ۳ ) د پلان جوړولو ثابت لګښتونه

**۱- الف ۳) د کارخانې د ظرفیت ثابت لګښتونه:** دکارخانې د ظرفیت ثابت لګښتونه هغه لګښتونه دي، چې د کارخانې له وسایلو او امکاناتو سره مستقیمه اړیکه ولري. دماشینونو، وسایلو او تاسیساتو استهلاک د کارخانې د ثابتو لګښتونو له ډلې ځخه شمیرل کیږي.

**۲- الف ۳ ) د ګټې اخیستنې ثابت لګښتونه:** داهغه لګښتونه دی چې د تولیداتو د وسایلو له ساتنې سره مستقیمه اړیکه لری، لکه د ساختمان ، ماشینونو او وسایلو د بیمې لګښتونه.


**۳ الف ۳) د پلان جوړونې ثابت لګښتونه:** هغه ثابت لګښتونه دي، چې د کارخانې د مدیرانو د تصمیمونو په نیولو پورې اړه لري اود راتلونکي پلان جوړونې لپاره رامنځته کیږي. لکه د تحقیق او څیړنې پلانونه ، تبلیغات او بازار موندنه او نور. که وغواړو چې ثابت بدلون موندونکي او نیمه بدلون موندونکي ثابت لګښتونه په روښانه ډول وښیو، لاندې شکل ته ځیر شی!

**د بدلون موندونکو لګښتونو شکل**




(c) ketabton.com: The Digital Library

۱- د بدلون موندونکو لګښتونو شکل




بدلون موندونکي لګښتونه




د نیمه بدلون موندونکو لګښتونو شکل

**مشترک لګښتونه**

له ټولو هغو لګښتونو څخه عبارت دي، چې په مستقیم ډول د تولید له  فی واحد یا له متاع سره نه ارزول کیږي، بلکې په ټمام شوي قیمت کې د فیصدۍ د یو تناسب په اساس زیاتیږي.

په تجارت کې ټول لګښتونه ( د تهیې له قیمت پرته)  د مشترکو مصارفو په نوم یادیږي، چې دغه لګښتونه د اداري د عمومي لګښتونو یا د سوداګرۍ لګښتونو په نوم هم یادولای شو.  معاشونه ، مالیه ، د سوزولو استهلاک ، ټولنیز لګښتونه ، د ترمیم لګښتونه او نور.

په صنایعو کې له تکمیلی مزد ، تکمیلي موادو ، او یا د ځانګړو انفرادي لګښتونو پرته نور ټول لګښتونه د مشترکو لګښتونو په نوم یادیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**انفرادي لګښتونه**

له ټولو هغو لګښتونو څخه عبارت دي چې د تولید په فې واحد په مستقیم ډول د ویش وړ وي او په دقیق ډول معین شي چې په تجارت کې دغه لګښتونه د امتعې د قیمت په نوم یادیږي او په صنایعو کې له تکمیلي مزد او تکمیلي موادو څخه عبارت دي.

**د دوهم څپرکي د مطالبو لنډیز**

**د لګښت ډولونه**

**۱- دموادو لګښت:** د لګښت په دغه ګروپ کې ، د خامومواد لګښت ، د کمکي او د تصدي د کمکي موادو لګښت شامل دی او د ارزونې په چوکاټ کې مواد تثبیت کیږي.

د موادو لګښت په لاندې برخو ویشل کیږي.

الف – په کار اچول شوي مواد ( د تولید په ساحه کې )

ب – کوچینۍ او معیاري څانګې ( د تولید په ساحه کې )

ج – انقرادي برخې چې دتصدي د باندې چمتو کیږی.

د – تجارتي متاع ( په تجارتي تصدیو کې )

ه – کمکي مواد

و – د تصدۍ مواد چې د سون او انرژۍ مواد پکې شامل دي.

**د تصدۍ د وسایلو لګښت**

دغه ډول لګښت دتصدۍ د وسایلو د ارزولو په چوکاټ کې تثبیت کیږي.

په دې صورت کې په عمومي ډول د استعمال وړ لاملونه په پام کې نیول کیږی، چې د تولید په څو دورو کې ورڅخه ګټه اخیستل کیږي، نو له دې امله باید د تولید د عواملو استهلاک د تولید په وخت کې وارزول شي.

داموضوع له یوې خوا د دستګاګانو ټولیز قدرت او له بلې خوا د یو پړاو د ستګاګانو استهلاک د روښانتیا له پاره په لاره اچول کیږي.

**د پرسونل لګښت**

دغه لګښت د انساني کار د تولید د کار لپاره رامنځته کیږي او د مزد او معاش په چوکاټ کې تثبیت کیږي. په اقتصادي آثارو کې د کار د عامل لپاره لاندې معیارونه په پام کې نیول کیږي.

الف – د کار وخت

ب – د کار فعالیت

ج- د کار ارزښت

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د اضافي عواملو لګښت**

د اضافي عواملو د لګښت په چوکاټ کې لاندې لګښتونه هم شامل دي.

الف – د مالیاتو بیلابیل ډولونه

ب – د محصولاتو بیلابیل ډولونه

ج – د برخې اخیستنې بیلابیل ډولونه

د – د حقوقي او مالیاتي سلامشورو لګښتونه

ه – د کمیشنونو لګښتونه

**متفرقه لګښتونه**

په متفرقه لګښتونو کې ټول هغه لګښتونه چې د موادو په لګښت ، د تصدي د وسایلو په لګښت ، د پرسونل لګښت ، او د اضافي عواملو لګښت شامل نه وي، په پام کې نیول کیږي. مهم ډولونه يې لاندې بيانيږي.

الف – د خدماتو لګښت چې په هغه کې د تصدي د باندې د ترانسپورت په واسطه د متاع او پرسونل لیږدول او نور شامل دي.

ب – حقوقي لګښتونه

ج – د ربحې لګښت اونور

**ثابت لګښتونه**

د لګښتونو هغه برخه چې دتولید د عواملو د استخدام د سطحې د بدلون له امله په کې بدلون نه راځي د ثابتو لګښتونو په نوم یادیږي. لکه د ځمکې چمتوکول ، ساختمان ، ماشینونه اونور چې په یوه معین وخت کې يې د تولید اندازه او بدلون پرې اغیزه نه کوي.

**متغیر لګښتونه**

د لګښتونو هغه برخه چې د تولید د عواملو د استخدام په سطحه کې د بدلون له امله په کې تغیر راځي، د بدلون موندونکو لګښتونو په نوم یادیږي. لکه د خامومواداو لګښت (په هره اندازه چې لرګي زیات وي، د میزونو او څوکیو شمیر هم زیاتیږي).

**مشترک لګښتونه:** له ټولو هغو لګښتونو څخه عبارت دي، چې په مستقیم ډول د تولید په فې واحد اویا متاع سره نه ارزیابي کیږی، بلکې د تمام شوي قیمت د فیصدۍ دتناسب په اساس زیاتیږي ، په تجارت کې د تهیه کولوله قیمت پرته نور ټول لګښتونه د مشترکو لګښتونو په نوم یادیږي.

**انفرادي لګښتونه:** له ټولو هغو لګښتونو څخه عبارت دي چې د تولید په فې واحد باندې په مستقیم ډول وویشل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د دویم څپرکي پوښتنې**

ا- د موادو لګښت په کومو برخو ويشل شوې؟
۲- د تصدۍ د وسايلو لګښت بيان کړئ؟
۳- د ګټې اخیستنې د فرسايش فورمول وليکی؟
۴- د پرسونل لګښت بيان کړئ؟
۵- دتصدۍ په آثارو کې د کار د عواملو د اندازه کولو د معيارونو نومونه واخلی؟
۶- د اکورد مزد په اړه معلومات ورکړئ؟
۷- د اضافي عواملو د لګښت په چوکاټ کې د لګښت کوم ډولونه شامل دي، نومونه يې واخلی؟
۸- متفرقه لګښتونه تعريف کړئ؟
۹- ثابت لګښت تعريف کړئ؟
۱۰ – بدلون موندونکی لګښت څه ته وايي؟
۱۱- د نيمه بدلون موندونکي لګښت په اړه معلومات ورکړئ؟
۱۲- د مشترک او انفرادي لګښتونو ترمنځ څه فرق دی؟
۱۳- د لګښت فورمول وليکی.
۱۴- د في واحد د لګښت فورمول وليکی؟
۱۵- په لاندې جدول کې د في واحد ثابت لګښتونه پيداکړی.
۱۶– د في واحد لګښتونه موجی پيداکړل, هغه په ګراف کی وښيی؟

| د تولید اندازه | | | د فی واحد تولیدثابت مصارف |
|---|---|---|---|
| 12000 | 100 | = | |
| 12000 | 200 | = | |
| 12000 | 300 | = | |
| 12000 | 400 | = | |
| 12000 | 500 | = | |
| 12000 | 600 | = | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# درېيم څپرکی

## د لګښتونو د سنجونې مهم او عمده موضوعات

**ټولیزه موخه:**
په خدماتي موسسو او صنعتي تجارت کې د لازمې توانايي او معلوماتو درلودل.

**د زده کړې موخې:** محصلین به د دې فصل په پای کې په لاندې مطالبو وپوهیږي:

- د بشپړ شوي قیمت د ځای په اړه معلومات.
- د سنجیدونکي استهلاک په اړه معلومات.
- د بیلانسي استهلاک په اړه معلومات.
- د سنجیدونکو ګواښونو په اړه معلومات.
- د سنجیدونکې کرایې په اړه معلومات.
- د تصدۍ د سنجیدونکي مزد په اړه معلومات.

**د تمام شوي قیمت د پلي کیدو ځای:**
د تمام شوي قیمت د پلي کیدو ځای په عمومي توګه په دریو برخو ویشل کیږي.
۱- خدماتي موسسې.
۲- سوداګریزې موسسې.
۳- صنعتي موسسې.

**خدماتي موسسې**
هغو موسسو ته ویل کیږي چې مشتریانو ته د کار ، مزد ، حق الزحمې، معاش او ګټې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

مقابل کې خدمات وړاندې کوي  او یا هغوموسسو ته ویل کیږي چې خدمات یې  د خدمت په شکل وړاندې کیږي.  د مثال په توګه بانکي موسسې ،  مواصلاتي او بیمه یي موسسې.

**سوداګریزې موسسې**

هغو موسسو ته ویل کیږي چې  د یوډول خامو موادو پلورل او پیرودل ، او همداراز نور وسایل اخلي او بیايي پلوري ، یا  هغو موسسو ته ویل کیږي چې د عمومي اقتصاد له پلوه د متاع د ویشلو لپاره خدمت کوي.

**تولیدی موسسې**

هغو موسسوته ویل کیږي چې دماشین آلاتو ، وسایلو او انساني قوت څخه په ګټې اخیستنې سره مصرفي وسایل تولیدوي او خپل تولیدات سوداګریزو موسسو او په مصرف  کوونکو باندې پلوري. مثال د حاجی زاده د چای تولیدي موسسه.

**سنجشي استهلاک  ( بیلانسی استهلاک ، کلکولاتوري، بیلانسي فرسایش )**

دغه فرسایش یا خرابیدل  کیدای شي ترڅو د ثابتې شتمنۍ د حقیقي ارزښتونو کموالی ثابت او د لګښت په توګه وسنجول شي.

فرسایش یاخرابوالی د تهیه کولو ټول لګښتونه ثابتوي او هغه وخت ټامیږي چې د څو کلونو په موده کې اساسي لګښتونه ثابت شي.   په دې صورت کې د تهیه کولو ټول لګښتونه په پام کې نیول کیږي.

هرکله چې یوه متاع یا وسیله د ګټې اخیستنې له مودې وروسته هم د ګټې اخیستنې وړ وي، نو په دې صورت کې نوموړې متاع یا وسیله په یو قیمت د خاطره قیمت په توګه په بیلانس کې تثبیت کیږي.

د کلکولاترۍ مقیاس فرسایش یاخرابیدل باید داسې رامنځته شي چې د اصلي شتمنۍ ساتل امکان ولري د بیلانس فرسایش د تهیې د مصارفو  استهلاک شوې مجموعه په بر کې  نیسي او هغه وخت ختمیږي چې د اساسي مصارفو پلان شوي کلونه پای ته ورسیږي. په دې توګه په استهلاک شویو سیالو وسایلو کې راځي. هغه وخت  چې یوه متاع د استفادې وړ له ټاکلې مودې څخه وروروسته هم د ګټې اخیستنې وړ وي، په دې توګه دا متاع د ( یوه ) قیمت په توګه د خاطروي قیمت په برخه کې په بیلانس کې درج کیږي. خو که په کلکولاترۍ فرسایشونو کې د فرسایش مصارف هم پای ته ورسیږي، بیا هم نه ختمیږي، بلکې تر هغه وخته ادامه مومي، تر څو چې کار ورڅخه اخیستل کیږي. یوه مصرف شوې دارایي هغه  مهال بیا جوړیږي چې قیمتونه یې یوشان پاتې شي. خو که استهلاک ډیر وي او په سمه توګه کار ورنه کړي، ښه به دا وي چې نوي وسایل واخیستل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د بیلانس او کلکولاتورۍ فرسایشونو ترمنځ د علتونو مختلفې اندازې په لاندې ډول دي.

۱- د  هدف تعقیبول چې یو قلم شتمنۍ ته ارزښت ورکړل شي او بیا د لګښتونو په کتار کې راوستل شي، چې په دې کار کې اختلاف هم شته ځکه د ساتنې د بیلانس په پرنسیب کې د شتمنۍ نوم باور لري، یعنې مجموعي فرسایش باید  د تهیه شوي لګښت څخه پورته نه شي. د مصارفو سنجش تل متقابله وي،  دا موضوع په هغو قیمتونو کې چې صعودي سیر ولري، یو صعود او په هغو برخو کې چې نزولي سیر ولري، د کلکوتوري په فرسایش کې یو اعتدال مینځته راوړي.

۲- د ثابتې دارایي د عمر تخمنيي غلط تثبیت  د بیلانس ټول فرسایشونه او کلکولاتوري له یو بل څخه تفریق کوي، ځکه د کلکولاتوري د  فرسایش د تمیزولو له کارونو وروسته د مصارفو چمتو کول دوام پیدا کوي.

۳- کله چې د مصارفو د بیلانس او سنجش په برخه کې د فرسایش میتودونه مختلف وي ( مثلا په بیلانس کې نزولي طریقه، د مصارفو په سنجش کې خطي میتود ) نو په دې صورت کې د بیلانس په هره حسابي دوره کې د فرسایش برخې هم توپیر پیدا کوي.
د بیلانس د فرسایش تخنیکي او محاسبوي تجدید اوهمدار از کلکولاتوري  د سرته رسولو په وخت کې په لاندې ډول ده.

**مثال:**



(c) ketabton.com: The Digital Library

**دکلکولا توري ربح (د سنجیدو ربح)**

د حساب په پایله کې یواځې د ربحي پیسې چې د سرمایې لپاره نه وي ورکړل شوی د مخارجو په توګه سنجول کیږي.

د تصدۍ ثابت ارقام او د تصدۍ د شتمنۍ ثابت فکتورونه په عمومي ډول د تصدۍ عمومي شتمنۍ جوړ وي.

د تصدۍ د اړتیا وړ ثابت څو قلمه شتمني او همدارازد تصدۍ د اړتیا وړ سیاره شتمني په ګډه سره د تصدۍ عمومي شتمني جوړه وي. له همدې د هغو شتمنیو برخې چې په تصدۍ کې په نظر کې نیول کیږي، د استفادې وړ دي. شتمنیو ته د ارزښت ورکونې په وخت کې د بیلانس د اقلامو ارزښت په پام کې نه نیول کیږي، بلکې د ثابتو شتمنیو په اقلامو کې د کلکولاتوري د پاتې شوي ارزښت څخه استفاده کیږي.

د تصدۍ د غیر ضروري شتمنیو د اقلامو برخه لکه: د استفادې وړ کرنیزې ځمکې، هغه ماشینونه چې نه وي کارول شوي، قیمتي پاڼې او نور، په دې برخه کې اشتراکات که د تصدۍ تولیدي عملیې(لکه عمودي کانسرن) سره اړیکه ونلري، د انفکاک او اغماض وړ نه دي.

د ګرځنده شتمنۍ اقلام د (قاعده + اخراج) پر بنسټ د تصدۍ لازمه برخې نه دي او نشي کیدای، څو هغه له داسې مبالغو سره شي، چې په اوسط ډول د مقیدو حسابونو د وخت په اوږدو کې ځای ولري.

د تصدۍ د لازمي ثابتې شتمنۍ اقلام او د سیارې شتمنۍ اقلام په ګډه د تصدۍ عمومي شتمني نه تشکیلوي. د شتمنۍ له ارزښتونو نه همغه پانګه موضوعي کیږي(موضوعي شوې پانګه) چې له ربح پرته د تصدۍ سره شتون ولري. مثلاً د پیرودونکي له خوا تادیات ددې لپاره چې ځینې مبالغ د موضوعي شوې پانګې په توګه سنجول کیږي، باید دا ډول تعبیر نشي، چې ګواکې هیڅ ډول ګټه دې ډول پانګې نه تادیه کیږي. په رښتیا سره ګټه نه عرض اندام کیږي، خو کله چې له ضروري شتمنۍ نه د تصدۍ موضوعي شوې لازمي پانګه وضع شي، په دغسې حالت کې د تصدۍ (لازمه) پانګه لاس ته راځي. د هیواد له مروجه ربحې سره دومره ربح ګذاري، د کلکولاتوري ربح تشکیلوي.

مثال:

| لومړی: ثابته شتمني |
| --- |
| د تصدي اړینه شتمني ( د کلکولاتورۍ پاتې ارزښتونه ) |
| الف: ځمکې او تعمیرونه - 200000 |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| |
|---|
| ب: ماشینونه - 500000 |
| ج: د کار وسایل – د دفتر وسایل -800000 /100000 |
| ثابته اړینه شمني 800000/8000000 |
| **دویم: سیاره شتمني :** |
| د تصدۍ اړینه شتمني د کلکولاتورۍ منځني ارزښتونه |
| الف: زیرمې– 300000 |
| ب: غوښتنې – 150000 |
| ج: د ورکولو وسایل - 100000 /550000 |
| د تصدۍ اړینه او سیاره شتمني 550000/550500 |
| د تصدۍ لومړنۍ او دوهمه اړینه شتمني (اول + دوهم ) - /1350000 |
| موضوعی شتمنی () -/ 150000 |
| د تصدۍ اړینه شتمني - -/1200000 |
| ا ددې شتمنۍ لپاره b % ربح ارزول کیږي - / 84000 میاشتنۍ = 7000 ربح کلکولاتوری |

**د متصدي کلکولاتوري مزد( د متصدي سنجول شوی مزد)**

د افرادو او اشخاصو په شرکتونو کې د تصدۍ کارمندانو او یا هم د کورنیو غړو ته هیڅ ډول معاش نه ورکول کیږي، بلکې د کال په پای کی د شریکانو د برخو په اساس د عوایدو په توګه پیژندل کیږي. همدارنګه د شخصي سرمایې ربح د کلکولاتوري په ربح کې د مصارفو په توګه سنجش کیږي.

باید د تصدۍ د منجمنت د فعالیتونو پاداش هم د مصرف د لامل په توګه تر سنجش لاندې راوستل شي.

په سرمایوي شرکتونو کې د تصدۍ مزد دومره ستونزې نه جوړوي، ځکه چې مدیره هیت په خپله معاش اخیستونکي دي. په دې ډول شرکتونو کې دتصدي مزد د مفادو په توګه را څرګندیږي او د عوایدو په برخه کې راځي.


(c) ketabton.com: The Digital Library

**د کلکولاتوري داحتمالي زيانونو زياتوالی**

په تصديو کې له فعاليتونو سره زيان او خطر تړلی دی، د ډيرو دا ډول خطرونو او زيانونو د پيښيدو ( وخت او ځای ) وړاندوينه ستونزمن کار دی، له همدې امله د تصدۍ په پيش بيني شويو او احتمالي خطرونو کې توپير وجود لري.

احتمالي خطرونه د تصدي هر يوه کارمند او د تصدي وسايلو ته پيښيدای شي، خو عمومي خطرونه د تصدۍ عمومي ودې او انکشاف ته متوجه دي او دې موضوع ته مخکې له مخکې له مصارف په پام کې نيول شوي وي او د مفادو له برخې تامين کيږي. د تصدۍ عمومي خطرونه د نزولي حالات، په تقاضا کې ناڅاپي بدلون، د پولي ارزښتونو تنزيل، تخنيکي پرمختګونه او نور شامل دي.

| د ۱۵۰۰ مارک د بيلانس فرسايش، د ۱۰۰۰ مارک کلکو لاتوری فرسايش | | | |
|---|---|---|---|
| د حساباتو کلاس | | | |
| ۹ | ۴ | ۲ | صفر |




خو په خاصو او ناڅاپي خطرونو کې اور اخيستنه، زلزله، غلا، ټکرونه ، د طلباتو له منځه تلل او نور يادولای شو.

ځيني نور خطرونه هم شته، مثلاً: د جهازونو ورکيدل، د معدن د صنايعو خسارات، د استخراج زيانونه ، طبيعي ګازونه، ګرانتې ژمنې او داسې نور کارونه چې په تحقيقاتي او علمي چارو کې تر سره کيږي.

د خاصو خطرونو پايلې ژر نه معلوميږي، بلکې د وخت په تيريدو سره خپلې اغيزې پر ځای پريږدي. احتمالي خطراتو ته په حسابونو کې ځای ورکول کيږي او د مصارفو وړاندوينه يې تر سره


(c) ketabton.com: The Digital Library

کیږي. دا ډول وړاندوینې ډیر وخت په هغو شرکتونو کې وي چې ډیره سرمایه ولري او د کاروبار هر اړخ یې په پام کې نیولی وي.

**مثال:** د ګدام موجوده خطرونه (د خامو موادو د زیرمې کموالی، د اضافه والي اساس) تولیدي مواد

| | |
|---|---|
| په پنځو کلونو کې په ګدام کې د موجوده موادو مقداري او رښتین کموالی ۲۰۰۰۰ | |
| په پنځو کلونو کې د تولید مواد ۸۰۰۰۰۰ | |
| د خطرونو اضافه مصارف | ۱,۵ ٪ |
| په یوه میاشت کې د ګدام خطرونه | |
| د تولید مواد: | ۱۵۰۰۰ |
| د کلکولاتوري اضافه مضارف ۱,۵ ٪ فصیده | ۲۲۵ |

| د حساب کلاس | | | |
|---|---|---|---|
| ۹ | ۴ | ۳ | ۲ |




د نتیجې په حساب کې یواځې د واقعي وارده مصارفو مخارج موثره دي، خو د کلکولاتوري د مصارفو کمول، تمام شوي لګښتونه لوړوي او د نتیجې په حساب کې د مخارجو په پاڼه کې له مینځه ځي او مصرف یې د خرڅلاو په عوایدو کې شاملیږي.

**د کلکولاتورۍ کرایه ( سنجیدونکې کرایه )**

لکه څرنګه چې د تصدۍ او د کارکوونکو مزد په خپله تصدۍ کې باید په پام کې ونیول شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدارنګه نور لګښتونه هم د هغو اطاقونو لپاره چې تصدي يې د خپل عمارت په توګه کاروي، د سنجش وړ دي. متصدي د عمارت کرايه د ځان له پاره نه ورکوي، د کلکولاتوري کرايې د يوه عمارت د اطاقونو د کرايو له مخارجو سره مطابقت کوي.

**د درېيم څپرکي د مطالبو لنډيز:**

۱- د ټمام شوي قيمت د پلي کولو ځای

د ټمام شوي قيمت د پلي کولو ځای په عمومي ډول په درې ګروپونو ويشل کيږي:

الف – خدماتي موسسې

ب – تجارتی موسسې

ج – صنعتي موسسې

**۲-سنجيدونکی استهلاک او بيلانسي استهلاک ( بيلانسي فرسايش):** بايد چې د فرسايشي بيلانس او د ارزول کيدونکي بيلانس فرق وکړو. د بيلانس فرسايش (خرابوالی) د مالياتي او تجارتي قوانينو په پام کې نيولو سره ارزول کيږي او د مالي محاسبې په چوکاټ کې ددرېيمو اشخاصو لپاره د اهميت وړ دي.

د کلکولاتوری فرسايش د لګښتونو د ارزولو په چوکاټ کې د تصدی د هغو وسايلو لپاره ارزول کيږي چې د توليد په موخه په تصدی کې اړين وي.

د فرسايش په ارزيابی کې بايد درې ټکو ته پام وشي:

۱- د فرسايش طريقه.

۲- د فرسايش عوامل

۳- هغه پيسې چې له هغه څخه فرسايش ارزول کيږي.

د فرسايش د ارزولو طريقه عبارت ده له:

۱- د فرسايش خطي طريقه.

۲- د فرسايش نزولي طريقه

۳- د فرسايش صعودي طريقه.

د فرسايش عوامل عبارت دي له:

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۱- اقتصادی عوامل:**

**مثال:** د تقاضا یا غوښتنې بدلون او تخنیکي پرمختګ د وسایلو د فرسایش لامل ګرځي.

**۲- د ګټې اخیستنې عوامل:**

د یوې دستګاه څخه د ګټې اخیستنې له امله فرسایش رامنځته کیږي.

**۳- د وخت عوامل:**

مثال د اجارې تړون ، اونور عوامل د فرسایش د رامنځته کیدو لامل ګرځي.

پورتنې عوامل په مشخصه توګه د یوې دستګاه د فرسایش لامل ګرځي ، فرسایش له نورو لارو هم کولای شوچې تصنیف کړو، لکه کولای شو چې فرسایش د وخت په فرسایش ، اود ګټې اخیستنې په فرسایش وویشو.

۱- د وخت فرسایش د ثابتو لګښتونو په توګه سنجول کیږي. د فرسایش دغه میتود په عمل کې زیات کارول کیږی او په تصدیو کې یې د پلي کیدو امکان ډیر پرمختګ کوي، چې د وسایلو ارزښت کموي.

۲- د استفادوي فرسایش، د متحول لګښت په توګه سنجول کیږي. استفادوي فرسایش له متحول فرسایش سره ( د فعالیت اړوند) د تصدۍ هغو وسایلو لپاره اړین دي، چې د استفادوي ارزښت کموالی، یوازې د تولید په پروسه کې د تولیدی عواملو په سیخې کارونې پورې اړه لري. د یوې دورې د فرسایش مبلغ داسې سنجول کیږي، چې لومړی ټول ارزښت پر محصولاتو چې د دستګاه د استفادې دوره د حصول وړ وي، ویشل کیږي او بیا د همغې دورې په تولیداتو کې ضربیږي.

۳- ویشل شوی ( فرق لرونکی ) فرسایش: په دې صورت کې فرسایش په ثابتو او بدلون موندونکو برخو سره جلاکیږي ، د فرسایش دغه میتود په هغو تصدیو کې کارول کیږي چې د ارزښت کموالی یی له یوې خوا د وخت د جریان تابع وي او له بلې خوا د ګټې وړ وي.

فرسایش په هغه ترتیب سنجول کیږی چې یوه برخه یې د ثابتو لګښتونو په توګه او بله برخه یې د بدلون موندونکو لګښتونو په توګه وسنجول شي. مثال یې ترانسپورټي موسسې دي چې یوه برخه یې د ثابتو لګښتونو او د طریقې په توګه سنجول کیږي اوبله برخه یې بدلون موندونکي لګښتونه دي چې دهمدغو لګښتونو په توګه معامله کیږي.

د فرسایش د لګښت په ارزولو کې معمولا له نوي قیمت څخه ګټه اخیستل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**مثال:** د یوه ماشین د چمتو کولو قیمت ۱۰۰۰۰ افغاني دی، د بیلانس فرسایش یې ۲۰۰۰ افغانۍ او همداراز تخمیني فرسایش یې ۱۸۰۰ افغانۍ دی، چې په لاندي جدول کې بیانیږي.

| Dr (۲) براوردي فرسایش Cr | |
|---|---|
| ۱۸۰۰(۲ | S)۱۸۰۰ |
| ۱۸۰۰ | ۱۸۰۰ |

| Dr (۱) بیلانسي فرسایش Cr | |
|---|---|
| ۲۰۰۰(۱ | S)۲۰۰۰ |
| ۲۰۰۰ | ۲۰۰۰ |

| Dr ( )تخمینی فرسایش Cr | |
|---|---|
| S)۱۸۰۰ | ۱۸۰۰(۲ |
| ۱۸۰۰ | ۱۸۰۰ |

| Dr (ماشین Cr | |
|---|---|
| ۱۰۰۰۰(۱ | S)۸۰۰۰<br>۲۰۰۰(۱ |
| ۱۰۰۰۰ | ۱۰۰۰۰ |

| ۲ (Dr دتصدی نتیجهCr | |
|---|---|
| ۱۸۰۰(۲ | S)۱۸۰۰ |
| ۱۸۰۰ | ۱۸۰۰ |

| ۲) Drبې طرفه نتیجه Cr | |
|---|---|
| ۲۰۰۰(۲ | S)۲۰۰<br>S)۱۸۰۰ |
| ۲۰۰۰ | ۲۰۰۰ |

| P د پای بیلانس A | |
|---|---|
| ۸۰۰۰ ماشینی | |
| | |

| De ګټه او زیان Cr | |
|---|---|
| ۲۰۰ بې طرفه نتیجه<br>دتصدی‌نتیجه۲)۱۸۰۰ | S)۲۰۰۰ |
| ۲۰۰۰ | ۲۰۰۰ |

**د ربحې براورد**

ربح د په لاس کې لرونکي سرمایې د پاداش څخه عبارت ده. د لګښتونو په سنجونه کې تخمینی ربح په پام کې نیول کیږي چې په اساسي توګه سنجول یې د تصدۍ د پام وړ شتمنۍ څخه عبارت ده او د تجارتي او مالیاتی بیلانس له ارزښت سره نه یوځای کیږي ، ځکه په دې بیلانسونو کې له یوې خوا کم ارزښته اقتصادي متاع نه درجیږي او له بلې خوا دتصدۍ د اړتیا وړ شتمنی یوه برخه نه معلومیږي. حال داچې د غیر شتمنۍ لپاره د تادیه شوې واقعي ربح په محاسبه کې په پام کې نیول کیږي او د مخارجو په توګه معامله کیږي. د ربح د تثبیت لپاره باید د تصدۍ د اړتیا وړ شتمني چې د تصدۍ د موخو لپاره په کار اچول کیږي، په پام کې نیول کیږي. د هغو د تثبیت اساس د تصدۍ د اړتیا وړ شتمني دی او د تجارتي او مالیاتي ارزښتونو سره ورته والی نه مومي. ځکه چې په دغو بیلانسونو کې له یوه پلوه کم ارزښته اقتصادي امتعه اصلاً درج شوې نه ده او

(c) ketabton.com: The Digital Library

له بل پلوه د تصدۍ د اړتیا وړ یوه برخه شتمني لکه مخفي شتمني او نور په دغه بیلانس کې نه راڅرګندیږي. د ربح د لګښتونو د سنجولو لپاره باید له یوه پلوه د تصدۍ د اړتیا وړ ثابته شتمني او له بل پلوه د تصدۍ د اړتیا وړ ګرځنده شتمني په پام کې ونیول شي. دا چې ګرځنده شتمني د کال په اوږدو کې په دوامداره توګه په بدلون کې ده، نو کلنی وسطي ارزښت یې په پام کې نیول کیږي. د تصدۍ د اړتیا وړ ثابتې او ګرځنده شتمنۍ ټول ارزښت، د شتمنۍ له هغې برخې نه چې له پاداش پرته تصدۍ ته ورکړ شوی، کمیږي. له ګټې پرته پورونه، د پیرودونکو وړاندې(پیشکي) ورکړه او د استوونکو پورونه د همدې شتمنۍ له جملې څخه دي.

د ربح د ثابت لګښت لپاره باید د تصدۍ د اړتیا وړ شتمني له نرخ سره ضرب کړو.

مثال: د تصدۍ د اړتیاوړ سیاره شتمني ۱۸۰AF ده په داسې حال کې چې د تصدۍ د اړتیاوړ ثابته شتمني ۳۴۰AF ده. له ربحې پرته قرض ۱۰AF دی مشتریانو ته مخکې ورکړل شوی پیسې ۱۵ AF او قرض لیږدونکي پیسې ۱۵AF دی. او هغه سرمایه چې د هغې لپاره ربح ورکول کیږي ۱۶۰AF ده.

په دې صورت کې واقعي ربح او تخمیني ربح په لاندې جدول کې بیانیږي.

| | |
|---|---|
| = ۱۸۰+۲۴۰ =۵۲۰ Afg | د تصدۍ د اړتیا وړسرمایه |
| = ۱۵+۱۰ +۱۵= ۴۰ Afg | د تقلیل وړ اقلام |
| = ۵۲۰ -۴۰ = ۴۸۰ Afg | د تقلیل وړ اقلامو له وضع کیدو وروسته د تصدۍ د اړتیاوړ سرمایه |

$$\text{اتکلي ربح} = \frac{۴۸۰\times۹\times۱}{۱۰۰} = ۴۳,۲۰$$

$$\text{واقعي ربح} = \frac{۱۶۰\times۱۰\times۱}{۱۰۰} = ۱۶$$

| کیسه | | | | | واقعي ربح | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱۶(۱ | S)۱۶ | | | | S)۱۶ | ۱۶(۱ |
| ۱۶ | ۱۶ | | | | ۱۶ | ۱۶ |

| مصحح ربح برآوردی | | | | | ربح برآوردی | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۴۳,۲۰(۲ | S)۴۳,۲۰ | | | | S)۴۳,۲۰ | ۴۳,۲۰(۲ |
| ۴۳,۲۰ | ۴۳,۲۰ | | | | ۴۳,۲۰ | ۴۳,۲۰ |

| بی طرف نتیجه | | دتصدي نتیجه |
|---|---|---|

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| مصحح ربح ۴۳,۲۰ | واقعی ربح ۱۶<br>S) ۲۷,۲۰ | | | | S)۴۳,۲۰ | ربح برآوردی۴۳,۲۰ |
| ۴۳,۲۰ | ۴۳,۲۰ | | | | ۴۳,۲۰ | ۴۳,۲۰ |

| گټه او زیان | |
|---|---|
| بی طرفه نتیجه ۲۷,۲۰<br>S)۱۶ | دتصدی نیتجه ۴۳,۲۰ |
| ۴۳,۲۰ | ۴۳,۲۰ |

**تخمیني ګواښونه ( ریسک )**

په دایمې ډول د یوې تصدۍ د راتلونکي پرمختګ د فعالیت په اړه معلومات نشته او د همدې ډاډګیرنې د نه شتون له امله د تصدۍ پروړاندې مختلف ګواښونه رامنځته کیږي.
د تصدۍ د ګواښونو په اړه باید د تصدۍ د عمومی او خصوصي ګواښونو فرق وکړو.

د تصدۍ عمومي ګواښونه د تصدۍ د نفوذ دباندې ساحه کې ځای لري او د وړاندینې پرته د تصدۍ ګواښونو څخه بحث کوي لکه ، انفلاسیون ، د تقاضا ناڅاپي بدلون ، تخینکي پرمختګ اونور ، دغه ډول ګواښونه د سنجونې وړ نه دي او د لګښتونو په سنجولو کې په پام کې نه نیول کیږي.

په داسې حال کې چې د تصدۍ خصوصي ګواښونه د تصدۍ په هرې څانګې پورې اړه لري او د تخمیني ګواښونو د لګښتونو په سنجولو کې په پام کې نیول کیږي. لکه موجود ګواښونه ، د ثابتې شتمنۍ ګواښونه او نور.

تخمیني کرایه

کله چې له شخصي ودانیو څخه د تصدۍ د فعالیت په موخه ترې استفاده وشي، په دې وخت کې د اټکلي یا تخمیني کرایې لګښتونه باید په پام کې ونیول شي. دغه لګښتونه د فرصتي لګښتونو د پرنسیپ مطابق سنجول کیږي.

**تخمیني مزد**

متصدیانو په انفرادي تصدیو او شخصي شرکتونو کې د خپل فعالیت لپاره مزد نه دی حاصل کړی نو ځکه دغه ډول فعالیتونه د لګښتونو په سنجولو کې د تخمیني مزد په توګه معامله کیږي.
تخمیني مزد هم باید د فرصتي لګښتونو په پرنسیپونو پورې اړوند وسنجول شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د درېیم څپرکي پوښتنې**

۱. دهغو موسسو نومونه واخلئ چې د لګښتونو سنجول یا ټمام شوی قیمت یې پلی شي؟
۲. د سنجیدو د استهلاک او بیلانس ترمنځ څه توپیر شتون لري؟
۳. د تخمیني فرسایش په اړه د مثال په وړاندې کولو سره معلومات ورکړئ؟
۴. د بیلانسي فرسایش په اړه د مثال په وړاندې کولو سره معلومات ورکړئ؟
۵. سنجیدونکي ګواښونه کله او څنګه رامنځته کیږي؟
۶. سنجیدونکې کرایه څه ته وایي، بیان یې کړئ؟
۷. د تصدۍ د سنجیدونکي مزد په اړه معلومات وړاندې کړئ؟
۸. د فرسایش په سنجولو کې درې مهم ټکي کوم دي؟
۹. د فرسایش عوامل بیان کړئ؟
۱۰. تخمیني ربح څه ته وایي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په سوداګریزو تصدیو کې د لګښت سنجونې ډولونه

**ټولیزه موخه:**

د تجارتي او خدماتي موسسو د مصارفو د سنجش په عملیاتو کې پوهه او وړتیا.

**د زده کړې موخې:** محصلین به د دې څپرکې په پای کې له لاندې مطالبو سره آشنا شي:

- په تهیه او تدارکاتو کې د تخفیف د ډولونو په اړه لنډ معلومات.
- د ثابتو عمومي لګښتونو سنجول.
- د بدلون موندونکو لګښتونو سنجول.
- د عمده پیرودلو د قیمت سنجول.
- د تهیه کولو د قیمت سنجول.
- د تمام شوي قیمت سنجول.
- د نهایي پلورنې د قیمت سنجول.
- د لګښت د رامنځته کیدو د فورمول ترلاسه کول.

## په سوداګریزو موسسو کې د بیلابیلو لګښتونو سنجول

لکه څرنګه چې پوهیږو سوداګریزې موسسې هغه موسسې دي چې اصلي فعالیتونه یې د پلورلو او پیرودلو فعالیتونه دي، یعنې د دغه ډول موسسو ګټې د پلورلو او پیرودلو په قیمت کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تفاوت د رامنځته کولو په وخت کې دي.

**د سوداګریزو عملیاتو عادي دایره**

هغې مودې ته ویل کیږي چې د متاع د پیرودلو له امله رامنځته شوې نقدې پیسې دوهم ځل شرکت ته ورکړل شي.

**د موجودې امتعې د مصارفو د سنجولو عملیات:**

د موجودې امتعې د مصارفو ارزولو عملیاتو د ترسره کولو له پاره دوې لارې وجود لري:

۱_ د موجودیو دوره یي روش

۲_ د موجودې امتعې دایمي روش

**د امتعې ادواري روش ( لاره )**

په دې سیستم کې د موجودیو له پاره د موجودي کارت په پام کې نه نیول کیږي، او د امتعې ورود او خروج د موجودي په حساب کې نه ثبتیږي، له همد ې امله د امتعې د موجودي د تعین اندازه په هر تاریخ او د کال په پای کې لمړی په ګدام کې موجودې امتعې شمېرل کیږي او وروسته د په مرسته چې د قیمت ګذارۍ میتودونه دي، د هغوی LIFO, FIFOارزښت ټاکل کیږي.
د مصارفو د سنجش دایمي او مقایسوي دورې لاندې وړاندې کیږي، خو تر هغه مخکې لازمه ده چې په امتعې پورې اړونده د مختلفو تخفیفاتو په اړه معلومات تر لاسه کړو.

**د تخفیف ډولونه**

۱- **سوداګریز تخفیف:** د تخفیف د ورکولو په وخت کې دغه ډول تخفیف په دقیق ډول د متاع د پلورلو په وخت کې ورکول کیږي. دغه ډول تخفیف په عمده ډول اخیستلو ، چانه وهلو او نورو دلایلو ورکول کیږي ، دغه ډول تخفیف په دفترونو کې نه ثبتیږي او خالصې پیسې د تخفیف له کسر وروسته ثبتیږي.

۲- **د متاع د معیوبیت په صورت کې د تخفیف ورکول:** په دې صورت کې امکان لري په اخیستونکي باندې د متاع د پلورلو په وخت کې اخیستونکی ځیر شي، چې اخیستل شوي جنسونه عیب ولري او یا د خوښې وړ له نمونې سره جوړې نه وي ، په همدې منظور پلورونکی د عیب لرونکو جنسونو د پلورلو په وخت کې اخیستونکي ته تخفیف ورکوي.

۳- **نغدي تخفیف:** دغه ډول تخفیف د ژر ژر پیسو ورکولو په بدل کې چې اخیستونکی یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلورونکي ته ورکوي ، رامنځته کیږي.

**مقداري تخفیف:** که اخیستونکی یوه زیاته اندازه جنسونه واخلي یا د پلورونکي دایمې پیرودونکی وی ، نوپه دې صورت کې ورته د پلورونکي لخوا مقداري تخفیف ورکول کیږي، چې ذکر شوی تخفیف په فوري توګه د قیمت د لست څخه منفې کیږي او پاتې قیمتونو ته بل جوړیږي او په عمده توګه پلورل کیږي.

**مثال:** د لست قیمت ، د یو جنس د عرضه کولو قیمت ۲۰۰۰۰ افغانۍ دی، که مقداري تخفیف یې ۵٪ وي د بل قیمت یا د اخیستلو عمده قیمت به یې څو وي.

| | | |
|---|---|---|
| ٪ ۱۰۰ | ۲۰۰۰۰ | =د عرضې بیه |
| ٪ ۵ | ۱۰۰۰ | =د مقدار تخفیف |
| ٪ ۹۵ | ۱۹۰۰۰ | = په پور د عمده پیرودنې بیه |

**دویم مثال:** که د یوه جنس قیمت لس زره افغانۍ وي، او خرڅونکی ، خریدار ته پنځه فیصده مقداري تخفیف ورکړي، په قرض باندې د عمده خرید قیمت پیدا کړي.

| | | |
|---|---|---|
| ۱۰۰ | ۱۰۰۰۰ | = د عرضې بیه |
| ۵ | ۵۰۰ | = د تخفیف بیه |
| ٪ ۹۵ | ۹۵۰۰ | = په پور د عمده پیریدو بیه |

**نقدي تخفیف**

پلورونکی مشتریان هڅوي چې د تصدۍ غوښتنې ژر پوره شي.

**مثال:** د دې لپاره چې د یوې اونۍ په موده کې له شکمنو او له اصولو د لرې غوښتنو څخه مخنیوی وشي د اخیستونکي لپاره داسې شرطونه وړاندې کیږي چې که د قرض روپۍ د یوې میاشتې په دننه کې ورکړي، نو اخیستونکي ته تخفیف ورکول کیږي، چې دغه تخفیف د اخیستونکي لپاره د حاصل او د پلورونکي لپاره د مخارج حیثیت لري.

**مثال:** که د عرضې یا د یوه جنیس د لیست قیمت ۲۰۰۰۰ افغانۍ وي او پلورونکی ٪۵مقداري او ٪۲ نقدي تخفیف اخیستونکي ته ورکړي ، نو په دې صورت کې په نقدو پیسو د عمده خرید قیمت پیداکړی.

| | | | |
|---|---|---|---|
| | ۱۰۰٪ | ۲۰۰۰۰ Af | = د عرضې بیه |
| | ۵٪ | ۱۰۰۰Af | = مقداری تخفیف |
| ۱۰۰٪ | ۹۵٪ | ۱۹۰۰۰Af | = په پور د عمده پیریدو بیه |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | |
|---|---|---|---|
| = نغدي بیه | ۳۸۰Af | | ۲٪ |
| **= په نغده د عمده پیریدو بیه** | **۱۸۶۲۰Af** | | **۹۸٪** |

**دریم مثال:** مقداري تخفیف او ۳٪ نقد تخفیف اخیستونکی ته په پام کې نیسو ، په نقدو باندې دعمده پیرودلو قیمت پیداکړی.

| | | | |
|---|---|---|---|
| د عرضی قیمت = | ۱۰۰۰ Af | ۱۰۰٪ | |
| مقداری تخفیف = | ۵۰۰ Af | ۵٪ | |
| په پور د عمده پیریدو بیه = | ۹۵۰۰ Af | ۹۵٪ | ۱۰۰٪ |
| قیمت نقدی = | ۲۸۵ Af | | ۳٪ |
| **په نغده دعمده پیریدو بیه =** | **۹۲۱۵ Af** | | **۹۷٪** |

**پوښتنه:** د یوه جنس د عرضې قیمت ۹۶۰۰۰، مقداري تخفیف یې ۱۰٪ اونقدی تخفیف یی $6\frac{6}{3}$٪ فیصده دی ، په قرض باندې د عمده پیرودلو قیمت ( د بل قیمت )پیداکړی؟

| | | | |
|---|---|---|---|
| = د عرضی بیه | ۹۶۰۰۰ Af | ۱۰۰٪ | |
| = مقداری تخفیف | ۹۶۰۰ Af | ۱۰٪ | |
| = په بور د عمده پیریدو بیه | ۸۶۴۰۰ Af | ۹۰٪ | ۱۰۰٪ |
| = نغدي بیه | ۵۷۷۶۰ Af | | $\frac{20}{3}$٪ |
| **= په نغده دعمده پیریدو بیه** | **۸۰۶۴۰ Af** | | ۹۳ ۳۳ ٪ |

**پوښتنه:** په یوه تجارتي جنس کې د عرضې قیمت ۱۸۰۰۰۰AF افغانی دی پلورونکی د اخیستونکي لپاره $8\frac{1}{3}$٪ مقداري تخفیف او همداراز $4\frac{2}{3}$٪ نقدي تخفیف په پام کې نیسي په قرض او نغدو باندې عمده قیمت پیداکړی.

| | | | |
|---|---|---|---|
| = د عرضی بیه | ۱۸۰۰۰۰ Af | ۱۰۰٪ | |
| = مقداری تخفیف | ۱۵۰۰۰ Af | $\frac{25}{3}$٪ | |
| = په پور د عمده پیریدو بیه | ۱۶۵۰۰۰ Af | $91\frac{2}{3}$٪ | ۱۰۰٪ |
| = نغدي بیه | ۷۷۰۰ Af | | ٪ |
| **= په نغده دعمده پیریدو بیه** | **۱۵۷۳۰۰ Af** | | ۹۵. $\frac{2}{3}$٪ |

**دتهیه کولو لګښت**

د دې لپاره چې خام ، معاونه او د سوداګرۍ په صنایعو کې محرکه مواد د پلورلو د ځای څخه مثلا د یو بهرني ملک څخه کابل یعني اخیستونکي ته راورسوو، نو په دې صورت کې په لاره کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

یولړ لګښتونه رامنځته کیږي لکه ، د ترانسپورت کرایه ، د لیږدولو لګښتونه ، د بیمې لګښتونه ، د ګمرکي محصول لګښتونه ، د ګدام لګښتونه ، د اخیستلو د کمیشن لګښتونه او نور.

**د تهیې بیه**

له هغه قیمت څخه عبارت دی چې اقتصادي متاع یا د کار توکي د تصدۍ د کار تر ځای پورې ورسیږي، یعنې د اخیستنې په قیمت د تهیې لګښتونه واچول شي او مقداري او نغدي تخفیف له هغه څخه منفي یا وایستل شي.

مثال: کله چې د یو جنس د عرضې قیمت ۹۶۰۰۰AF افغانی وي او مقداري تخفیف یې ۱۰٪ او نغدي یې $\frac{۲}{۳}$۶ ٪ وي د تهیې قیمت یې پیداکړئ؟

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| د عرضی بیه = | ۹۶۰۰۰ Af | ۱۰۰٪ | | |
| مقداری تخفیف = | ۹۶۰۰ Af | ۱۰٪ | | |
| په پور د عمده پیریدو بیه = | ۸۶۴۰۰ Af | ۹۰٪ | ۱۰۰٪ | |
| نغدي بیه = | ۵۷۶۰ Af | | $\frac{۲۰}{۳}$ ٪ | |
| په نغده د عمده پیریدو بیه = | ۸۰۶۴۰ Af | | ۹۳,۳٪ | ۱۰۰٪ ۹٪ |
| **د تهیی بیه =** | **۸۷۸۹۷ Af** | | | **۱۰۹٪** |

**مشترک ( غیرمستقیم ) لګښتونه**

له ټولو هغو لګښتونو څخه عبارت دی چې په مستقیمه توګه د تولید په فې واحد او یا په امتعې باندې نه ارزیابي کیږي، بکلې په تمام شوي قسمت کې د یوه تناسب د فیصدي په اساس ارزول کیږي.

په سوداګرۍ کې د متاع له تهیې پرته ټول لګښتونه، د مشترکو لګښتونو په نوم یادیږي، چې دغه لګښتونه د عمومي اداري لګښتونو یا سوداګریزو لګښتونو په نوم یادیږي.

معاشونه ، مالیه ، د سوزیدو بیمه ، استهلاک ، ټولنیز لګښتونه، د ترمیم لګښتونه او نور د مشترکو لګښتونو په نوم یادیږی.

**پوښتنه:** هغه وخت چې د یو جنس دعرضې قیمت ۹۶۰۰۰AF افغانۍ وي او مقدایي تخفیف یې ۱۰٪ فیصده اونقدي یې $\frac{۲}{۳}$۶ فیصده وي او همداراز د تهیې لګښت یې ۹٪ فیصده وي او له بلې خوا مشترک لګښتونه ۲۰٪ وي تمام شوی قیمت یې پیداکړۍ؟

| | | |
|---|---|---|
| د عرضی بیه | = ۹۶۰۰۰ | ۱۰۰٪ |
| مقداری تخفیف | = ۹۶۰۰ | ۱۰٪ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| په پور د عمده پېریدو بیه | = ۸۶۴۰۰ | ۹۰٪ | ۱۰۰ ٪ | | |
| نغدي بیه | =۵۷۶۰ | | ٪ $\frac{۲۰}{۳}$ | | |
| په پور د عمده پېریدو بیه | = ۸۶۴۰,۰ | | ٪ $\frac{۱}{۳}$ ۹۳ | ۱۰۰٪ | |
| د تهیې لګښت | = ۷۲۵۷,۶ | | | ۹٪ | |
| د تهیې بیه | ۸۷۸۹۷,۶ | | | ۱۰۹٪ | ۱۰۰٪ |
| ګټې لګښت | =۱۰۵۹۷۷,۵۲ | | | | ۲۰٪ |
| **تمامه شوی بیه** | **= ۱۹۳۸۷۵,۱۲** | | | | **۱۲۰٪** |

**د خرڅلاو د قیمت سنجش**

په لومړی سرکې باید په تمام شوي قیمت ګټه ور زیاته کړو، ترڅو د پلورلو موقت قیمت لاسته راشي.
هغه هیوادچې د مرکزي پلان له لاري اقتصاد لري، د یوې فیصدۍ پراساس ګټه لاسته راوړي.
خو په هغو هیوادونو کې چې د آزاد بازار اقتصاد لري، په خپله تصدۍ یا دولت د ګټې په تعینولو کې دومره دخالت نه لري او د وروستي پلورلو په واسطه ګټه ترلاسه کیږي او د پلورلو قیمت د عرضې او تقاضا په اساس تعین کیږي.

**مثال:** د یوه تجارتی جنس د عرضې قیمت ۱۸۰۰۰۰AF افغانی دی. پلورونکی ،پیرودونکي ته ٪ $\frac{۱}{۳}$ ۸ فیصده مقداري او ٪۲ فیصده نقدي تخفیف ورکوی که تهیه کولو لګښتونه ۵۳۰۰AF افغانۍ وي نوپه دې صورت کې د اخیستونکي تجارتي تصدۍ ٪۲۰فیصده ګټه په پام کې نیسي او همداراز ٪۵ د پلورلو مشترک لګښتونه ، ٪۱۵ ضافي پیسې او ٪۱۰ فیصده د پرچون زیاتوالی په پام کې نیسي نو په دې صورت کې یې نهایي قیمت پیداکړئ؟

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| د بیې لیست | = ۱۸۰۰۰۰ Af | ۱۰۰٪ | | | |
| مقداری تخفیف | = ۱۵۰۰۰ Af | ٪ $\frac{۱}{۳}$ ۸ | | | |
| په پور د عمده پېریدو بیه | = ۱۶۵۰۰۰ Af | ٪ $\frac{۲}{۳}$ ۹۱ | ۱۰۰٪ | | |
| نغدي بیه | = ۳۳۰۰ Af | | ۲٪ | | |
| په پور د عمده پېریدو بیه | = ۱۶۱۷۰۰ Af | | ۹۸٪ | ۱۰۰٪ | |
| د تهیې مصارف | = ۵۳۰۰ Af | | | ۳,۲۸٪ | |
| د تهیې بیه | =۱۶۷۰۰۰ Af | | | ۱۰۳,۲۸٪ | ۱۰۰٪ |
| مشترک مصارف | = ۱۶۷۰۰ Af | | | | ۱۰٪ |
| تمامه شوي بیه | = ۱۸۳۷۰۰ Af | ۱۰۰٪ | | | ۱۱۰٪ |
| مفاد | ۳۶۷۴۰ Af | ۲۰٪ | | | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | |
|---|---|---|---|
| د مؤقت خرڅلاو بیه | = ۲۲۰۴۴۰ Af | ۱۲۰٪ | ۱۰۰٪ |
| د خرڅلاو مشترک مصارف | =۱۱۰۲۲ Af | | ۵٪ |
| په نغده د عمده خرڅلاو بیه | =۲۳۱۴۶۲ Af | ۱۰۰٪ | ۱۰۵٪ |
| د پور په اساس تزئید | =۱۱۵۷۳ Af | ۵٪ | |
| په پور د خرڅلاو بیه | =۲۴۳۰۳۵ Af | ۱۰۵٪ | ۱۰۰٪ |
| د پرچون په اساس تزئید | =۲۴۳۰۳,۵ Af | | ۱۰٪ |
| **د خرڅلاو وروستی بیه** | **=۲۶۷۳۳۸,۵ Af** | | **۱۱۰٪** |


**په تجارت کې کلکولیشن**

کلکولیشن د حساب قیمت یا د لګښتونو سنجونې ته وايي. کلکولیشن د بل له قیمت څخه د پلورنې د قاطع قیمت ترپایه پورې دوام کوي ، داچې آیا سوداګر خپل تجارتي مال په حساب شوي قیمت پلوري، په دې پورې اړه لري چې آیا داجنس په ازاد ډول د سنجولو وړ دی او آیا رقابتی جنس دی او که نه؟

- ډیری وختونه قیمت د آزاد رقابت یا د مولد په واسطه تعین کیږی، خو په هر صورت کې د تصدۍ کلکولیشن بابیزه نه دی، یعنې هدف یې دادی ترڅو تثبیت کړی چې سوداګر په حد اکثر ډول کوم قیمت د اخیستلو په وخت کې اخیستونکي ته ورکړی ترڅو وکولای شي هم خپل لګښتونه پوره کړی او هم مناسبه ګټه ترلاسه کړي، نو په دې صورت کې کولیکشن د پلورلو له قیمت څخه پیل او په معکوس ډول د اخیستلو قیمت پیداکړي. لاندې څو ډوله حسابونه باید وپیژنو:
- د پیرودلو د قیمت کلکولیشن.
- د تهیه کولو د قیمت کلکولیشن.
- د تمام شوي کلکولیشن قیمت.
- د پلورلو د قیمت کلکولیشن.

که څوک وغواړي چې کلکولیشن وکړي باید د کلکولیشن د شکل جدول وپیژني.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

**د تهیه کولو ساده کلکولیشن**

**مثال:** یو سوداګر خپل تجارتي مال په ۶۳۰kg کیلو ګرامه خالص وزن سره واردوي ، او بارجامه یې ۳۰kg کیلوګرامه وزن لري د ۱۰۰kg کیلو ګرامه خالص وزن لپاره یې د بل قیمت $ ۲۱۵-دی. نو د مال لیږونکی ٪۵ فیصده مقداري تخفیف او٪۲نقدي تخفیف ورکوي. د۱۰۰kgs کیلو ګرامه لپاره ۵۰/۴$ د حمل اونقل اصلي لګښتونه او $ -/۴د فرعي لیږدوني لپاره دی.

**یادښت:** لومړی باید د کلکولیشن جدول ترتیب شي.

غیر خالص وزن

- بارجامه ۶۳۰kg
  -۳۰kg
  ۶۰۰kg

د خالص ۱۰۰kg لپاره $ - /۲۱۵ خالص وزن او د لیست قیمت ۱۲۹۰/$ دی.

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| (۲) | ٪۵ | مقداری | تخفیف | ۶۴/۵۰$ | |
| | | | | | ۱۲۲۵/۲۰$ د بېل بیه |
| ٪۲(۳) نغدي تخفیف | | | | | ۲۴/۵۰$ |
| (۳) | | | | ۱۲۰۱/۵۰$ | |
| | اصلی حمل ونقل = ۲۸,۳۵$ | | | | |
| | فرفی حمل ونقل = $ - .۴ | | | +۳۲/۳۵$ | |
| | ۲,۰۵= ۱۲۳۳,۳۵:۶۰۰یعنی : | | | ۱۲۳۳,۳۵$ | د تهیی بیه |

د ۱kg کیلو ګرام لپاره د قیمت تهیه کول ۰۵/۲ $ دی، مثال ددوهم ځل لپاره یې وسنجوئ. د نتیجې تخمینول مو هیر نه شي.

۱- بارجامه حسابیږي

الف – په واقعې توګه د بارجامې د وزن په پام کې نیول.

ب – د وسطي بارجامې په پام کې نیول.

ج – په پام کې نه نیول کیږي یعنې داچې نه کسر کیږي نو په دې صورت کې بارجامه په قیمت کې نیول کیږي.

- که مقداري یا نقدي تخفیف په مشترک ډول راوړل شي، نو په دایمې ډول مقداري تخفیف د حساب له تخفیف وړاندې حسابیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د تهیه کولو مرکب کلکولیشن**

د تجارت څو قلمه مشترک مال تهیه کیږي ، وزني لګښتونه او مشترک ارزښت لاسته راځي چې په دې ارتباط د تجارت هرقلم مال د تقسیم وړ دی.

**یادښت:**

وزني لګښتونه ( اصلي او فرعي لیږل رالیږل ، فرعي لیږل رالیږل او ګمرکي محصول ) د هرقلم تجارتي مال وزن ته په کتوسره ، د ارزښت مصارف ( د کمیشن کارانو د محصول بیمه ) د هر قلم تجارتي مال ارزښت ته په کتوسره ویشل کیږي.

**بیلګه:** په یو وار لیږلو کې دوه قلمه تجارتي مال تهیه کوو:

۱- سوداګریز مال - ۱۲۵۰kg کیلوګرامه ناخالص وزن په ۶۸/$ فیصده قیمت.

۲- سوداګریز مال: ۵۵۰kg کیلو ګرامه خالص وزن په ۶۴/$ فیصده قیمت سره د دواړو قلمو بارجامې سره ۲٪ فیصده په حساب کې راځي ؛ لګښتونه په لاندې ډول دي:

۲۹۱/$ اصلي لیږل رالیږدل ، ۶/$ فرعي لیږل رالیږل ، ۱۲/$ د کمیشن بیمه ، او ۳۵/$. د نماینده کمیشن.

الف – د حساب مجموعي قیمت پیداکړئ؟

۱- تجارتي مال:

غیر خالص وزن ۲۵۰kg

۲٪ بار جامه ۲۵kg

خالص وزن ۲۲۵ ۶۸kg= ۸۳۳kg

**تجارتي مال :**

غیر خالص وزن ۵۵۰ kg

۲٪ بارجامه ۱۱kg

خالص وزن ۵۳۹kg به ۴۶=۹۴kg, ۲۴۳٪ kg

۱۰۸۰,۹۴

**ب- وزني لګښتونه وویشئ:**

د۱۸۰۰ kg غیر مجموعي خالص وزن لپاره ۲۹۷/$ وزني لګښتونه رسیږي، پر

۰,۱۶۵$= ۲۹۷:۱۸۰۰ یو کیلوګرام غیر خالص دا معنی لري:

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۰۶,۲۵$:I=۱۲۵۰×۰,۱۶۵ د يو قلم وزني لګښتونه
۵۵۰= ۹۰,۷۵$:II×۰,۱۶۵ د يوقلم وزني لګښتونه
۲۷۹/- $

**ج – د ارزښت لګښتونه وويشئ.** د ۴۷/- $ مجموعي حسابي قيمت لپاره ، د ارزښت لګښتونه د حسابي قيمت پر يو $ دالر رسيږي.

۴۷:۱۰۸۰,۹۴= ۰,۰۴۳۴۸۱

**دامعنى لري چې:**

د لومړی قلم لپاره ارزښت مصارف: ۶۳۰۲۲ = ۸۳۳ ×۰,۰۴۳۴۸۱

د دوهم قلم د ارزښت مصارف: $\frac{۱۰,۷۸ \$}{۴۷/- \$}$ = ۰,۰۴۳۴۸۱ × ۲۴,۷۹۴

د- د هر قلم تجارتي مال کيلوګرام د تهيه کولو لپاره حساب کړئ؟

**دتمام شوي قيمت کلکوليشن:**

په داسې حال کې چې د ليږلو راليږلو اصلي لګښتونه ، فرعي ليږل راليږل ، ګمرکي محصول ، او د مال د ترانسپورت بيمه په مطلوب او مستقيم ډول حسابيداى شي ، نوبايد عمومي تجارتي لګښتونه لکه معاشونه ، کرايه ، ماليه ، فعاليت خونه ، د اعلان لګښتونه ، اداري عمومي لګښتونه او نور بايد په عمومي ډول په يو معين ډول وويشل شي.
د دې مقصد لپاره په يوه معين وخت کې بايدد خرڅ شوي مال مشترک ارتباط په پام کې ونيسو، لکه يو کال ته نسبت ورکوو او د اخيستلو د قيمت په فيصدۍ يې سنجوو:
**مثال:** سوداګر د متاع د اخيستلو په حساب کې دخپلو ثبت شويو معاملاتو څخه د متاع د ا خيستلو قيمت، د خرڅ شوي مال اخيستل پيداکوي.

| د متاع د اخيستلو حساب | |
|---|---|
| راليږونکی ته ۱۰۰۰۰ مستردي | ۶۰۰۰۰ مجوداولی |
| وروستۍ موجودي۸۰۰۰۰ | ۴۰۰۰۰۰ خريداری |
| د تهيې په بيه خرڅلاو ۳۷۸۰۰۰ | ۸۰۰۰ د پيريدو مصارف |
| ۴۶۸۰۰۰ | ۴۶۸۰۰۰ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو په دې لحاظ د خرڅ شوي مال د اخیستلو قیمت $/۳۷۸۰۰۰ دی.

تجارتي لګښتونه (مشترک لګښتونه) د مثال په توګه $/۳۰۲۴۰ دی د تجارتي لګښتونو نرخ څو دی؟

۳۷۸۰۰/- $ =۱۰۰٪

۳۰۲۴۰/- $ =× ٪

$$\frac{۱۰۰ \times ۳۰۲۴۰\ \$}{۳۷۸۰۰۰\ \$} = \frac{۳۰۲۴}{۳۷۸} = ۸٪$$

نو له دې امله د تجارتي لګښتونو نرخ ۸٪ دی

که د فیصدۍ د تزیید په مرسته تجارتي لګښتونه د چمتو شوو مالونو د تهیې پر بیه د هغې د ونډې په پرتله زیات کړو، نو د ټمام شوي لګښت بیه په لاس راځي.

**د پېر بیه + تجارتي لګښت = ټمامه شوې بیه**

د تزیید کمک باید پر ټولو راڅرګند شویو لګښتونو باندې په یو کال کې وپوښول شي، معنا دا چې باید حساب شي(د کنټرول په واسطه محاسبه).

**د پلورلو کلکولیشن:** په هغه صورت کې چې په ټمام شوي قیمت ګټه ور زیاته کړو، د خالص پلورلو قیمت ( د پلورلو فعلي قیمت ) حاصلیږي.

د ګټې تزیید ترکیب شوی له:

۱- د تصدۍ مزد د ساتنې ( پاداش ) په توګه د کار لپاره اجرا کیږي.

۲- په بیلانس کې د ظاهرې شوې شخصی پانګې څخه دپانګې ربح.

۳- د احتمالي ګواښ لپاره ، ګواښمن مزد

د مثال په توګه که چیرې په خالص پلورلو باندې د متصدۍ مزد $/ ۸۰۰۰ ربح ، او سرمایه په۶ = $/۱۸۰۰٪ ، د خطر مزد پر ٪ $\frac{۱}{۲}$ ۱ باندې او خالص خرڅلاو = - /۳۰۰۰ حساب کړو، نو حساب شوې ګټه $-/۱۲۸۰۰ ده او په یو وار پلورلو باندې ۲۰۰,۰۰۰ نسبت رامنځته کیږي او همداراز د ګټې زیاتوالی له ۶,۴٪ څخه زیاتیږي.

**ټمامه شوې بیه + مفاد = د خالص خرڅلاو بیه**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**یادښت:**

## د پلور مالیه (په سلو کې) له نغدي تخفیف مخکې (په سلو کې) له مقداري تخفیف مخکې نغدي تخفیف

مثال۱-

(۱)

د غیر خالص خرڅلاو بیه ۸۹٪ = ۱۸۹۰ ۹۰٪

+۲٪ (په سلوکې) نغدي تخفیف ۲٪ = ۳۸/۵۷$ (۲)

په پور د خرڅلاو بیه ۱۰۰٪ = ۱۹۲۸/۵۷$ ۱۰٪

۱۰٪ مقداری تخفیف(په سلو کې) $۲۱۴/۲۹ ٪ ۱۰۰٪

۲۱۴۲/۸۶

د حساب ترتیب په آسانۍ سره درک کېږي، خو په هغه صورت کې چې هغه معکوس کړو.

| | |
|---|---|
| دعرضې قیمت | ۰۰۰۰ - |
| ۱۰٪ مقداری تخفیف | ۰۰۰۰ |
| د پلورنې قیمت | ۰۰۰۰ |
| ۲٪ نقدي تخفیف | ۰۰۰۰ - |
| د غیر خالصې پلورنې قیمت | ۱۸۹۰/-$ |

د عرضی قیمت $۲۱۴۲,۸۶ ٪۱۰۰

۱۰٪نغدی تخفیف $۲۱۴,۲۹ (۲) ٪۱۰

د خرڅلاو بیه پر $۱۹۲۸,۵۷= ٪ ۱۰۰ ٪۹۰ ٪۹۰

۲٪ نغدی تخفیف$۳۸,۵۷ ۲ ٪

د خالص خرڅلاو بیه $-/۱۸۹۰ ۹۸٪

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوهم مثال:   په پلورنې باندې ماليه ، نقدی او مقداری تخفيف:

د عرضی بیه — ۱۰۰٪ = ۰۰۰۰

د مقدار تخفیف(د عرضی له بیې) — ۱۰٪ = ۰۰۰۰ (۳)

په پور د خرڅلاو بیه — ۱۰۰٪ — ۹۰٪ = ۰۰۰۰

۲٪ نغدی تخفیف (په پور د خرڅلاو له بیې ) — ۲٪ =۰۰۰ (۲)

د غیر خالص خرڅلاو بیه — ۹۸٪ — ۱۰۰٪ = ۰۰۰۰
۴٪ مالیه په خرڅلاو

د غیر خالص خرڅلاو له بیې — ۴ ٪ =

د غیر خالص خرڅلاو بیه — ۹۶ ٪ = ۱۸۹۰

**دریيم مثال:** د ( نماینده ګانو کمیشن او پورتنیو مثالونو په څیر دنورو د زیاتوالي) په اړه دریم دنماینده ګانو کمیشن باید د سوداګرۍ د ۸۷ مادې په پام کې نیولو سره د پلورنې له قیمت څخه په قرض کې وشمیرل شي ، په نغدو باندې د پلورنې قیمت باید د کمیشن په اندازه کم نه شي. کمیشن باید د اخیستونکي لخوا ورکړل شي. د حساب له پلوه د حساب کمیشن او نغدي تخفیف باید د فیصدۍ په یوه نرخ کې جمع نه کړای شي.

د یوجنس د خالصې پلورنې قیمت $-/۱۸۹۰ دی، چې د ګدام دعرضې قیمت له هغه څخه لاسته راځي، په داسې حال کې چې ٪ ۱۰مقداري تخفیف ،٪ ۲۰نقدي تخفیف ،٪ ۵ د نماینده ګانو کمیشن او ٪ ۴مالیه د پلورنې لپاره په پام کې نیول شوې ده.

غوره ده چې د ٪-/۱۰۰ عرضې له قیمت څخه یې پیل کړو او په دې ترتیب مجموعي زیاتوالی د حساب په فیصدۍ وویشو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**په لاندې ترتیب:**

| | | |
|---|---|---|
| د عرضې بیه | =٪ ۱۰۰ | |
| ۱۰٪- مقداری تخفیف | =٪۱۰ | |
| د قرض بیه | =٪ ۹۰ | |
| ۲٪- نغدی تخفیف (په پور د خرڅلاو له بیې) | =٪ ۱,۸ | |
| په نغده د خرڅلاو بیه | = ٪ ۸۸,۲ | له پاسه دې ښکته حساب شي. |
| ۵٪- کمیشن (په پور د خرڅلاو بیه | =٪۴,۵ | |
| د غیر خالص خرڅلاو بیه | =٪ ۸۳,۷ | |
| ۴٪-د پیریدو مالیه (په نغده د خرڅلاو له بیې) | = ٪ ۳,۵۲۸ | |
| د خالص خرڅلاو بیه | =٪ ۸۰,۱۷۲ | |

**حل**

| |
|---|
| $-/۱۸۹۰ ٪ ۸۰,۱۷۲= (قیمت فروش خالص) |
| ٪ ۱۰۰= ؟ (قیمت عرضه) |
| $\frac{۱۸۹۰\times۱۰۰}{۸۰,۱۷۲}$ = ۲۳۵۷,۴۳۲ |

نو له همدې امله د عرضې قیمت ۲۳۵۷,۴۳$ دی.
په دې ترتیب باید امتحان کړو چې د ۲۳۵۷,۴۳$ څخه پیل شي !

د عرضې بیه $۲۳۵۷,۴۳
۱۰٪- مقداری تخفیف $۲۳۵,۷۴
په پور د خرڅلاو بیه $۲۱۲۱,۶۹
۲٪- نقدی تخفیف $۴۲,۴۳
په پور د خرڅلاو بیه $۰۰۰۰۰۰
۵٪- کمیشن ٪۰۰۰۰۰۰
د غیر خالص خرڅلاو بیه $۰۰۰۰۰۰
۴٪- په پیریدو مالیه $۰۰۰۰۰۰
د خالص خرڅلاو بیه $۰۰۰۰۰۰۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د کلکولیشن زیاتوالی د کلکولیشن فکتور او تجارتي پایه**

د تجارتي مصارفو لپاره د فیصدۍ نرخ ، او په تجارتي تصدیو کې ګټه او مالیه ډیری وختونه مساوي پاتې کیږي. له همدې امله کلکولیشن ترډیرې کچې آسانیږي ، او په هغه صورت کې باید داسي یو مجموعي زیاتوالی پیداکړو چې ټول انفرادي زیاتوالی په دې کې ځای شي.

**یادونه:** د کلکولیشن زیاتونه د تهیې د قیمت او د خرڅلاو د قیمت غیر خالص تفاوت دی چې د تهیې د قیمت د فیصدۍ له درکه چمتو کیږي.

**د کلکولیشن فکتور**

هغه اساسي عدد دی، چې له هغه سره د تهیې قیمت ضربیږي ترڅو په مستقیم ډول دغیر خالصې پلورنې قیمت ترلاسه کړو.

په یوې تجارتي موسسې کې٪ ۱۲ تجارتي لګښتونه ،٪ ۲۵ د ګټې زیاتوالی او ٪ ۴ د پلورنې مالیه پیداکړئ.

**الف – د کلکولیشن زیاتوالی**

د مسلې د آسانتیا لپاره له د تهیې له $-/۱۰۰ قیمت څخه پیل کوو.

| | | |
|---|---|---|
| | $-/۱۰۰ | د تهیی قیمت |
| ٪۱۲+ تجارتی مصارف | $-/۱۲ | |
| | $-/۱۱۲ | تمام شوی قیمت |
| ٪۲۵+ د مفاد تزئید | $-/۲۸ | |
| | $-/۱۴۰ | د خالص خرڅلاو قیمت |
| ٪۴+ (په سلو کې) د خرڅلاو مالیه | ۸۳$/۵ | |
| | ۸۳$/۱۴۵ | د غیرخالص خرڅلاو قیمت |

**د کلکولیشن فکتور**

**ب – د تهیې په یوقیمت**

- /۱۰۰ د غیر خالصې پلورنې یو قیمت $۱۴۵,۸۳ پورې اړه لري.
- /۱ د یوې غیر خالصې پلورنې قیمت $۱,۴۵۸۳ = پورې اړه لري.
- /۲۰ د یوې غیر خالصې پلورنې یو قیمت ۲۰×۱,۴۵۸۳ = ۲۹,۱۷ پورې اړه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**يادښت:**

د کلکولیشن فکتور × د تهیی قیمت = د غیر خالص خرڅلاو قیمت

**تطبیق:** د یوه تجارتي مال د تهیه کولو قیمت $-/۵۳۲ دی، غیر خالص قیمت یې تعین کړئ؟

مرسته:

**الف- د کلکولیشن زیاتوالی:** د تهیې قیمت =$-/۵۳۲+۴۵٫۸۳٪ د کلکولیشن زیاتوالی ۴۵٫۸۳=$۰۰۰۰۰۰×=۵٫۳۲

د غیر خالصې پلورنې قیمت =$۰۰۰۰۰

**ب- دکلکولیشنن فکتور:** د غیر خالصې پلورنې قیمت = ۱٫۴۵۸۳×۵۳۲$۰۰۰۰۰ د کلکولیشن فکتور په مرسته د غیر خالصې پلورنې قیمت په واسطه د تهیه کولو قیمتونه:

$-/۱۵٫۵۰٫۲٫۵۰٫-/۵۰٫-/۳۰٫-/۲۰۰٫-/۱۰٫-/۱۲٫-/۲۲ تعین کړی، خو په هغه صورت کې چې د کلکولیشن زیاتوالی ۴۵)٪۳۶(٪ وي.

**ج- تجارتي پراختیا**

| | | |
|---|---|---|
| د غیر خالص خرڅلاو بیه | = | ۱۴۵٫۸۳$ |
| د تهیې بیه | = | ۱۰۰/-$ |
| تفاوت | = | ۴۵٫۸۳$ |

۱ =۱٫۴۵۸٪ دغیر خالصې پلورنې قیمت.

۳۱٫۴۳ =۴۵٫۸۳:۱٫۴۵۸٪ د غیر خالصې پلورنې قیمت.

په دې ترتیب تجارتي پراختیا ۳۱٫۴۳٪ ده

د کلکولیشن د زیاتوالي ارتباط او تجارتي پراختیا په لاندې مثالونو کې روښانه کیږي.

| زیاتول | ٪۱۰ | ٪$\frac{۱}{۲}$ ۲ | ۲۰ ٪ | ٪۲۵ | ×٪ | ۶۰٪ |
|---|---|---|---|---|---|---|
| تجارتي تهیه کول | × | × | × | × | ٪$\frac{۱}{۳}$۳۳ | ۳۰٪ |

**د ثابتو مجموعي لګښتونو سنجول**

د لا ښې پوهیدنې په موخه د ثابتو لګښتونو ځانګړتیاوې په لاندې توګه سنجوو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرض کوو چې د يوې کارخانې مياشتنۍ اجاره ۳۰۰۰۰۰ افغانۍ ده. اول دا چې د اجارې قيمت ثابت دی، په دې مانا که امتعه توليد شي او که نه، په دې پيسو کې هيڅ ډول بدولون نه راځي. دوهم دا چې د هرې امتعې د لومړني سهم په زياتولو سره د هرې امتعې مصرف هم کميږي. فرض کړی چې د کارخانې توليد ۱۰۰ عدده دی، که وغواړو ووايو چې د هرې امتعې سهم د اجارې له مجموعي مصرف ۳۰۰۰۰۰ افغانيو څخه څومره دی، په دې توګه عمل کوو.

$$\text{د يو واحد اجارې لګښت} = \frac{\text{د اجارې ټول لګښت}}{\text{د امتعې تعداد}}$$

$$\text{افغانی ۱۵۰۰} = \frac{۳۰۰۰۰۰}{۲۰۰}$$

په دې معنی چې د توليد په زياتولو سره د في واحد ثابت مصارف کميږي او د توليد له کموالي سره د في واحد ثابت مصارف زياتوالی پيدا کوي. د مصرف فورمول په لاندې ډول دی.

**د متاع قيمت × د متاع مقدار = مصارف**

**د عمومي متغيره مصارفو سنجول**

متغيره مصارف هم خپلې خاصې ځانګړتياوې لري.

ددې مصارفو دتشخيص له پاره کولای شو هغه په لاندې توګه وشميرو.

**لومړی:** داچې دا مصارف په مجموعي توګه له توليد سره ارتباط لري، په دې مانا، چې د توليد له زياتوالي سره د توليد کموالی يا زياتوالی هم کميږي.

**دوهم:** د يوې واحدې امتعې متغير مصرف ثابت دی، ان که د توليد مقدار ډير يا لږ هم شي.

**دريم دا چې توليدي دايرې په ساده او اسانه توګه د تخصيص وړ دي، د بيلګې په توګه:** د دولسو ميزونو د جوړولو له پاره ۸ متره مربع لرګي ته ضرورت لرو، او که وغواړو چې ۲۴ ميزونه جوړ کړو نو ۱۶ متره مربع لرګيو ته اړتيا ليدل کيږي.

$$\text{مصرف متحول في واحد} \quad \frac{\text{د توليد تعداد}}{\text{د خامو موادو مصرف}} = \frac{۱۲}{۸} \quad = 1{,}5m^2 \text{متربع}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

که تولید ٦ عدده وي

مصرف فی واحد متحول $= \frac{۶}{۴} =$ ۱,۵$m^2$ متربع

که تولید ٦ عدده میزونه شي او ٤ متره مربع لرګیو ته ضرورت وي، نو په دې صورت کې د في واحد متحول مصارف ثابت وي. او په څومره اندازه چې تعداد ډیریږي، په هماغه اندازه د خامو موادو مصرف هم زیاتوالی مومي.

**د څلورم څپرکي د مطالبو لنډیز:**

په سوداګریزو موسسو کې د لګښت ارزول

تجارتي موسسې هغه موسسې دی چې اصلی فعالیتونه یې پلورل او پیرودل وي.

**د تجارت د عملیاتو عادی دایره:** یو اوږد وخت دی، ترڅو نقدي پرداخت شوې پیسې چې د اخیستلو له پلوه متاع شرکت ته لاړه شي.

د موجودو لګښتونو د ارزولو لارې چارې په دوه ډوله دي

۱- موجودې دایروی لارې

۲- د موجودې متاع دایمي لارې.

**د تخفیف ډولونه:**

سوداګریز تخفیف:

دغه تخفیف په دقیق ډول د پلورلو په وخت کې اخیستونکي ته ورکول کیږي. دغه تخفیف په ځینو دلایلو ( چانې وهلو، تخفیف غوښتلو ) وروسته ورکول کیږی. دغه تخفیف په محاسبه کې ثبتیږي.

۲- تخفیف د متاع د معیوبیت یاخرابوالي له امله ورکول کیږي.

۳- نقدي تخفیف:

د زور نیونې په صورت کې د مطالبو د اخیستونکی لخوا د تخفیف غوښتل به محاسبه کې ثبتیږي.

**د تخفیف سنجول**

$$۴۰۰۰۰ \cdot \frac{۱۰۰}{۱۰} = ۴۰۰۰$$

| | | | |
|---|---|---|---|
| ٪۱۰۰ | ۴۰۰۰۰ | = | د عرضی قیمت |
| ٪۱۰ | ۴۰۰۰ | = | مقداری تخفیف |
| ٪ ۹۰ | ۳۶۰۰۰ | | په پور د عمده پیریدو قیمت |

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د نقدي تخفيف سنجول**

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ٪۱۰۰ | ۳۶۰۰۰ | = | په پور د عمده پيريدو بيه | |
| ٪۴ | ۱۴۴۰ | = | نغدی تخفيف | - |
| ٪۹۶ | ۳۴۵۶۰ | | په نغده د عمده پيريدو بيه | |

$$۳۶۰۰۰ \cdot \frac{۴}{۱۰۰} = ۱۴۴۰$$

**د تهيې د قيمت سنجول:**

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۱۰۰ | ۴۰۰۰۰ | په پور د عمده پېر بيه | + |
| ۵ | ۲۰۰۰ | د تهيې لګښت | |
| ٪۱۰۵ | ۴۲۰۰۰ | د تهيې بيه | |

**د تمام شوی قيمت سنجول**

$$۴۲۰۰۰ \cdot \frac{۱۰}{۱۰۰} = ۴۲۰۰$$

| | | |
|---|---|---|
| ۱۰۰ | ۶۰۰۰۰ | د تهيې بيه |
| ٪۱۰ | ۱۲۰۰۰ | د پېر ګټه لګښت |
| ٪۱۱۰ | ۴۶۲۰۰ | تمامه شوې بيه |

**د موقت قيمت د پلورنې سنجول**

$$۶۰۰۰۰ \cdot \frac{۲۰}{۱۰۰} = ۱۲۰۰۰$$

| | | |
|---|---|---|
| ۱۰۰ | ۶۰۰۰۰ | تمامه شوې بيه |
| ٪۱۰ | ۱۲۰۰۰ | مفاد |
| ٪۱۲۰ | ۷۲۰۰۰ | د موقت پلور بيه |

**په نغده د عمده پلورنې بيې سنجول**

$$۸۰۰۰۰ \cdot \frac{۵}{۱۰۰} = ۴۰۰۰$$

| | | |
|---|---|---|
| ۱۰۰ | ۸۰۰۰۰ | د مؤقت پلور بيه |
| ٪۵ | ۴۰۰۰ | د پلور ګټه بيه |
| ٪۱۰۵ | ۸۴۰۰۰ | په نغده د عمده پلور بيه |

(c) ketabton.com: The Digital Library

**په پور د عمده پلورنې بيې سنجول**

| | | |
|---|---|---|
| ۱۰۰ | ۸۴۰۰۰ | په نغده د عمده پلور بيه |
| ٪۱۰ | ۸۴۰۰ | د پور په اساس تزئید (تخفیف) |
| ٪۱۱۰ | ۹۲۴۰۰ | په پور د عمده پلور بيه |

$$۸۴۰۰۰.\frac{۱۰}{۱۰۰}=۸۴۰۰$$

**د نهايي پلور يا پرچون بيې سنجول**

| | | |
|---|---|---|
| ٪۱۰۰ | ۹۲۴۰۰ | په پور د عمده پلور بيه |
| ٪۱۰ | ۹۲۴۰ | د پرچون پلور په اساس تزئید |
| ٪۱۱۰ | ۱۰۱۶۴۰ | د نهايي پلور بيه |

$$۹۲۴۰۰.\frac{۱۰}{۱۰۰}=۹۲۴۰$$

**د في واحد ثابتو لګښتونو سنجول**

دثابت في واحدلګښتونوسنجول $\dfrac{\text{ټول ثابت لګښتونه}}{\text{دتولید اندازه}}$

$$\frac{۱۵۰۰۰۰}{۱۰۰}=۱۵۰۰$$

$$\frac{۱۵۰۰۰۰}{۲۵۰}=۶۰۰$$

که مقدار زيات وی د في واحد د لګښتونو د ثابتولو لپاره بايد وپوهيږو چې د في واحد لګښتونه نه کميږي او که توليدات کميږي د في واحد لګښتونه زياتيږي.

**د فی واحد متحولو لګښتونو سنجول**

دفی واحد متحول مصرف = $\dfrac{\text{د تولید مقدار}}{\text{د خامو موادو مصرف}}$ $\quad \dfrac{۶}{۴}=۱,۵$

دفی واحد متحول مصرف = $\dfrac{۱۲}{۸}=۱,۵$

**د لګښت موندنې سنجول**

**مقدار × دمتاع قيمت = مصارف**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**مثال:** د اوسپنې پوښولو لپاره یو بدلون یا د مقدار تغیر $۲۵۰m^۲$ ته ضرورت دی خو هرکله چې د اهن چادر د هرې تختې مساحت $۱,۲۵m^۲$ وی او هره تخته یی ۲۱۰AF وی د آوسپني پوښ شوی د تعمیر آهن پوښ محاسبه کړی؟

$$\frac{۲۵۰=\times}{۱,۲۵} = \longrightarrow \times= \frac{۲۱۰۰۰\times۲۵۰}{۱۲۵} =۴۲۰۰۰Af$$

**د څلورم څپرکي پوښتنې:**

۱- تخفیف تعریف کړئ؟

۲- د تخفیف ډولونه ووایي او ولیکي چې کوم تخفیف نه محاسبه کیږي؟

۳- د لګښتونو فورمول ولیکئ؟

۴- ثابت مجموعي لګښتونه بیان کړئ؟

۵- متغیر یا بدلون موندونکي لګښتونه بیان کړی؟

۶- داحمد شاکر دکارخانې مجموعي لګښتونه ۶۰۰۰۰۰۰ افغانۍ دی، که په ۱۳۸۳ , ۱۳۸۲ , ۱۳۸۱ کلونو کې په ترتیب ۸۰۰,۵۰۰ او ۴۰۰ امتعه تولید شوې وي، ، نو په دې کلونو کې به له ثابتو مصارفو څخه د هر واحد تولید شوي جنس سهم څومره وي؟

۷- د احمد د رنګ جوړلو د کارخانې هررنګ دوه کیلوګرامه کیما وي موادو ته ضرورت لري، د هر کیلو قیمت یې ۵۰۰ افغانی دی که په ۱۳۷۹ کال کې یې ۳۵۰۰ قوطۍ او په ۱۳۷۰ کال کې یې۵۰۰۰ قوطۍ رنګ تولید کړی وي، د رنګ د تولید متغیره مصرف به یې په یادوو کالونو کې څو افغانۍ وي؟

۸- که د یوه متر تکې په تولید کې ۲۰۰ ګرامه نخ کارول شوی وي، په دې صورت کې چې که د یوه کیلوګرام تکې قیمت ۵۰۰ افغانی ،د یومتر تکې د نخو لګښت معلوم کړی؟

۹ - که چیرې په یوه کیلوګرامه قالینې کې ۵۰ ګرامه وړۍ او ۲۰۰ ګرامه نخ کارول شوي وي، او د فې کیلوګرامه وړیو بیه ۲۰۰۰ افغانۍ وي ، او همداراز د فې کیلوګرامه نخو بیه ۱۰۰۰ افغانی وي، د یو متر مربع قالینې مجموعي قیمت څو افغانۍ دی؟

۱۰: د یوه تعمیر د چت د پوښلو له پاره ۲۵۰ متره مربع آهن چادر ته اړتیا ده، که د اهمن چادر د هرې تختې مساحت ۱،۲۵ متره وي، او د هرې تختې بیه ۲۱۰ افغانۍ وي، د چت د پوښلو مجموعي مصرف پیدا کړې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۱: که د یوه جنس د لیست بیه ۲۰۰۰۰ افغانۍ وي، او پلورونکي، اخیستونکي ته ۵۰٪ مقداري تخفیف او ۲۰٪ نقدي تخفیف په پام کې نیولی وي، په نغدو باندې د عمده خرید بیه پیداکړي؟

۱۲: که د یوه جنس د لیست قیمت ۱۲۰۰۰۰ افغانۍ وي، او خرڅونکی ، اخیستونکي ته ۶۰٪ مقداري تخفیف په پام کې ونیسي، په دې توګه په پور باندي د عمده خرید پیدا کړی؟

۱۳: مقداري تخفیف په پام کې ونیسی او خریدار ته ۳٪ نقدي تخفیف هم ورکړی، ، په نقدو باندي د عمده خرید قیمت پیداکړی؟

۱۴: د یوه جنس د عرضې بیه ۹۶۰۰۰ افغانۍ، مقداري تځفیف ۱۰٪ او نقدي تخفیف دی، په پور باندي د خرید د بل عمده قیمت پیدا کړی. $6\frac{2}{3}\%$ ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پنځم څپرکی

## په صنعتي تصديو کې د لګښت سنجول

**تولیزه موخه:**
د مصارفو د سنجولو د مهمو او اساسي مفاهیمو په اړه معلومات پیداکول.

**د زده کړې موخې:** محصلین به د دې فصل په پای کې لاندې معلومات ترلاسه کړي:

- د هغو تصدیو د لګښتونو سنجول چې کتلوي تولیدات لري.
- د هغو تصدیو د لګښتونو سنجول چې د سورت په واسطه تولیدات کوي.
- د هغو تصدیو د لګښتونو سنجول چې مرحلوي تولیدات لري.
- د هغو تصدیو د لګښتونو سنجول چې مختلف تولیدات لري.
- د ویشونکو لګښتونو سنجول
- د تفریقي میتود په اساس د لګښتونو سنجول
-د بازار د قیمت په اساس د لګښتونو سنجول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هغو تصديو د لګښتونو سنجول چې کتلوي توليدات لري.
که دغه ډول تصدۍ يو ډول توليدات ولري، نو د توليد د في واحد لګښتونه د لاندې فورمول په واسطه لاسته راځي.

$$\text{في واحد لګښتونه} = \frac{\text{مجموعي لګښتونه}}{\text{دتوليد مقدار}}$$

**پوښتنه:** په يوه دوره کې د يوې تصدۍ توليدات له ۱۵۰۰ ټنو څخه زياته وي، چې د دغه توليد لپاره له ۲۰۰۰ ټنو خامو موادو څخه ګټه اخيستل کيږي ، د دغې دورې مختلف توليدي لګښتونه په لاندې تابلو کې کتلای شی.
الف – مجموعی لګښتونه پيداکړی؟
ب – د توليد د في واحد لګښتونه پيداکړۍ؟

| د لګښتونوډولونه | په ډالرو مجموعي لګښت | په ډالرو د في ټن د توليد لګښت |
|---|---|---|
| خام مواد ۲۰۰۰ ټنه | ۷۵۰۰۰۰$ | ۵۰۰ |
| د ترانسپورت | ۱۵۰۰۰۰$ | ۱۰۰ |
| د معاشاتو مزد | ۶۰۰۰۰۰$ | ۴۰۰ |
| اجتماعي لګښتونه | ۶۰۰۰۰$ | ۴۰ |
| د تصدي کم مواد | ۱۵۰۰۰$ | ۱۰ |
| د برښنا لګښتونه | ۸۴۰۰$ | ۵,۶ |
| بيمه | ۱۹۸۰$ | ۱,۳۲ |
| فرسايشات | ۱۰۵۰۰۰$ | ۷۰ |
| مجموعه | ۱۶۹۰۳۸۰$ | ۱۱۲۶,۹۲ |

$$\text{د في واحد لګښتونه} = \frac{\text{مجموعي لګښتونه}}{\text{دتوليداندازه}}$$

**ثبوت**

$$\text{د في واحد لګښتونه} = \frac{۱۶۹۰۳۸۰}{۱۵۰۰} = ۱۱۲۶,۹۲$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د لګښت تابلو**

| د لګښت ډولونه | په افغانيو مجموعي لګښت | په افغانيو د فی ټن تولید لګښتونه |
|---|---|---|
| خام مواد ۸۰۰۰ ټنه | ۳۰۰۰۰۰۰Afs | ۱۰۰۰ |
| د ترانسپورت لګښتونه | ۶۰۰۰۰۰Afg | ۲۰۰ |
| د معاشاتو مزد | ۲۴۰۰۰۰۰Af | ۸۰۰ |
| اجتماعي لګښتونه | ۲۴۰۰۰۰Af | ۸۰ |
| د تصدۍ کم مواد | ۶۰۰۰۰Af | ۲۰ |
| د برښنا لګښتونه | ۳۳۶۰۰Af | ۱۱,۲ |
| بیمه | ۷۹۲۰Af | ۲,۶۴ |
| فرسایشات | ۴۲۰۰۰۰Af | ۱۴۰ |
| مجموعه | ۶۷۶۱۵۲۰Af | ۲۲۵۳,۸۴ |

**ثبوت**

$$\text{د فی واحد لګښتونه} = \frac{۶۷۶۱۵۲۰}{۳۰۰۰} = ۲۲۵۳,۸۴$$

**پوښتنه:** په یوه  دوره کې د یوې تصدۍ د تولیداتو اندازه له ۳۰۰۰  ټنو څخه زیاته وي، چې په تولید کې يې له ۸۰۰۰ ټنو خامو موادو څخه ګټه اخیستل کیږي، نو د دغې دورې مختلف لګښتونه په لاندې تابلو کې لیدی شو.

الف – مجموعي لګښتونه پیداکړئ؟

ب – د تولید د فی واحد د تولید لګښتونه پیداکړئ؟

د هغو تصدیو د لګښتونو سنجول چې د سورت په واسطه تولیدات کوي

یعنې هغه تصدۍ چې دیوه جنس څخه ځو مشابه تولیدات وکړي،  دغه تصدۍ له یوډول موادو څخه کار اخلي او په مختلفو اندازو  تولیدات لري،  همداراز هغوی د ویشلو لګښتونو له سنجولوڅخه ګټه اخلی.

څو څرنګه چې د تولیداتو اندازې فرق کوي، د تقسیمي لګښتونو د سنجونې په پام کې نیولو سره له مختلفو برخو څخه ګټه اخیستل کیږي.

د مثال په توګه:  یوه تصدۍ چې درې سورته تولید لري د

(A)سورت ۲۰۰۰ ټنه د ۸۰۰ (B) ټنه د۱۵۰۰ (C)  ټنه د (A) د استحصال لګښت ۱۵۰۰۰۰AF د

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۶۰۰۰۰AF (B)د ۱۵۰۰۰۰AF (C) دا داريي او د خرڅلاو لګښتونه يې د۹۰۰۰AFدي.

الف – دهر سورت د استحصال د فی واحد لګښت پيداکړئ؟

ب – د اداري او پلورلود لګښتونو د فيصدۍ لګښتونه کوم دي؟

ج – دتوليد د في واحد تمام شوي لګښتونه پيدا کړی.

د هغو توليداتو دلګښت اندازه چې د سورت په واسطه رامنځته کيږي؟

| توليد | Aتوليد | Bتوليد | Cتوليد | د کل په ډول |
|---|---|---|---|---|
| دتوليد اندازه | ۱۰۰۰تنه | ۸۰۰تنه | ۱۵۰۰تنه | |
| د استحصال مصارف | ۱۵۰۰۰۰Af | ۱۶۰۰۰۰Af | ۱۵۰۰۰۰Af | ۴۶۰۰۰۰ |
| د فی ټن د استحصال لګښتونه | ۱۵۰Af | ۲۰۰ Af | ۱۰۰ Af | |
| داداري او پلورلو لګښتونه | | | | ۶۹۰۰۰Af |
| داداري او پلورلو لګښتونوفيصدۍ | | | | ٪۱۵ |
| د في توليد لپاره داداري او پلورلو لګښتونه | ۲۲,۵Af | ۳۰Af | ۱۵ Af | |
| د في ټن توليد تمام شوي لګښتونه | ۱۷۲,۵Af | ۲۳۰ | ۱۱۵Af | |

۱– د استحصال مجموعي لګښتونه ۴۶۰۰۰۰ = ۱۵۰۰۰۰ + ۱۶۰۰۰۰ + ۱۵۰۰۰۰ =

۲– $۱۰۰ = \frac{۱۵۰۰۰۰}{۱۵۰۰}$ ، $۲۰۰ = \frac{۱۶۰۰۰۰}{۸۰۰}$ د في ټن لګښتونه $۱۵۰ = \frac{۱۵۰۰۰۰}{۱۰۰۰}$

۳– د فيصدۍ د پلورلو او د اداری لګښتونه $۱۵ = \frac{۳۴۵}{۲۳} = \frac{۶۹۰۰۰ \times ۱۰۰}{۴۶۰۰۰۰}$

(C) (B) (A)

۴- دپلورنۍ اواداري لپاره دفی ټن توليد لګښتونه.

۱۰۰ ۱۵

۱۰۰ X

$\longrightarrow X = \frac{۲۰۰ \times ۱۵}{۱۰۰} = ۳۰$

۱۰۰ ۱۵

۱۰۰ X

$\longrightarrow X = \frac{۱۵۰ \times ۱۵}{۱۰۰} = ۲,۵$

تمام ټؤل مصارف ۱۵۰ =۵-+۲۲,۵=۲۳۰

۲۳۰=۳۰+۲۰۰

(B)

۱۱۵=۱۵+۱۰۰

(C)

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د هغو تصديو د لګښتونو سنجول چې مرحلوي توليدات لري:**
يعنې هغه تصدۍ چې په مختلفو مرحلو کې ځو کاره سرته رسوي.
**د مثال په توګه:** د ګلبهار نساجۍ فابريکه د پنبې له اخيستلو وروسته مختلفې مرحلې لکه ، ندافي ، نختابي ، رنګول ، اوبدل اوداسې نورلري، له دې سره يې دغله جاتو پاکول ، اوړه کول او بالاخره پخول هم پر غاړه دي،.که توليد له يوې مرحلې څخه بلې مرحلې ته وليږدول شي، دلومړۍ مرحلې لګښتونه، بلې مرحلې ته ليږدول کيږي او د بلې مرحلې لګښتونه سرته رسيږي ، په دې تصديو کې د لګښت سنجونه بايد داسې ترتيب شي چې د کار مرحلې په پام کې ونيسي.
په پورتنيو ذکر شويو تصديو کې د ويشل شويو لګښتونو سنجونې د ګټې وړ دي، په داسې حال کې چې په لومړۍ مرحله کې د ويشل شويو لګښتونو سنجونه ساده، په دوهمه مرحله کې ويشل شوی لګښتونه په مختلفو برخو ويشل او په درېيمه مرحله کې د کار د مرحلو په پام کې نيولو سره د ويشل شويو لګښتونو سنجونه رامنځته کيږي.

**د مثال په توګه:** يوه تصدۍ په پام کې نيسو چې څلور توليدي او يوه پلورونکې مرحله لري ، په لاندې جدول کې د توليد اندازه او لګښتونه په کار اچول شويدي، د توليد هرې يوې مرحلې ته پام کيږي

الف – د هرې مرحلې د توليد ضريب پيداکړئ؟

ب – د صورت مجموعي ضريب پيداکړئ؟

چ – د توليد د فې واحد تمام شوي لګښتونه پيداکړئ؟

| دتوليد مرحلې | په افغانيو باندې د هرې مرحلې لګښتونه | دهرې مرحلې د موادو په کار اچول | په ټن باندې د توليد د هرې مرحلې اندازه | په ټن باندې د غنمو نه بدلون |
|---|---|---|---|---|
| د توليد لومړۍ مرحله | ۲۶۰۰۰ | | ۴۰۰۰ | +۱۶۰ |
| دتوليد دوهمه مرحله | ۱۵۰۴۰ | ۳۸۴۰ | ۳۲۰۰ | +۱۲۰ |
| د توليد درېيمه مرحله | ۴۵۵۰۰ | ۳۰۸۰ | ۲۸۰۰ | -۲۰۰ |
| د توليد څلورمه مرحله | ۲۶۴۰۰ | ۳۰۰۰ | ۲۴۰۰ | |
| د پلورلو مرحله | ۹۹۰۰ | ۲۲۰۰ | ۲۲۰۰ | |

لکه څرنګه چې په پورته جدول کې په واضح توګه وويل شول، د وروستی توليد لپاره چې ۲۴۰۰ ټنه کيږي، په درېيمه مرحله کې له د درې زره ټنه توليد اندازه کارول کيږي. يعنې د يو ټن نهايي توليد ، د توليد لپاره له ۱،۲۵ ټنه توليد په درېيمه مرحله کې ورڅخه ګټه اخيستل کيږي. يعنې $۱,۲۵ = \frac{۳۰۰۰}{۲۴۰۰}$ او د درېيمې مرحلې د توليد لپاره له ۱,۱ ټن څخه ، په دوهمه مرحله کې له ۱,۱ $\frac{۱۵۴}{۱۴۰} = \frac{۳۰۸۰}{۲۸۰۰}$ څخه ګټه اخلو اوپه دې ترتيب د دويمې مرحلې د فې ټن ۱,۲ $= \frac{۳۸۴۰}{۳۲۰۰}$

(c) ketabton.com: The Digital Library

تولید لپاره ۱,۲ تولید ،په لومړی مرحله کې تولید ضرورت دی. په همدې ترتیب کمیتونه ضریبي تولید وړاندې کوي ، د په کار اچول شویو موادو د اندازې ترمنځ هره رابطه د تولید مرحلې ښیي.

له دې امله چې د وروستي تولید لپاره د تولید د هرې مرحلې مجموعي اړتیاوې ثابتې کړو، باید د تولید د را تلونکو مرحلو تولیدي ضریبونه یو له بل سره ضرب کړو. د ټمام شوی لګښت لپاره ضرور ده چې د تولید د هماغې مرحلې د تولید په اندازو وویشو او د تولید ضریب په دې مرحلې په تولید کې ضرب کړو، چې په دې ترتیب باید د تولید هریو لګښت، د تولید له مرحلو څخه ثابت شي.

د تولید د ټولو مرحلو مجموعي لګښت د تولید د ټمام شوي لګښت څخه. عبارت دی.

**جذب :** د تولید د ضریب جدول او د اړتیا وړ مجموعي ضریب

| د تولید مرحلې | په ټن باندې په کار اچول شوي مواد | د تولید اندازه | دتولید ضریب | د مجموعي ضرورت ضریب |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | | ۴۰۰۰ | | ۱,۲,۱,۱,۱,۲۵,۱,۰ =۱,۶۵ |
| ۲ | ۳۸۹۰ | ۳۲۰۰ | ۱,۲ | ۱,۱,۱,۲۵,۱,۰ = ۱,۳۷۵ |
| ۳ | ۳۰۸۰ | ۲۸۰۰ | ۱,۱ | ۱,۲۵,۱,۰ =۱,۲۵ |
| ۴ | ۳۰۰۰ | ۲۴۰۰ | ۱,۲۵ | ۱,۰ |
| ۵ | ۲۲۰۰ | ۲۲۰۰ | ۱,۰ | |

**جذب:** دتولید د هرې مرحلې لګښتونه او د تولید د فی واحد ټمام شوي لګښتونه په لاندې جدول کې لیدل کیږي.

| د تولید مرحلې | د مختلفو مرحلو لګښتونه په افغانۍ | په ټن باندې دتولید اندازه | د تولید په مرحله کې د فی واحد تولید مصارف | د مجموعي ضرورت ضریب | د وروستي فی واحد اخیري مصرف |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | ۴۶۰۰۰ | ۴۰۰۰ | ۶,۵۰ | ۱,۶۵ | ۱۰,۷۲۵۰ |
| ۲ | ۱۵۰۴۰ | ۳۲۰۰ | ۴,۷۰ | ۱,۳۷۵ | ۶,۴۶۲۵ |
| ۳ | ۴۵۵۰۰ | ۲۸۰۰ | ۱۶,۲۵ | ۱,۲۵ | ۲۰,۳۱۲۵ |
| ۴ | ۲۶۴۰۰ | ۲۴۰۰ | ۱۱,۰۰ | ۱,۰ | ۱۱,۰۰۰۰ |
| ۵ | ۹۹۰۰ | ۲۲۰۰ | ۴,۵۰ | ۱,۰ | ۴,۵۰۰۰ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تولید د فی واحد تمام شوي لګښتونه۵۳,۰۰۰ –

۱- دفي واحد تولید لګښت $\frac{۲۶۰۰۰}{۴۰۰۰}$ = ۶,۵ ‏‏‏‏ ۲- $\frac{۱۵۰۴۰}{۳۲۰۰}$ = $\frac{۴۷}{۱۰}$ = ۴,۷

۳- $\frac{۴۵۵۰۰}{۴۰۰۰}$ = $\frac{۶۵}{۴}$ ۱۶۲۵ ‏‏‏‏ ۴- $\frac{۲۶۴۰۰}{۲۴۰۰}$ = ۱

۶- $\frac{۹۹۰۰}{۲۲۰۰}$ = ۴,۵

۱-۱-۶,۴۶۲۵= ۲- ۴,۷. ۱,۳۷۵ ‏‏‏‏ ۶,۵,۱,۶۵= ۱۰,۷۲۵۰

۱۱-۳ =۱۱,۱ -۴ ‏‏‏‏ ۵- ۱,۴,۵ = ۴,۵ ۱۶۲۵. ۱,۲۵ = ۲۰,۳۱۲۵

د فی واحد تولید دتمام شوي قیمت۱۰,۷۲۵۰ +۶,۴۶۲۵+۲۰,۳۱۲۵+۱۱+۴,۵+۵۳

**د هغو تصدیو د لګښتونو سنجونه چې مختلف تولیدات لري:**

په دې تصدۍ کې ماشینونه او کار کوونکي د مختلفو تولیداتو لپاره کارول کیږي:

**مثال:** د نجارۍ یوه تصدۍ چې مختلف تولیدات لري، په هر ماشین یا د هر کار په واسطه مختلف تولیدات رامنځته کوي، په دې تصدیو کې نه شو کولای د ویشل شویو لګښتونو له سنجونې څخه ګټه واخلو، یعنې نه شو کولای مجموعي لګښتونه د تولید په تعداد وویشو.

په دې تصدیو کې د لګښتونو یو قیمت عبارت دی له انفرادي لګښتونو څخه چې په فی واحد پوره ویشل کیدای شيي، په داسې حال کې چې د نورو لګښتونو قیمت د مشترکو لګښتونو په نوم یادیږي، او نه شو کولای چې په فی واحد یې پوره او پوشان وویشو. له همدې امله په دا ډول تصدیو کې مشترک لګښتونه لومړی په وضعه شویو لګښتونو ویشو او وروسته جمع شوي لګښتونه د وضع شوي لګښت په تولید ور زیاتوو، چې دغه سنجونه د وضع شویو لګښتونو د زیاتوالي په نوم یادیږي.

**بیلګه:** په یوې تصدۍ کې درې ډوله سیخ ګول چې ۱cm , ۲cm او۰,۵cm اندازې لري، تولیږي. په لومړي ډول کې ۵۰۰m په دوهم ډول کې ۶۰۰m او په دریم ډول کې۵۰۰m تولیدشوې او مجموعي لګښتونه یې ا ۱۷۰۸۰۰AF دی. د هرډول فی متر قیمت ارزیابي کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

| شمیره | ۱ | ۲ | ۳ |
|---|---|---|---|
| شاخص | ۱Cm | ۲Cm | ۰,۵cm |
| مقدار | ۵۰۰m | ۶۰۰m | ۵۰۰m |
| متناسبه اندازه | ۵۰۰ M.CM | ۱۲۰۰m.cm | ۲۵۰ cm / ۱۹۵۰ m.cm |
| دهرډول مجموعي لګښت | ۸۷,۵۸۹۷۴ | ۸۷,۵۸۹۷۴ | ۸۷,۵۸۹۷۴ |
| دهرډول مجموعي لګښت | ۴۳۷۹۴,۸۵Af | ۱۰۵۱۰۷,۶۴Af | ۲۱۸۹۷,۴۲۵Af |
| د هرډول د في متر قيمت | ۸۷,۵۸ | ۱۷۵,۴۷ | ۴۳,۷۹ |

$$\frac{\text{۱۷۰۸۰۰ افغانی}}{\text{۱۹۵۰ m.cm}} = \text{۸۷,۵۸۹۷۴}^{\text{افغانی}} / \text{m.cm} \cdot \text{۵۰۰ m.cm}$$

**هر ډول مجموعی مصارف = متناسب مقدار = × د فی واحد موازنې مصارف**

$$\text{د هرې نوعې د في متر قيمت} = \frac{\text{د هرې نوعې د في متر لګښتونه}}{\text{اندازه}}$$

**مثال:** په یوې تصدي کې د اوبو څلور ډوله ۱,۵mg. ۱mg۰,۵mg په اندازه توليديږي. له لومړي ډول څخه يې د ۱۰۰۰m له دوهم ډول څخه يې هدف يې ۱۲۰۰m له دريیم ډول څخه يې۱۸۰۰m له څلورم ډول څخه هدف يې ۲۰۰۰m توليد دی ، د هغو مجموعي لګښتونهAF۱۰۰۸۰۰۰ کيږي، د هرې نوعې د في متر قيمت وسنجوئ.

| شمیره | شاخص | مقدار | مقداري تناسب | موازنوي لګښتونه | دهرې نوعې مجموعي لګښت | د هرې نوعې د في متر قيمت |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | ۰,۵mg | ۱۰۰۰m | ۵۰۰m | ۱۲۰ | ۶۰۰۰۰ | ۶۰ |
| ۲ | ۱mg | ۱۲۰۰m | ۱۲۰۰m | ۱۲۰ | ۱۴۴۰۰۰ | ۱۲۰ |
| ۳ | ۱,۵mg | ۱۸۰۰m | ۲۷۰۰m | ۱۲۰ | ۳۲۴۰۰۰ | ۱۸۰ |
| ۴ | ۲mg | ۲۰۰۰m | ۴۰۰۰m | ۱۲۰ | ۴۸۰۰۰۰ | ۲۴۰ |
| | | | ۸۴۰۰ m | | | |

$$\frac{\text{۱۰۰۸۰۰۰}}{\text{۸۴۰۰}} = \text{۱۲۰}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د موسسې په دننه کې د لګښتونو سنجش**

د لګښتونو په هغه ګروپ کې شامل دي، چې د متخلفو سطحو مديران د تصدۍ په دننه کې او يا د هغوی په غوښتنه او د هغوی په واسطه د تمام شوي قيمت ارزښت تهيه شي.
د موسسې په دننه کې د لګښتونو سنجول په معمولي ډول د هرې مياشتې په پای کې تهيه کيږي، خو امکان لري، چې د هرې مياشتې له پای ته رسېدو وړاندې د مديرانو د غوښتنې او اړتياوو ته په کتوسره د تمام شوي قيمت سنجونه تنظيم شي.

د موسسې په دننه کې د ځينو لګښتونو سنجش عبارت دي له: د موادو د لګښتونو سنجول ، دتمام شوي قيمت سنجول ، جوړه شوې متاع ، د کار ساعتونه ، د تيرشويو وختونو سنجول ، د ګدام سنجول ، د له منځه تللو موادو او محصولاتو سنجول او نور.
په دې برخه کې په ځينو سنجونو رڼا اچوو:

**د موادو د لګښت سنجش**

په معمولي ډول د هرمحصول دتمام شوي قيمت عمده برخه د هغه مصرفي مواد جوړوی. په بل عبارت، مصرفي مواد د تمام شوي قيمت له درې ګونو عواملو ( مواد، مزد، مشترک مصارف) څخه محسوب کيږي. له همدې امله د مقدار سنجش، د مصرفي موادو مبلغ او په موجودي پورې اړونده سنجشونو د مديرانو د پام وړ وي او ځانګړې توجه ورته کوي.
د موادو د لګښت سنجول ، د لومړنيو موادو د پيسو اندازه ښيي چې دمالي دورې يا په يوه معين وخت کې د محصول د جوړولو لپاره مصرف شوې وي.
د موادو د لګښتونو سنجونه بايد د مالي دورې يا د هرې مياشتې په پای کې تهيه شي.
د موادو د لګښت سنجونه کولای شو چې په دوو مقداري او پولی برخو چمتو کړو. د مصرف شويو موادو د سنجش د اندازې چمتو کول، د مصرف کونکو ادارو د اسنادو او صدورو په مرسته شونې ده، خو د تمام شوي قيمت د محاسبې د دايرې په قيمت کې.
د موادو د مصرف مياشتنۍ سنجش بايد د ګدام له حوالو څخه چې په توليد د موادو د صادراتو ښودنه کوي، چمتو شي. د مالي دايرې محاسبه معمولا د کلني مصارفو سنجش تهيه کوي.
د موادو د سنجش په دې دايره کې ډير وخت د اخيستلو د صدور د مستردي ، په خرڅلاو پورې تړلي مصارف او د موادو د موجودي په پام کې نيولو له مخې چمتو کيږي. ددې کار له پاره بايد لومړی په ګدام کې موجوده مال وشميرل شي، دې عمل ته په اصل کې دايروي ګدام ( موجودي عمل ) وايي. ورورسته بيا بيا د ګدام د حساب شويو کارتونو په مرسته د ګدام د دورې د پای تمام شوي قيمت محاسبه کولی شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د مصرفي موادو پولي مبلغ د لاندې اړیکو په واسطه محاسبه کولای شو:**

{د وروستی دورې د موادو موجودي} = {د اخیسل شویو موادو تمام شوي بیه} = {د دورې لومړ موجودي} = {مصرف شوي مواد}

{د اخیستلو د انتقال مصرف  د اخیستلو نغدي تخفیف  د اخیستلو اوانتقال مشتري} - د موادو د اخیستلو دوره = {د اخیستل شویو موادو تمام شوي بیه}

د موادو د مصرف اندازه هم په دې رابطه محاسبه کیږي:

{د اخیرې دورې موجوده مقدار} - {د موادو د اخیستلو ماندازه} + {د دورې په اول کې موجودلاي مقدار} = {د مصرفي موادو اندازه}

د دورې په مهال کې د مصرف شویو موادو اندازه سنجونې ته اړتیا نه لري. په بله وینا، د سنجونې موجوده لارې یواځې ګدام ته د راتلونکو موادو د نرخ د نه ثابتیدو له امله د استفادې وړ دی.

د موادو د مصرف میاشتنۍ سنجونې چمتو کول، د موادو د مصرف تر مینځ مقایسه او د جاري میاشتې او تیرې میاشتې او همدارنګه د مصرف زیاتیدل او کمیدل اماده کوي او په دې توګه په تصمیم نیونه او دا چې څنګه په خپل وخت مواد چمتو کړو، اسانتیاوي راولي.

د موادو د لګښتي سنجش نمونه په لاندي توګه ښودلی شو:

| د الکوزی تولیدي شرکت<br>د کال لپاره د موادو د لګښت سنجونه | | | | |
|---|---|---|---|---|
| د لومړۍ دورې موجودی | | | | xxxx |
| په یوه دوره کې د موادو اخیستل | | | xxxx | |
| کسر کیږی | | | | |
| د تخفیف له امله مشتري | xx | | | |
| د اخیستنې نقدي تخفیفونه | x | | | |
| | | (xx) | | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| خالص خرید | | xxx | | |
| زیاتیږي : د پیردولو د لیږد لګښت | | x | | |
| د پیرودل شویو موادو تمام شوی قیمت | | | xxx | |
| د مصرف لپاره چمتو مواد | | | xxxx | |
| د موجودي دورې د پای کسر | | | xx | |
| د دورې د مصرفي موادو تمام شوی قیمت | | | xxx | |

**مثال:** د الکوزي تولیدي شرکت د خپلو محصولاتو د جوړولو لپاره له څو ډوله لومړنیومادو څخه ګټه اخلي چې د الف ماده یې په دغه شرکت کې د لومړنیو او اساسي موادو په توګه مصرفیږي.
د الف په مادې پورې اړوند اطلاعات په مالي جاري دوره کې په لاندې ډول دي:

دلومړۍ دورې د موادو موجودیت ۸۱۰۰۰۰ افغانی
د دورې په جریان کې د موادو خرید ۳۹۷۰۰۰۰ افغانی
د خرید تخفیفي مستردي ۱۵۰۰۰۰ افغانی
داخیستل شویوموادو د لیږدولو لګښت ۱۲۰۰۰۰ افغانی
د خرید نقدي تخفیف ۱۵۰۰۰۰ افغانی

د دورې په پای کې موجود مواد ۱۴۳۰۰۰۰ افغانۍ سنجول شوي دي. ،د الف د لومړنۍ مادې د موادو لګښت په لاندې توګه تنظیمیږي.

| د الکوزي تولیدي شرکت<br>دمالي ۱۳۸۸ کال لپاره د موادو د لګښت راپور | | | |
|---|---|---|---|
| د لومړۍ دورې موجودي | | | ۸۱۰۰۰۰ |
| ددورې په جریان کې د موادو اخیستل | | ۳۹۷۰۰۰۰ | |
| کسرکیږي، مستردي له تخفیفاتو او خرید څخه | ۱۵۰۰۰۰ | | |
| د خرید نقدي تخفیف | ۵۰۰۰۰ | (۲۰۰۰۰۰) | |
| خالص پیرودل | | ۳۷۷۰۰۰۰ | |
| زیاتیږي: د لیږدولو خرید | | ۱۲۰۰۰۰ | |
| د خریداري شویو موادو تمام شوی قیمت | | | ۳۸۹۰۰۰۰ |
| د مصرف لپاره چمتومواد | | | ۴۷۰۰۰۰۰ |
| کسر کیږي: د دورې د پای موجودي | | | ۱۴۲۰۰۰۰ |
| د دورې په جریان کې د موادو تمام شوی قیمت | | | ۳۲۷۰۰۰۰ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د جوړې شوې متاع دټمام شوي قیمت سنجش یا د تولید دلګښت سنجش**

دا د موسسې داخلي سنجش دی، دا سنجش د جوړو شویو محصولاتو د ټمام شوي قیمت ید محاسبې له پاره په کار وړل کیږي او د دورې پر مهال او د موجودې متاع لپاره د د ورې د پای په جوړولو کې تهیه کیږي. په دې سنجونه کې د ټمام شود میاشتنۍ قیمت، په روانه او تېره میاشت کې د جوړې شوې امتعې د ټمام شوي قیمت او په راتلونکو میاشتو کې د امتعې د قیمت د زیاتوالي او یا هم کموالي په سنجونه کې اسانتیا راولي.

د محصولاتو د ټمام شوي قیمت د ارزیابي لپاره د لګښتونو د سنجونی مختلف سیستمونه شتون لری او د تولید دلګښت سنجونه د موسسې د لګښت د سیستم په سنجونې پورې اړه لري یا په بل عبارت د تولید د لګښت ارزښت مختلفې فورمې لري چې تهیه کول یې د موسسې د لګښتونو د سیستم سره مستقیمه اړیکه لري او همداراز د تولید دلګښتونو د سنجونې آسانه فورمه لاندې برخې لري. دا اسانتیا ددې لامل ګرځي چې له خرڅلاو او مارکیټ سره د تولید اندازه مقایسه او برابره کړو.

د ټمام شوي قیمت د سنجش دایره مرسته راسره کوي چې د ټمام شوي قیمت په اړه معلومات راکړي، همدارنګه د موادو، مصرف او مزد د معلوموملو په اړه هم مرسته راسره کولای شي. په دې توګه کولای شو چې د جوړیو شویو محصؤلاتو ټمام شوي قیمت وپیژنو، تولید شوي مواد سنجش کړو او خپلو مدیرانو ته یو روښانه او واضع راپور وړاندې کړو.

د محصولاتو د ټمام شوي قیمت د سنجش له پاره مختلف سیستمونه وجود لري. د تولید د مصرف سنجش، د موسسې د مصرف د سنجش سره سم جوړیږي. په بل عبارت، د تولید د مصارفو سنجش مختلفې فورمې لري چې د هغوی چمتو کول د مربوطې موسسې د مصرف د سنجش له سیستم سره تړاو لري. د مصرف د سنجش تر ټولو ساده فورمه په لاندې ډول ده.

**الف: لومړنۍ قیمت ( د تولید د مستقیم مصرف په ګډون ) دوه عامله لري:**

۱- مصرفي مستقیم مواد
۲- تولیدي مستقیم مزد

په مصرفي موادو پورې اړونده اطلاعات د تکمیل شویو کارتونو له حساب څخه د ګرام د دایرې سنجش او په مستقیم مزد پورې د تړلو اصطلاحاتو په مرسته او د مصارفو د سنجش له خلاصې څخه چمتو کولای شو. دا د حقوقو او مزد د دایرې په واسطه په لاس راتلای شي. د دې دواړو د جمعې حاصل د تولید لومړنی قیمت جوړوي.

**الف: لومړنی قیمت( د تولید د مصارفو مستقیمه جمع ):** د موادو مستقیم مصرف او تولیدي مستقیم مزد عوامل په بر کې نیسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په مصرفي موادو پورې اړونده اطلاعات د حساب له کارتونو څخه تکمیل شوي چې د ګرام د سنجش د دایرې او د تولیدي مستقیم مزد پورې اړونده د مصارفو د سنجش د خلاصې په مرسته جوړ شوي. دا د حقوقو د سنجش د دایرې او مزد په واسطه په لاس راځي. د یادو شویو د وو لاملونو د جمعې حاصل، د تولید لومړنی قیمت جوړوي.

**ب: د مزد په دوره کې د تولید د مصارفو مجموع:** د لومړني قیمت په دوو مرحلو یعنې د لومړني قیمت او د تولید د مشترک قیمت مصرف ( د کارخانې غیر مستقیم لګښتونه ) کې شامل دي. مشترک تولیدي مصارف د واقعي مصارفو د اسنادو او مدارکو په مرسته ترسره کیږي او د مخکې تعین شویو نرخونو په واسطه مشترک مصارف تعین کیږي. د دورې پر مهال د تولید د مصارفو جمع د لاندنۍ رابطې په واسطه په لاس راځي.

**د اولیه تولید مشترک مصارف = د دورې په لړ کې ټول لګښتونه**

**ج: د تولید په دوره کې د امتعې ټمام شوی قیمت:** په لومړنی دورې کې د امتعې د موجود ټمام شوی قیمت او د سنجش په دوره کې د تولید د مصارفو جمع په بر کې نیسي.

$$\left\{\begin{array}{c}\text{د تولید په دوره:}\\\text{کې د مصارف جمع}\end{array}\right\} + \left\{\begin{array}{c}\text{د امتعي موجودي ټمام شوی قیمت،}\\\text{د لومړنی تولید په بهیر کې}\end{array}\right\} = \left\{\begin{array}{c}\text{د تولید په دورې کې د}\\\text{امتعې ټمام شوی قیم}\end{array}\right\}$$

**د: د یوې دورې په جریان کې د جوړې شوې متاع ټمام شوی قیمت:** د تولید د مصرف د سنجش وروستۍ او مهمه برخه جوړوي. د محاسبې لپاره یې باید په پیل کې د موجودې امتعې څیړل او حساب د دورې د پای په جوړولو کې په پام کې ونیول شي. وروسته بیا د امتعې له ټمام شوي قیمت څخه سنجونه کسر کیږي او په دې ترتیب د جوړې شوې امتعې ټمام شد قیمت د دورې پر مهال چې تولید د مصرف وروستی او نهایي سنجش دی، محاسبه کیږي.

$$\left\{\begin{array}{c}\text{د تولید په دوره کې}\\\text{د مصارف جمع}\end{array}\right\} + \left\{\begin{array}{c}\text{د امتعي موجودي ټمام شوی قیمت،}\\\text{د لومړنی تولید په بهیر کې}\end{array}\right\} = \left\{\begin{array}{c}\text{د تولید په دورې کې د}\\\text{امتعې ټمام شوی قیم}\end{array}\right\}$$

**مثال:** د الکوزي شرکت د مصارفو د اصطلاحاتو برخه په لاندې ډول ده:

د تولید مستقیم مزد ۱۸۳۰۰۰۰افغانۍ، غیر مستقیم مواد ۱۸۰۰۰۰ افغانۍ، مزد غیر مستقیم

(c) ketabton.com: The Digital Library

۷۰۰۰۰افغانۍ، د کار کوونکو د ټولنيزو بيمو لګښت ۳۸۰۰۰۰ افغانۍ، د برښنا او مرکز ګرمۍ لګښت ۲۱۵۰۰۰ افغانۍ،دماشينونو استهلاک ۲۴۵۰۰۰ افغانۍ، د حوادثو د لګښت بيمه۱۵۴۰۰۰ افغانۍ، د ماشين آلاتو د بيمې لګښت ۱۱۱۰۰۰ افغانۍ، په لومړۍ دوره کې د متاع د جوړولو د موجودۍ جريان ۶۴۸۰۰۰ افغانۍ.

له دې سره د دورې په پای کې موجوده متاع ۷۵۳۰۰۰ افغانۍ سنجول شوې دي او وړاندې شويو اطلاعاتو ته په کتوسره د توليد لګښت په لاندې توګه تهيه کيږي.

**د موسسې څخه د باندې دلګښتونو سنجونه**

له موسسې څخه د باندې د لګښتونو سنجونه ، د لګښتونو هغه سنجونه ده، چې د وړاندې کولو لپاره حقيقي او حقوقي اشخاصو ته اړتيا لري.

له موسسې د باندې د لګښتونو سنجونه بايد د اصولو په اساس ومنل شي او د محاسبې استندردونه تنظيم شي ، د موسسې څخه د باندې د لګښتونو سنجونه د مالي دورې په پای کې، د دايرې په واسطه محاسبه او تهيه کيږي.

غوره ده چې د موسسې څخه د باندې د لګښتونو سنجونه په تطبيقي او مقايسوي توګه تهيه شي، ترڅو د ګټه اخيستونکو له پاره د بررسۍ امکان ، تجربه او زيات تحليل چمتو شي.

د موسسې څخه د باندې د ځينو لګښتونو سنجونه عبارت ده له: د پلورل شوې متاع د تمام شوي قيمت ارزيابي ، د ګټې او زيان سنجونه ، د ګرځيدلو سنجونه اونور.

| د الکوزي توليدي شرکت<br>په ۱۳۸۸ کال کې د توليد شوې امتعې د تمام شوي قيمت سنجش | | | |
|---|---|---|---|
| د لومړۍ دورې په توليد کې د متاع موجوديت | | | ۶۴۸۰۰۰ |
| په دوره کې لګول شوي مواد | | ۳۲۷۰۰۰۰ | |
| مستقيم مزد | | ۱۸۳۰۰۰۰ | |
| لومړني قيمتونه | | ۵۱۰۰۰۰۰ | |
| د توليد مشترکت لګښتونه | | | |
| غير مستقيم مواد | ۱۸۰۰۰۰ | | |
| غير مستقيم مزد | ۷۰۰۰۰ | | |
| د کارګرانو د اجتماعي بيمې سنجول | ۳۸۰۰۰۰ | | |
| د مرکز ګرمي او برښنا لګښت | ۲۱۵۰۰۰ | | |
| د ماشينونو استهلاک او لګښت | ۲۴۵۰۰۰ | | |
| د بيمې د حوادثو لګښت | ۱۵۴۰۰۰ | | |
| د ماشينونو د لګښت بيمه | ۱۱۱۰۰۰ | ۱۳۵۵۰۰۰ | ۶۴۵۵۰۰۰ |
| د دورې د توليد په جريان تمام شوي قيمت | | | ۷۱۰۳۰۰۰ |
| کسر کيږي: د دورې په پای کې د توليد موجودي امتعه | | | ۷۵۳۰۰۰ |
| د جوړې شوي امتعې د توليد قيمت | | | ۶۳۵۰۰۰۰ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دلته یې ځینې برخې بیانوو:**

د پلورل شوې متاع د تمام شوي قیمت سنجونه

دغه سنجونه د هرې مالي دورې په پای کې د لګښتونو د سنجونې د لګښت د دایروي وسیلې په واسطه تهیه کیږي.

له دې سنجش څخه ګټې اخیستونکي کولای شي چې د دورې پر مهال د تولید په مصارفو پورې اړونده او همدارنګه د دورې په پای کې د موجوده جنسونو تمام شوي قیمتونه پیداکړي.

د خرڅې شوې امتعې د تمام شوي قیمت لاندې برخې لري.

**مصرفي مواد**

د پورتنۍ سنجونې لومړی برخه چې شاید مهمه برخه یې وي ، د اطلاعاتو لنډ درج کول چې په مصرفي موادو پورې اړوند دي، د یوې دورې په ترڅ کې دتولید لپاره حاصلیږي.

**مستقیم مزد**

د درج شویو لنډو اطلاعاتو د سنجونې دوهمه برخه ده چې په مستقیم مزد پورې اړه لري چې د اطلاعاتو د لګښتونو د سنجونې له دفتر، مدرک او مزد څخه خارجیږي.

**د تولید مشترک مصارف**

د اطلاعاتو د درج سنجش د تولید په مشترکو مصارفو ( د تولید غیر مستقیم مصارف ) پورې اړه لري. د تولید په مشترکو مصارفو پورې داړونده اطلاعاتو ارایه(د تولید غیر مستقیم مصارف) د امتعې د خرڅلاو په تمام شوي قیمت کې صورت نیسي.

په واقعي مشترکو مصارفو او د تولید په اقلامو پورې ځینې تړلې تولیدي واحدونه بلافاصله د تولید په جریان کې د امتعې د حساب له تحقق وروسته صورت نیسي. په بله ژبه، دا ډول واحدونه د تمام شوي قیمت په درې واړو عاملینو ( مواد، مزد، مشترک مصارف ) واقعي ارقامو ته په پام سره او د تولید په جریان کې د امتعې د حساب له درکه منظور کیږي. په دې توګه په مشترکو مصارفو پورې اړونده اطلاعات چې په یوه دوره کې ترسره شوي وي، د مصارفو اسنادو او مدارکو ته په کتو سره استخراج کیږي. خو له دې امله چې ډیر وخت واقعي قیمت مشخص نه وي له همدې امله د اکثرو واحدونوډیری مشترک مصارف د مشترکو مصارفو د هرې مالي دورې په پیل کې پوره کیږي. په دې پوره کولو کې له متداولو لارو چارو څخه کار اخلي او د مشترکو مصارفو د نرخ د جذب وړاندوینه کیږي. په دې توګه نرخ ته په پام سره د پلورل شوو محصولاتو تمام شوي قیمت د مشترکو مصارفو له هغه نرخ څخه تعین کیږي چې وړاندوینه یې په پام کې نیول شویده. د پلورل شویو محصولاتو د تمام شوي د قیمت سنجش د لاندنیو قیمتونو د سنجش له مخې د امکان وړ دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

_خرڅلاو ته د تيارو محصولاتو د قيمت تعين په اوله دوره کې د موجودې امتعې د تمام شوي د قيمت او په دوهمه دوره کې جوړو شويو محصولاتو ته په پام سره په لاس راځي.

{په لومړی دوره کې د جوړو شويو محصولاتو تمام شوي قيمت ته په کتو سره} + {د لومړی دورې د جوړيو شويو محصولاتو تمام شوي قيمت} = {خرڅلاو ته د تيارو محصولاتو تمام شوي قيمت}

_ د موجودې امتعې تمام شوی قيمت د دورې پای، چې دا سنجش د گدام داري او تمام شوي د قيمت پر اساس وضع کيږي د سنجونې د متداولو لارو چارو په مرسته سرته رسيږي.

_ په دوره کې د پلورل شوو محصؤلاتو د تمام شوي قيمت تعين بايد د موجودې جوړې شوې امتعې د سنجونې په نتيجه کې د دورې په پای کې خرڅلاو ته د تيارو محصولاتو د تمام شوي قيمت له مخې کسر شي.

{دپای د دورې د امتعې تمام شوی قيمت} + {د هغې امتعې تمام شوي قيمت چې په دوره کې خرڅلاو ته چمتو وي} = {د مصولاتو تمام شوي قيمت}

**مثال:** که فرضا د الکوزي د شرکت د پلورل شوې امتعې د تمام شوي د قيمت خلاصه، د لومړۍ جوړې شوې امتعې ۱۶۵۰۰۰۰ افغانۍ، او د دورې په پای کې د جوړې شوې موجودې امتعې تمام شوی قيمت ۱۵۰۰۰۰۰ افغانۍ سنجول شوې وي، په لاندې توگه چمتو کيږي.

| د الکوزي توليدي شرکت<br>د ۱۳۸۸ کال لپاره د خرڅې شوې امتعې لپاره دتمام شوي قيمت سنجش | |
|---|---|
| په لومړۍ دوره کې د جوړې شوې امتعې موجودي | ۱۶۵۰۰۰۰ |
| اضافه کيږي: په دوره کې د امتعې تمام شوي قيمت | ۶۳۵۰۰۰۰ |
| خرڅلاو ته تيارې امتعې قيمت | ۸۰۰۰,۰۰۰ |
| دوروستې جوړې شوي دورې موجودي کسر کيږي. | ۱۵۰۰,۰۰۰ |
| د امتعې تمام شوي قيمت | ۶۵۰۰,۰۰۰ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د تقسيمي مصارفو سنجش:**

مثال: د سمنټ جوړولو په فابریکه کې لاندي مصارف موجود دي.

| | |
|---|---|
| ۱- د تخنکي کارکونکو مصارف | ۱۶۰,۰۰۰ |
| ۲- د اداري کارکونکو مصارف | ۱۷۷۰۰۰ |
| ۳- د انرژۍ مصارف | ۸۵۰۰۰ |
| ۴- معاونه مصارف | ۱۵۰,۰۰۰ |
| ۵- د استهلاک مصارف | ۲۲۰,۰۰۰ |
| ۶- د خاص خرڅلاو انفرادي مصارف | ۱۸۰۰۰ |
| ځواب | ۱۸۰۰۰۰ |

که له ټاکلي ډول څخه ۹۰۰۰ خلطې سمنټ تولید شوي وي، د فی واحد تولید بیه روښانه کړي؟

که د ۹۰۰۰ تولید شویو خلطو څخه یې د ۵۰۰ پلورل شویو خلطو مصرف ۷۵۰۰ افغانۍ وي، او یا هم د ۱۰۰۰ نورو پلورل شویو خلطو مصرف ۱۰۵۰۰ افغانۍ وي، او پاتې ۷۵۰۰ تولیدات په خپله په کارخانه کې پلورل شوي وي، نو له همدې امله د هر خرڅلاو تولیدي قیمت توپیر سره لري.

د دتولید د مصرف واحد ۹۰ = $\frac{۸۱۰۰۰۰}{۸۱۰۰۰۰}$ -۱

۲- $\frac{۷۵۰۰}{۵۰۰}$ = ۱۵

۸۱۰۰۰۰

انفرادی $\frac{۸۱۰۰۰۰}{۷۹۲۰۰۰}$

د فی واحد د تولید مصرف ۱۰۳= ۱۵+ ۸۸ = $\frac{۷۹۲۰۰۰}{۹۰۰۰}$

۳- $\frac{۷۹۲۰۰۰}{۹۰۰۰}$ = ۱۰,۵ +۸۸ = ۹۸,۵

**د فی واحد امتعې تمام شوی قیمت:** د فی واحد تمام شوی قیمت مو ورساوه او د خرڅلاو ځای هم معلوم شو، کله چې تولیدي مصارف ( ۸۸ ) روښانه شول، د ترانسپورت او د خرڅلاو ځانګړي مصارف معلوموو، او په معینو تولیداتو یې ور اضافه کوو. که د موضوع د لا روښانتیا له پاره مصارف په اداري مصارفو او د خرڅلاو په مصارفو وویشو، نو په دې صورت کې تولیدي مصارف په تولید تقسیموو، خو اداري مصارف او خرڅلاو هغه مهال په تولید ویشو چې یاد شوی تولید خرڅ شي. د لا ډیرو معلوماتو له پاره لاندي مثال ته پام کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټول مصارف          ۱۵۰۰۰

د پلورلو انفرادي ځانګړي مصارف۱۰۰۰ افغانۍ، د ٤۰۰ پلورل شویو واحدونو له پاره

د تولید تعداد   ۱۰۰۰ واحده

پلورل شوی تعداد ۸۰۰ واحده

په ټوله کې ۳۰۰۰ افغانۍ اداري مصارف

په ټوله کې ۱۰۰۰ افغانۍ د خرڅلاو مصارف

که ۳۰٪ ګټه په پام کې ولرو، په دې توګه د هر واحد د پلور قیمت معلوم کړی.

**حل:**

في واحد تمام شوی قیمت = مجموعي مصارف / د تولید اندازه      ۱۵۰۰۰ / ۱۰۰۰      ۴,۵==۱۵,۰,۳

۱۵+۴,۵= ۱۹,۵د في واحد د پلور بیه

انفرادي مصارف − مجموعي مصارف / مقدار      ۱۵۰۰۰-۱۰۰۰ / ۱۰۰۰      ۴,۲==۱۴,۰,۳

۱۸,۲=۴,۲+۱۴

۲,۵+

۲۰,۷

| | | | |
|---|---|---|---|
| خاص اداري انفرادي مصارف، پلورل ۲,۵=فی واحد | ۱۰۰۰ | خاص انفرادي مصارف د خرڅه | |
| | ۴۰۰ | شوې اندازه | |

تولیدي مصرف = (د ځرڅلاو اداري مصرف)-(د خرڅلاو انفرادي مصرف) / د تولید اندازه

۱۰ = ۱۰۰۰۰ / ۱۰۰۰۰ = ۱۵۰۰۰ - ۱۰۰۰ - ۴۰۰۰ / ۱۰۰۰

۵ = ۴۰۰۰ / ۸۰۰

د في واحد تمام شوي مصرف ۱۰+۵= ۱۵

د في واحد تمام شوي مصرف ۱۵

~~۳۰٪ مفاد ۴,۵~~

۱۹,۵

د پلور خاص انفرادي مصرف ۲,۵

د خرڅلاو بیه ۲۲,۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

په صنعتي تصديو کې باید نیمه کاره او په نیمایي کې پاتې شوي تولیدات ونه پلورل شي او دا تولیدات یواځې په تولیدي قیمت، قیمت ګذاري کیږي. ( د احتیاط له پرنسیپ څخه استفاده )

**د متناسبو څانګو په اساس د تقسیمی لګښتونوسنجونه**

په عمومي ډول تصدۍ یوډول تولید نه لري، بلکی بیلابیل تولیدات لري او داچې تولیدات یې له عین موادو یا د معین جنس څخه په مختلفو اندازو سره وي، نوله دې مخې باید د تولیداتو مختلف لګښتونه، متناسبو څانګوته په کتو سره ویشل کیږي. په دې موضوع د لاښې پوهیدنې لپاره لاندې مثالونو ته پام وکړي.

**مثال :** په یوه تصدۍ کې درې ډوله سیخ ګول په اندازه د ۱cm, ۲cm , ۰,۵cm تولیدیږي، دغه سیخ ګولونه د یو جنسیت څخه دي. خو یواځې اندازې یې فرق سره کوي ، د لومړي سیخ ګول ۵۰۰m دویم ۶۰۰m اودریم ۵۰۰m وي، مجموعي لګښتونه افغانۍ ۱۷۰۸۰۰ دی.

**د هر متر سیخ ګول قیمت:**

دغه پوښتنه څو واري د نقطو په پام کې نیولو سره، په مختلفو طریقو حل کوو:

۱- که پورتنۍ پوښتنې ، د وېشل شوي سنجونې د فورمول په اساس حل کړو، د فی متر سیخ ګول ځواب په لاندې توګه لاسته راځي.

$$\text{د فی متر تمام شوی قیمت} \quad \frac{\text{مجموعي لګښتونه}}{\text{د تولید اندازه}} = \frac{۱۷۰۸۰۰}{۱۶۰۰} = ۱۰۶,۷۵ \text{افغانۍ}$$

دغه لاسته راغلي ځواب د قناعت وړ نه دی، ځکه د سیخ ګول قطرونه ، په محاسبه کې په پام کې نه دي نیول شوي، نوځکه د هر باریک او ډبل سیخ ګول قیمت مساوي لاسته راغلی ،چې دغه موضوع اخیستونکي او پلورونکي ته د منلو وړ نه ده. د کار د آساني او دقت لپاره لاندې جدول په پام کې نیسو. .

| شېره | متناسبه شاخص | مقدار | متناسب مقدار | د فی واحد متوازن لګښتونه | د هرې نوعې مجموعي لګښت | د فی متر لګښت |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | ۱ cm | ۵۰۰ m | ۵۰۰ | ۸۷,۵۸۹۷ | ۴۳۷۹۴,۸۴ | ۸۷,۵۸۹۷ |
| ۲ | ۲ cm | ۶۰۰ m | ۱۲۰۰ | ۸۷,۵۸۹۷ | ۱۰۵۱۰۷,۶۴ | ۱۷۵,۱۷۹۴ |
| ۳ | ۰,۵ cm | ۵۰۰ m | ۲۵۰ | ۸۷,۵۸۹۷ | ۲۱۸۹۷,۴۲۵ | ۴۳,۷۹۴۸۵ |
| | | | ۱۹۵۰ | ۱ | ۲ | ۳ |

۱- $\frac{۱۷۰۸۰۰}{۱۹۵۰} = ۸۷,۵۸۹۷$

۲- $۴۳۷۹۴,۴۵=۵۰۰\times a-۸۷,۵۸۹۷$

$۱۰۵۱۰۷,۶۴=۱۲۰۰\times b-۸۷,۵۸۹۷$

$۲۱۸۹۷,۴۲۵=۵۰۰\times c-۸۷,۵۸۹۷$

۳- a- $\frac{۴۳۷۹,۸۵}{۵۰۰} = ۸۷,۵۸۹۷$

b- $\frac{۱۰۵۱۰۷,۶۴}{۶۰۰} = ۱۷۵,۱۷۹۴$

c- $\frac{۲۱۸۹۷,۴۲۵}{۵۰۰} = ۴۳,۷۹۴۸۵$

د پورتنۍ پوښتنې په اساس ، لیدل کیږي، چې د یو متر ضخیم سیخ دوه برابره د نازک سیخ او د یوباریک جنس قیمت د متوسط جنس د نیمايي اندازې پورې دی. د پورتنۍ پوښتنې ځواب په لومړي سرکې کار اچولو ته په کتوسره د اطمنان وړدی، خو دا باید ووایو چې د کار له پلوه چندان فرق په کې نه لیدل کیږي. تر دې چې په ځینو مواردو کې د کوچیني جنس کار ډېر وي. له همدې امله پورتنۍ سنجونه د لګښتونو د شعبو په سنجولو کې د نسبي او تجربوي اعدادو په واسطه اصلاح کیږي او پورتنۍ ستونزې له منځه وړي او تجربي عددونه د پخوانیوکارکوونکو اوهمداراز د هغو امرانو چې کلونه یې د خپلې مطابق په دوکان کې کار کړی او کافي تجربه لري ، لاسته راوړی شو، چې د پورتنیو نسبتي اعدادو د هرې لومړنی نوعې لپاره۱ ، د دویمې نوعې لپاره ۱,۵ او د درېیمې نوعې لپاره ۰,۶ فکر شوی دی، نو پورتنۍ پوښتنه نسبتي عددونو ته په کتوسره حل کوو.

| شمېره | متناسبه شاخص | مقدار | نسبتي اعداد | موازنه شوی، نسبتي مقدار | د حساب فکتور | مجموعي قیمت | د فی متر قیمت |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | ۱cm | ۵۰۰m | ۱ | ۵۰۰ | ۱۰۰,۴۷۰۵ | ۵۰۲۳۵,۲۵ | ۱۰۰,۴۷۰۳ |
| ۲ | ۲ cm | ۶۰۰m | ۱,۵ | ۹۰۰ | ۱۰۰,۴۷۰۵ | ۹۰۴۲۳,۴۵ | ۱۵۰,۷۵ |
| ۳ | ۰,۵ cm | ۵۰۰m | ۰,۶ | ۳۰۰ | ۱۰۰,۴۷۰۵ | ۳۰۱۴۱,۱۵ | ۶۰,۲۸۰۳ |
| | | | | ۱۷۰۰ | | | |

$\frac{۱۷۶۸۰۰}{۱۷۰۰} = ۱۰۰,۴۷۰۵$

(c) ketabton.com: The Digital Library

| د فی متر قیمت | | تولیز قیمت | مقدار | حسابی فکتور |
|---|---|---|---|---|
| ۱۰۰,۴۷۰۵ | ۵۰۰=÷ | ۵۰۲۳۵,۲۵ | ۵۰۰=× | ۱۰۰,۴۷۰۵ |
| ۱۵۰,۷۵ | ۶۰۰=÷ | ۹۰۴۲۳,۴۵ | ۹۰۰=× | ۱۰۰,۴۷۰۵ |
| ۶۰,۲۸۰۳ | ۵۰۰=÷ | ۳۰۱۴۱,۱۵ | ۳۰۰=× | ۱۰۰,۴۷۰۵ |

**د کار مرحلو ته په کتوسره د تقسیمي لګښتونو سنجش**

دا سنجش هغه وخت دګټې اخیستنې وړ دی، چې تولید د جنس په بڼه وي، د کار د حاصل نتیجې څو تولیدي مرحلې پرمخ وړی او بدولونونه په کې رامنځته شي.

**مثال:** بریکت په تولیدي مرحله کې څو مرحلې طی کوی، ترڅو چې تکمیلي شکل ځانته غوره کړي. په دې صورت کې په لومړۍ مرحله کې تولیدي لګښتونه په هماغه تولید ویشو، چې په لومړۍ مرحله کې لاسته راغلی او وروسته دویمې مرحلې ته لیږدول کیږي. د لومړۍ مرحلې لګښتونه له دویمې مرحلې سره جمع کیږي، د دویمې مرحلې په تولیداتو ویشل کیږی او په دې ترتیب که څو تولیدي مرحلې شتون ولري سنجونه ترسره کیږی. تولیدی قیمت په وروستۍ مرحله کې تثبیت کیږي. په دې سنجونه کې د کارڅو مرحلې ترلاسه کیږي، څکه په هره مرحله کې ضایعات لري.

یا په مربوطو ګدامونو کې تغیرات رامنځته کیږي. مثال: که په یوه دوره کې د ډبرو د سکرو اندازه او استخراج ۲۰۰۰۰t وي، په دفترونو کې لګښتونه په لاندې ډول دي:

په لومړۍ مرحله کې د في ټن سکرو مجموعي لګښتونه عبارت دي له:

| | |
|---|---|
| ۱- فرد | ۲۶۰۰,۰۰۰ |
| ۲- معاش | ۳۷۵۰,۰۰۰ |
| ۳- مواد | ۱۴۵۰,۰۰۰ |
| ۴- برقی مصرف | ۲۶۰۰,۰۰۰ |
| ۵- د استهلاک مصرف | ۱۸۷۵۰۰۰ |
| ۶- اداری مصارف | ۵۸۰۰,۰۰۰ |
| | ۱۸۰۷۵۰۰۰ |

په لومړي پړاو کې د ډبرو سکرو د یو ټن ټول لګښت عبارت دي له:

$$\text{د یو ټن لګښت} \quad \frac{\text{ټول لګښتونه}}{\text{د تولید اندازه}} = \frac{۱۸۰۷۵۰۰۰}{۲۰۰۰۰} = ۹۰۳,۷۵$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ذکر شوی تولید دترانسپورت څخه تر بریکت پورې کرایه ورکول کیږی چې په دې اساس د فابریکې پورې د فی ټن ډبرو سکرو د رسولو کرایه ۷۵ افغانۍ کیږي.

| | |
|---|---|
| تولیدی مصرف | ۹۰۳,۷۵ |
| د ترانسپورت مصرف | ۷۰ |
| د یو ټن رسیدلو د ډبرو سکرو بیه | ۹۷۳,۷۵ |

$$\frac{۱۴۰۰۰۰۰}{۲۰۰۰۰} = ۷۰$$

هغه لګښتونه چې د بریکت جوړونې په دستګاه کې رامنځته کیږي په لاندې ډول دي:
که د تولید اندازه له ضایعاتو وروسته ۱۵۰۰۰ ټنه وي ، د بریکت شوي فی ټن ټمام شوی قیمت پیداکړئ.

| | | | |
|---|---|---|---|
| د لومړۍ مرحلې لګښتونه | ۱۸۰۷۵۰۰۰ | ۷۰۰۰ | د موادو مصرف |
| دترانسپورت لګښتونه | ۱۴۰۰۰۰۰ | ۱۱۰۱۲۵ | د برښنا لګښت |
| د دوهمې مرحلې لګښتونه | ۸۴۵۸۷۵ | ۲۴۸۷۵۰ | د مزد لګښت |
| | | ۲۶۲۵۰۰ | داستهلاک مصرف |
| مجموعي لګښتونه | ۲۰۳۲۰۸۷۵ | ۱۷۵۰۰۰ | اداري لګښت |
| | | ۳۰۰۰۰ | د معاشونولګښت |
| | | ۱۲۵۰۰ | متفرقه لګښت |
| | | ۸۴۸۵۷۵ | د یوې مرحلې ټولیز لګښت |

د فی ټن بریکټ ټمام شوی لګښت ۱۳۵۴,۷۲۵ $= \frac{۲۰۳۲۲۰۸۷۵}{۱۵۰۰۰}$

د تقسیمي لګښتونو سنجول د کار موضوعاتو ته په کتو سره په لاندې ډول رامنځته کیږي.
**الف** – د هغو تولیداتو د لګښتونو سنجول چې یو له بل سره ارتباط لري.
د دې تولید په اړه هغه وخت خبرې کیدای شي. چې د تولیدی کار په جریان کې پر اصلي تولیداتو سربیره ، نورضمني تولیدات هم رامنځته شي. **مثال:** دګاز د تولید په وخت کې د ذغالو د تولیداتو څخه لکه کوکس ، قیر او نور لاسته راځي، چې د دغو تولیداتو ټمام شوی قیمت همیشه دیو تناسب په اساس چې یو له بل سره ارتباط لري ، رامنځته کیږي ، څکه رامنځته شوي تولیدات

(c) ketabton.com: The Digital Library

تل د یوه تناسب په اساس، چې یو له بل سره ارتباط لري رامنځته کیږي، رامنځته شوي تولیدات د تصدي لپاره ډیر اهمیت لري.
فرعي تولیدات په خپله تصدۍ کې د هغې په خپله فعالیت کې په کار اچول کیږي یا داچې ذکر شوي مواد د نه ګټه اخیستل کیدونکو ضایعاتو په کتار کې شمېرل کیږي یا د فرعي تولید په توګه پلورل کیږي اود دغو تولیداتو په ټامه شوې سنجونه کې مختلف میتودونه شتون لري، چې په دې ځای کې یواځې له هغو څخه یادونه کوو.

**د تفریقي میتود په اساس سنجش**

له دغه میتود څخه هغه وخت ګټه اخیستل کیږي چې په لومړی ګام کې عمده او فرعي تولیدات وویشل شي او د فرعي تولیداتو د پلورنې عاید د مجموعي عاید په پلورنه کې لږ سهم ولري.
مثال: د نجارۍ په یوې دستګاه کې د ارې بوره د فرعي تولیداتو د تخمیني پلورنې عاید له مجموعي لګښتونو څخه وضع کیږي او پاتې بیسې یې دعمده تولیداتو په توګه پیژندل کیږي.

**د مثال په توګه:**

په یوه معینه دوره کې د یوې اره کشۍ په دستګاه کې رامنځته شوی فعالیت ۱۰,۰۰۰ کنده چهارتراش په مختلفو اندازو قطع شوي او مجموعي لګښت یې ۹۱۳۴۰۰ افغانۍ کیږي، همداراز پر یادو لګښتونو سربیره ۲۸۵۰ ( منه ) رامنځته شوې بوره اره چې د هر من قیمت یې ۳۵ افغانۍ کیږي، په دې صورت کې د عمده تولیداتو لګښتونه عبارت دي له:

| | |
|---|---|
| مجموعی مصارف | ۹۱۳۴۰۰ |
| د فرعی تولید د پلور عاید | ۲۸۵۰= ۹۹۷۵۰×۳۵ |
| د عمده تولیداتو مصارف | ۸۱۳۶۵۰ |

**د بازار د قیمت په اساس سنجش**

په دغه میتود کې دوه حالته توپیر سره لري.
۱- د تولیداتو لګښت د بازار د قیمت په اساس تثبیت کیږي.
۲- د موادو کیمیاوي او تخنیکي خصوصیاتو ته په کتوسره د هغوی لګښتونه سنجول کیږي.

**مثال:** د ګاز د تولید په یوه فابریکه کې د ۶۸۰۰m ګاز په څنګ کې ، نور تولیدات لکه کوکس ، قیر ، نبرول او امونیا تولیدیږي ، مجموعي لګښتونه یې ۱۴۴۰۰۰۰ افغانۍ دي، د هر ډول تولید پلورل، د پلورنې د لاندې تولیداتو څخه لاسته راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

| د هرې برخې لګښتونه | فکتور | نسبت | په افغانیو باندې د بازار قیمت | د تولید نوعیت |
|---|---|---|---|---|
| ۷۲۰۰۰۰ | ۱۸۰۰۰ | ۴۰ | ۸۰۰۰۰۰ | ګاز |
| ۴۵۰۰۰۰ | ۱۸۰۰۰ | ۲۵ | ۵۰۰۰۰۰ | کوکس |
| ۱۲۶۰۰۰ | ۱۸۰۰۰ | ۷ | ۱۴۰۰۰۰ | قیر |
| ۱۰۸۰۰۰ | ۱۸۰۰۰ | ۶ | ۱۲۰۰۰۰ | بنزول |
| ۳۶۰۰۰ | ۱۸۰۰۰ | ۲ | ۴۰۰۰۰ | امونیا |
| ۱۴۴۰۰۰۰ | ۱۸۰۰۰ | | | |

| | | | |
|---|---|---|---|
| =۷۲۰۰۰۰ | ۱۸۰۰۰×۴۰ | =۱۸۰۰۰ | ۱۴۴۰۰۰۰ |
| =۴۷۰۰۰۰ | ۱۸۰۰۰×۲۵ | | ۸۰ |
| =۱۲۶۰۰۰ | ۱۸۰۰۰×۷ | | |
| =۱۰۸۰۰۰ | ۱۸۰۰۰×۶ | | |
| =۳۶۰۰۰ | ۱۸۰۰۰×۲ | | |

**مثال:** په یوه معدن کې ۱۷۰۰۰T د مسو او سربو تیږې استخراجیږي، چې ۹۰۰۰T یې مس او پاتې نور یې سرب دي، د مسو په تیره کې ۵٪ خالص مس او د سربو په تیږه کې ۱۰٪ خالص سرب شتون لري ، د تجربې په وخت کې د مسو ضایعات ۱۰٪ او په سربو کې ۲۰٪ دي.

په بازار کې د في ټن مسو قیمت ۴۰,۰۰۰ ، او د في ټن سربو بیه ۲۵۰۰۰ افغانۍ ده، د بازار قیمت ته په کتوسره د هر تولید ونډه وسنجوئ؟

| نسبت | مجموعي قیمت | د في ټن قیمت | د تولید خالص مقدار | خالص تولید | مقدار | د تولید ډول |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۸۱ | ۱۶۲۰۰۰۰۰ | ۴۰۰۰۰ | ۴۰۵ | ۴۵۰ | ۹۰۰۰ | مس |
| ۸۰ | ۱۶۰۰۰۰۰۰ | ۲۵۰۰۰ | ۶۴۰ | ۸۰۰ | ۸۰۰۰ | سرب |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| د هر ډول مصرف | فکتور |
|---|---|
| ۸۳۰۱۲,۲۲ | ۱۰۲۴۸,۴۴۷۲ |
| ۸۱۹۸۷۵,۷۸ | ۱۰۲۴۸,۴۴۷۲ |
| مجموعي قیمت | ۱۶۵۰۰۰۰ |

| | |
|---|---|
| ۹۰۰۰-۵٪=۴۵۰ | I |
| ۸۰۰۰-۱۰٪=۸۰۰ | |
| ۴۵۰-۱۰٪=۴۵ | |

| | |
|---|---|
| ۸۰۰-۲۰٪=۱۶۰ | II |
| د ضایع شوې فیصدی د ضایعاتو اندازه<br>۴۵۰-۴۵=۴۰۵x۴۰۰۰= | |
| ۸۰۰-۱۶۰=۶۴۰x۲۵۰۰۰= | |

**د دوهم طرز لپاره مثال:** که د بازار قیمت معلوم نه وي او د لګښت د سنجولو لپاره هرډول تولید له نورو لارو لکه فزیکي خواص یا کیمیاوي تولیداتو څخه ګټه واخیستل شي، موضوع په لاندې توګه وړاندې کوو.

فرضاً ۱۵۰۰kg د ډبرو سکاره په کار اچول شویدي، او له هغو څخه لاندې تولیدات لاسته راځي.

ګاز۳۲۰m۳ ،کوکس۷۵۰kg،قیر

مجموعي مصارف ۳۵۰۰AF

ځکه د بازار قیمت معلوم نه دی او د یادو تولیداتو فزیکي خواص د سنجونې اساس جوړوي.

| | | | |
|---|---|---|---|
| د تولید قوت | =۵۱۰۰ kcal | ګاز | ۱$m^3$ |
| | =۶۰۰ kcal | قیر | ۱kg |
| | =۶۳۰۰ kcal | کوکس | ۱kg |

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کالورۍ مقدار ته په کتو سره د هر تولید برخه پیداکېږئ:

| لګښتونه | فکتور | نسبت خلص | د کالوري مجموعه | دکالورۍ مقدار | مقدار | تولیدات |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | ۱,۵۷۷۲ | ۵۴۴ | ۱۶۳۲۰۰ | ۵۱۰۰ | ۳۲۰m۳ | ګاز |
| | ۱,۵۷۷۲ | ۱۵۷۵ | ۴۷۲۵۰۰۰ | ۶۳۰۰ | ۷۵۰kg | کوکس |
| | ۱,۵۷۷۲ | ۱۰۰ | ۳۰۰۰۰۰ | ۶۰۰ | kg ۵۰۰ | قیر |
| = مجموعی لګښت افغانی ۳۵۰۰ = ۳۴۹۹,۸۰۶۸ | | ۲۲۱۹ | ۳ ÷ نسبت خلص | | | |

| | | |
|---|---|---|
| د فکتور لنډ نسبتونه × فکتور | $\frac{۳۵۰۰}{۲۲۱۹}$ = ۱,۵۷۷۲ | مجموعي مصرف / مجموعي نسبت |

**د کارګاه محاسبه**

**په لومړي سرکې محاسبه په دوه برخو ویشو، یعنې مالی محاسبه او د کارګاه محاسبه ، له بلې خوا بیاهم محاسبه په دوو برخو ویشو.**

**۱- مجموعي محاسبه**

**۲- مصرفي محاسبه.**

**د پنځم څپرکي د مطالبو لنډیز:**

**۱- د هغو تصدیو د لګښتونو سنجول چې کتلوي تولیدات لري:**

که دغه ډول تصدئ یو ډول تولید ولري، نو لاندې فورمول ته په کتو سره د تولید د فې واحد لګښتونه لاسته راځي.

$$\text{د تولید د فی واحد لګښت} = \frac{\text{مجموعي لګښتونه}}{\text{دتولید اندازه}}$$

۲- د هغو تصدیو د لګښتونو سنجش چې د سورت په اساس تولیدات لري:

یعنې هغه تصدۍ چې د یوه جنس څخه څو ډوله مشابه تولید ولري ، دغه تصدۍ د یو ډول

(c) ketabton.com: The Digital Library

موادو څخه په مختلفو اندازو تولیدات کوي او د لګښت له تقسیمي سنجونې څخه ګټه اخلي، خوداچې دتولیداتو اندازې فرق کوي، د لګښت تقسیمي سنجونې ته په پام سره د متناسبو ځانګړتیاوو څخه ګټه اخیستل کیږي.

**۳- د هغو تصدیو د لګښتونو سنجش چې مرحلوي تولیدات لري:**

د مرحله يي لګښتونو په سنجونه کې د تولید د لګښت سنجونه له لاندې درې ځانګو څخه جوړه شویده:

الف – د تولید مقداري جدول.

ب – د دایرې په حساب کې د منل شویو لګښتونو برخه.

ج – د دایرې د لګښتونو تخصیص.

**د احمد شاکر تولیدي کارخانه.**

**د برش دایره**

**د ۱۳۸۸ کال د سنبلې د میاشتې د تولید دلګښت راپور.**

الف – د تولید مقداري جدول.

د لومړۍ مرحلې څخه لیږل شوي۲۵۰۰ واحدونه او وروستۍ مرحلې ته ۲۰۰۰ بشپړ شوي او لیږل شوي واحدونه

د ۵۰۰ جوړولو په جریان کې د امتعې شمیر او همدارز د ٪ ۱۰۰بشپړ شویو موادو له پلوه.

د بشپړ شوي $\frac{۳}{۴}$ پلوه

د ٪ ۲۰بشپړ شوو لګښتونو بشپړ شوې ۲۵۰۰

ب - د تولید په حساب منل شوي لګښتونه

| | ټول لګښت | د یو واحد لګښت |
|---|---|---|
| د مخکینۍ مرحلې انتقالي لګښتونه. | | |
| ۲۵۰۰ واحده امتعه | ۱۲۵۰,۰۰۰ | ۵۰۰ |
| د مصرفي موادو لګښت | ۵۲۰,۰۰۰ | ۲۰۸ |
| مزد | ۳۰۸۷۵۰ | ۱۳۰ |
| مشترک لګښتونه | ۱۷۳۲۵۰ | ۸۲,۵ |
| د اضافه شویو لګښتونو جمع | ۱۰۰۲۰۰ | ۹۲۰,۵ |

**۲- د دایرې د لګښتونو ځانګړي کول:**

راتلونکې مرحلې ته لیږدول شوې او بشپړه شوې متاع ۱۸۴۱۰۰۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۸۴۱۰۰۰ = ۹۲۰,۵×۲۰۰

د جوړولو په حالت کې متاع:

۳۵۴۰۰۰=۵۰۰×۱۰۰٪×(۲۰۸+۵۰۰) د مصرفي موادو له پلوه

۴۸۷۰۵=۱۳۰× $\frac{۳}{۴}$ ×۵۰۰د مزد له پلوه

۸۲۵۰=۵۰۰×۲۰٪ ۸۲,۵× د مشترکو لګښتونو له پلوه ۴۱۱۰۰۰

۲۲۵۲۰۰ ځانګړې شوې مجموعي لګښتونه

د هغو تصدیو د لګښتونو سنجش چې مختلف تولیدات لري:

په لاندې مثالونو کې سنجول کیږي.

په یوې تصدۍ کې درې ډوله سیخ ګول د ۰,۵cm , ۲cm , ۱cm په اندازه تولیدیږي. د لومړۍ ډول ۵۰۰m ، دویم ډول ۶۰۰m او دریم ډول ۵۰۰m تولیدات لري، د هغوی مجموعي لګښت ۱۷۰۸۰۰AF دی ، د هریوه د فی متر قیمت وسنجوئ؟

| شمیره | شاخص | اندازه | متناسبه اندازه | د فی واحد هم وزنه لګښتونه | د هرې یوې برخې مجموعي لګښتونه | فی متر قیمت |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | ۱cm | ۵۰۰m | ۵۰۰m.cm | ۸۷,۸۹۴۷ | ۴۳۷۹۴,۸۵ | ۸۷,۵۸ |
| ۲ | ۲cm | ۶۰۰m | ۱۲۰۰m.cm | ۸۷,۵۸۹۷۴ | ۱۰۵۱۰۷,۶۴ | ۱۷۵,۱۷۵ |
| ۳ | ۰,۵cm | ۵۰۰m | ۲۵۰m.cm | ۸۷,۵۸۹۷۴ | ۲۱۸۹۷,۴۲۵ | ۴۳,۷۹۵ |

$$\frac{\text{۱۷۰۸۰۰ افغانۍ}}{\text{۱۹۵۰m}} = \text{۸۷,۵۸۹۷۴} \times \text{۵۰۰ m.cm}$$

د هرې برخې مجموعي لګښتونه = متناسب مقدار × موازن لګښتونه

د هرې برخې د فی واحد لګښت $= \dfrac{\text{د هرې برخې مجموعي لګښت}}{\text{مقدار}}$

**د تقسیمي لګښتونو سنجول**

په لاندې مثالونو کې تقسیمي لګښتونه سنجول کیږي:

۱- ۱۶۰,۰۰۰ د تخنیکي کارکوونکو لګښتونه.

۲- ۱۷۷۰۰۰ د اداري کارکوونکو لګښتونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳- ۸۵۰۰۰ د برښنا لګښت.

۴ - ۱۵۰,۰۰۰ معاونه لګښت.

۵- ۲۲۰,۰۰۰ د استهلاک لګښت.

۶- ۱۸۰۰۰ د پلورنې خاص انفرادي لګښتونه.

مجموعه ۸۱۰۰۰۰

کله چې د یوې مشخصې برخې څخه ۹۰۰۰ خلطې سمنت تولید شوي وي، د فی واحد د تولید قیمت پیداکړئ؟

که د ۹۰۰۰ خلطو سمنټو له جملې څخه ۵۰۰ یې پلورل شوې وي، د هغه لګښت ۷۵۰۰ افغانۍ کیږي او یا داچې ۱۰۰۰ خلطې نورسیمنټ پلورل شوي وي، د هغه لګښت ۱۰۵۰۰ افغانۍ کیږي او پاتې ۷۵۰۰ د خپلو تولیداتو څخه په خپله فابریکه کې پلورل شوي وي ، نو د هریوه تولیدي تمام شوی قیمت د هر پلورل شوي قیمت سره تفاوت لري.

I $\frac{۸۱۰۰۰}{۹۰۰۰}$ ۹۰=د فی واحد تولید مصارف

II $\frac{۷۵۰۰}{۵۰۰}$ =۱۵

$\frac{۷۹۲۰۰۰}{۹۰۰۰}$ = ۸۸ + ۱۵ = ۱۰۳ انقراولي
۸۱۰۰۰۰
۱۸۰۰۰
۷۹۲۰۰۰

III $\frac{۱۰۵۰۰}{۱۰۰۰}$ = ۱۰,۵ + ۸۸ = ۹۸,۵ ۱۰۳

د امتعې د فی واحد تمام شوی قیمت مو د پلورنې په ځای کې ترلاسه کړ او وروسته له دې چې ۸۸ تولیدي لګښتونه معلوم شول ، د ترانسپورت لګښتونه، د پلورنې د ځانګړو لګښتونو سره په جلا توګه پیداکوو او په معینو تولیداتو یې ور زیاتوو.

**د تفریقي میتود په اساس د لګښتونو سنجونه**

له دغه میتود څخه هغه وخت ګټه اخلو چې په لومړي قدم کې تولیدات په عمده او فرعي توګه وویشو او د فرعي تولیداتو د پلورنې عاید، د پلورنې په مجموعي عاید کې لږه برخه ولري.
مثال: د یوې نجارۍ په دستګاه کې د ارې بوره ، چې د فرعي تولیداتو د پلورنې تخمیني عاید له مجموعي لګښتونو څخه وضح شوې وي، او پاتې د عمده تولیداتو په توګه پیژندل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د بازار د قیمت په اساس د لګښتونو سنجونه**

په دې میتود کې دوه حالته په خپلو کې فرق لري.

۱- د بازار د قیمت په اساس د تولیداتو لګښتونه تثبیت کیږي.

۲- د موادو تخنیکي او کیمیاوي ځانګړتیاووته په کتوسره لګښتونه سنجول کیږي.

**د پنځم څپرکې پوښتنې:**

۱- په صنعتي تصدیو کې د لګښتونو سنجول د مثال په وړاندې کولو سره بیان کړئ؟

۲- د هغو تصدیو د لګښت سنجول چې کتلوي تولیدات لري، د مثال په وړاندې کولو سره بیان کړئ؟

۳- د حاجي زاده تولیدي شرکت د خپلو محصولاتو د تولید لپاره له څو ډوله لومړنیو موادو څخه ګټه اخلي. د الف ماده یې د لومړنیو موادو په نوم په دې شرکت کې مصرف شوی ، د الف د مادې په اړه معلومات د مالي دورې په لړ کې په لاندې ډول ده.

د لومړۍ دورې موجود مواد ۱۶۲۰,۰۰۰ افغانۍ

د دورې په لړ کې دموادو پیرودل ۷۹۴۰,۰۰۰ افغانۍ

د تخفیف او پیرودلو مستردیدل ۳۰۰,۰۰۰ افغانۍ

د اخیستل شویو موادو لیږدول ۲۴۰,۰۰۰ افغانۍ

د وروستۍ دورې موجودي ۲۸۶۰۰۰۰ افغانۍ دی.

د مصرفي موادو تمام شوی قیمت د دورې په لړکې پیداکړئ؟

۴- د پلورل شوې امتعې تمام شوی قیمت ولیکئ؟

۵- دهغو تصدیو د لګښت سنجول چې مرحله یې تولیدات لري، دمثال په وړاندې کولو سره بیان کړئ؟

۶- د پلورنې لپاره د چمتو محصولاتو فورمول ولیکئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شپږم څپرکی

## د پروسې او وظیفې د مصارفو سنجول

**ټولیزه موخه:**
د پروسې د لګښتي عملیو په اړه پیاوړتیا رامنځته کول او د دندې براورد .

**د زده کړې موخې:** د دې فصل په پای کې محصلین له لاندې معلوماتو سره آشنا کیږي:

- دتولید د بیلابیلو سیستمونو او د ارزیابي او لګښت د بیلابیلو سیستمونو د څرنګوالي په اړه معلومات.
- د وظیفوي لګښتونو د سنجونې په اړه معلومات.
- د پروسې د لګښتونو د سنجونې په اړه معلومات.
- د پروژې په اړه معلومات.
- د پروژې د تولید په اړه معلومات.
- دعملیې د سنجونې په اړه معلومات.
- د لګښت د جریان اساسي موډل.
- د بازار موندنې او ادارې لګښت.
- د وسطي لګښتونو په اړه معلومات.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د وظیفوي لګښتونو سنجونه**

**د مطلبونو درک:** د دې فصل په پای کې باید پوه شی چې:

۱- بیان کړی چې څرنګه د لګښتونو د ارزولو مختلف سیستمونه ، د تولید په مختلفو سیستمونو کې طرحه او عملي کیږي.

۲- د لګښت د اساسي جریان موډل بیان کړئ.

| |
|---|
| **وظیفه:** هغه واحدونه چې په آسانۍ سره یې د نورو واحدونو سره توپیر کیږي. |

کله چې تاسې هغه ځای وینی، چې خلک د کورونو په جوړولو مصروف دي او سړکونه جوړ وي، د ساختمانونو او دفترونو په مډل کې بدلون راولي او یا د تیز سیستم د انتقال پروسه جوړوي، دا د یوه تولید د واحدونو وظیفې دي، چې په آسانی سره د نورو واحدونو څخه جلا او توپیر یې کیدای شي ، کله چې تاسې او یا ستاسې کورنۍ نوی کور جوړوی او یا د کور په مدل کې بدلون راولي، نو دغه بنایي کار یې د یوې وظیفې په نوم یادیږي، ځکه په آسانۍ سره یې د ساختمان د نورو برخو سره توپیر کیدای شي.

ځای ناستی تولید او د مصارفو د سنجش سیستمونه

| |
|---|
| **د و ظیفې د مصارفو سنجش** |
| د مصارفو د سنجش یو داسې سیستم چې مصارف په انفرادي واحدونو یا د قراردوادونو او تولیدي ګروپونو په مشخصو وظایفو کې څیرې او محاسبه کوي یې. |

**د پروسې د مصارفو سنجش:**

کله چې متجانس واحدونه، د هم شکله تولید د مراحلو له سلسلې سره سم تولید شوي وي، د مصارفو د سنجش له همدې سیستم څخه ګټه پورته کیږي.

د وظیفې د مصارفو د سیستم سنجش، د هرې برخې مصارف او عواید په انفرادي توګه تثبیتوي. خو په مقابل کې د مصارفو د سنجش پروسه هر واحد په انفرادي توګه نه ثبتوي. اوس تاسو یو غیر الکولي څښاک لري، پام وکړی چې تولید کونکی د همدې څښاک ( نوشابې ) څه قیمت څه ډول سنجش کوي.

په ډیر احتمال سره د دا ډول ګاز لرونکو مشروباتو تولیدونکي، د پروسې د مصارفو سنجش عملي کوي. له دې پروسې څخه هغه مهال استفاده کیږي چې متجانسه تولید شوي واحدونه له هم شکله تولیدي سیستمونو څخه تولید شوي وي. تاسو شاید د دندې پر مهال تفتیش ووسی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

مشاور او  یا د داسې کمپنی کارکوونکې اووسی چې انفرادي تولید لري، په داسې حالاتو کې به پوه شی چې په دې صورت کې د وظیفې د مصارفو له سنجش څخه کار اخیستل کیږي.
دا مهمه ده چې تاسو باید په پیل کې د تصدیو د تولید طریقې وپیژنی، تر څو وروسته په دې پوه شی چې مصارف څنګه او په څه ترتیب محاسبه کیږي.
۱_٦  شکل: د تولید د میتودونو څنځیر یې په داسې توګه ترتیب کړی چې د وظیفې د مصارفو سنجش او د پروسې د مصارفو سنجش راښیي. کومې کمپنۍ چې د وظیفي د مصارفو سنجش راښیي، لکه موریسون او کرسن، قرارداد کونکي، دفاعي پیمان کاران لکه تودهید او بفرید اوب، روغتونونه لکه مایو ( هغه ځای چې وظایف باید په مواضع ډول ونومول شي) فلم جوړونکي لکه یونیورسل ستوډیو ګاني، رسمي حساب داري شرکتونه (حرفوي) لکه د ارتر کمپنۍ او داسې نور.
پروژه: یو پیچلی کار چې د بشپړیدو له پاره شاید میاشتې او کلونه وخت وغواړي. دا کار په مختلفو سیمو او یا هم مختفل فرعي پیمان کارانو ته اړتیا لري او د پروژې د ځینو دندو په نوم نومول کیږي. پروژې مختلفو قراردادونو ته اړتیا لري، لکه، د خرڅلاود مرکزونو بلونه، د دعوا طرح ( دارلوکالې ) او داسې نور.

**پروسه یي تولید**

هغه تولیدي سیستمونه چې په کتلوي شکل  ساده اومتجانس جنسونه په روانو مرحلوکې په متحدالشکله توګه  تولیدوي.

**کتلوی تولید**

مرحله وی سیستمونه په کیمیاوي صنایعو او د غوړیو په تصفیه کولو کې ورڅخه ګټه اخیستل کیږي.

هغه تصدي چې پروسه وي تولیدات  لري، د لګښتونو د سنجونې له مرحلوي میتود څخه ګټه اخلي.

د ۱-۶ شکل:  ځایي تولید او د ارزیابی سیستم ښیی.

| د وظیفوي لګښتونو ارزیابي | د عملیاتی لګښتونو ارزیابي | د لګښتونو ارزیابي | دحسابداری سیستم |
|---|---|---|---|
| د ساختماني وظیفې موده د فلمبرداري استدیوګانې روغتون | ګروپي تولید دلباس  تهیه کول  ، موټر جوړونه ، کمپیوتر | مرحلوي تولیدات،  د غوړیو او د کاغذ د رنګ تصفیه | د تولید شکل |
| سفارشي تولید | د یو ستندرد ګروپ په دننه کې د تولید مختلف ګروپونه | ستندرد شوي تولیدات | د تولید شکل |

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱- عملیاتي سنجونه هغه مخلوط دی چې د وظیفوي او پروسه يي لګښتونو له سنجونې څخه جوړ شوی وي.

د کورجوړونې یوه موسسه باید د لګښتونو د سنجولو د پروسې څخه ګټه واخلي، همدا موسسه باید د وظیفوي لګښتونو د پروسې څخه ګټه واخلي، په هغه صورت کې چې د یوه کور عادي طرحه د یوه اخیستونکي لپاره انفرادي شکل ولري ، د ویل کمپنۍ چې یوه با تکتیکه کمپنۍ ده د پروسه يي لګښتونو د سنجولو د پروسې له سیستم څخه ګټه اخلي.
په هغه حالت کې چې د مخصوصو تولیداتو لپاره چې د دفاع مخصوص سیستم لري او همداراز د ترون کارونه هم د وظیفوي ارزیابي له سیستم څخه استفاده کوي.
عملیه: استاندارد شوی یا تخنیکی میتود چې په دوامداره توګه ورڅخه ګټه اخیستل کیږي.

**د عملیې سنجش**

د ترکیبي لګښت د سنجونې سیستم په معمولي ډول په صنعتي تولیداتو کې چې ځینې عام او ځینې خاص شکلونه لري، ورڅخه ګټه اخیستل کیږي.
ډیرې کمپنۍ د یوه مرکب او وظیفوی سیستم څخه ګټه اخلي، چې د عملیې د سنجونې سیستم په نوم یادیږي.

عملیه د استاندرد شوي میتود څخه عبارت ده، چې په مکرر ډول په تولید کې کارول کیږي.
هغه کمپنۍ چې د عملیې د سیستم د سنجونې څخه کار اخلي ، خپل محصولات د ستندرد تولید د میتود مطابق تولیدوي، خو مواد کولای شي د هر تولید یا د مختلفو تولیداتو ګروپ وي، لکه څرنګه چې په ۶ – ۱ شکل کې وښودل شول.

د مثال په توګه ، د نیسان کمپنۍ د سورلۍ او باروړونکي مختلف موټر تولید کړل، چې د سورلۍ او باروړونکي ټول موټر هماغه یوه ورکشاپ ته وړل کیږي او په هماغه یوه ورکشاپ کې ورته رنګ ورکول کیږي ، په هرحال د موادو دغه اختلاف هغه وخت ښکاریږي چې باروړونکي او د سورلۍ موټر مقایسه کړو.

**د لګښت د جریان اساسي مډل**

د لګښتونو د ثبت لپاره اساسي چوکاټ ، د لګښت د جریان اساسي مډل دی ، تاسو دغه مډل مخکې د محاسبې په صنف کې وکارولو ، په دې ځای کې د ډیر اهمیت او همداراز د لګښتونو د ښودلو لپاره ، دا وظیفه د دوهم ځل لپاره تکراریږي.
وروستۍ موجودي + داخلی لیږدول = داخل ته لیږدول + لومړۍ موجودي
BB+TI=TO+E⊠B

(c) ketabton.com: The Digital Library

**کارول:** دغه مډل له تاسو سره د پیژندل شویو قضیو په حل کې مرسته کوي، چې د حساب لرونکو او دمدیرانو لپاره ګټور دی. د دې کیلۍ په واسطه مجهول حسابونه ځوځلی پیداکولای شو.

**د مثال په توګه:** وروستي طوفان د شرکت دګدام یوه برخه چې قیمتي البسه پکې وه له منځه وړي ، د ګدام د لګښتونو بیمه به دغه کموالی بیرته پوره کړي.

خو تاسو باید موجود تمام شوی ثابت کړی ، لیکن هیڅوک نه شي کولای دایمي موجودي حساب پیداکړي ، له بده مرغه هیڅوک له وروستی طوفان وړاندې د حساب پروسې ته چمتو نه وو ، نوله همدې امله د حساب ورکونکی اساسی مډل تاسې ژغوري.

**د مډل پر اساس**

**BB + TI = TD + EB**

موږ د ګدام د موجود کموالي د دوهم ځل تنظیمولو لپاره اصطلاحات کاروو، چې په ګدام کې وروستی توپیر، له طوفان څخه وړاندې څومره و؟

**EB= BB+TI-TD**

اوس تاسو د تیرکال د مالی حساب څخه پیداکولای شی چې د تیرکال وروستۍ شتمني ۵۰۰،۰۰۰ ډالره وه، چې د سږکال د لومړۍ برخې موجودي ده ، د تامین کونکي ( عرضه کوونکي) له لارې تاسو پیداکولای شی چې سږ کال د ۱۲۰۰،۰۰۰ ډالرو په ارزښت، البسه اخیستل شوې وه، او تاسو د پلورلو د ثبت څخه پیداکولای شی، چې شرکت د ۱۴۰۰،۰۰۰ ډالرو په ارزښت، البسه پلورلې ده ، همداراز تاسو پوهیږی چې لومړۍ موجودي ۵۰۰،۰۰۰ ډالره وه ، نو موجودې ته لیږدوونکي پیسې ۱۲۰۰،۰۰۰ ډالره ده. له همدې امله له موجودی څخه د لیږدولو پیسې ۱۴۰۰،۰۰۰ ډالره کیږی، له اساسی مډل څخه په ګټې اخیستنې سره:

**EB=BB+TI-TD**

۱۲۰۰۰۰۰- ۱۴۰۰۰۰۰ = ۳۰۰۰۰۰+EB=۵۰۰۰۰۰

اوس د شرکت ګدام لرونکي کولای شي، چې په طوفان کې ۳۰۰۰۰۰ ډالره، د له لاسه ورکړیو پیسو راپور ورکړي.

**یو بل مثال:** د سوپر سویت کارخانې په سپورتی مغازه کې د تنیس راکټونو پلورلو ته پام وکړی، چې دمارچ په میاشت کې یې لومړۍ موجودي ۱۵ راکته وه، د ګدام موجودي چې د مارچ په ۳۱ سرته ورسیدله وروستۍ پلټنې وښودله چې ۱۵ راکته پیداشول ، د پیرودلو د ثبت په اساس مدیر پوهیږي چې د ۴۰ تینس راکټونو پیرودل شوي دي ، د مارچ د میاشتې په جریان کې ټول راکټونه چې هریوېې په ۱۰ امریکایی ډالره اخیستل شوی، ټولې تمام شوې پیسې عبارت دی له:

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ۱۰ دانو راکتونو لومړۍ موجودي (۱۰×۱۰ دالر ) ۱۰۰ ډالر ه
د ۱۵ دانو راکتونو وروستۍ موجودي (۱۵×۱۰ دالر) ۱۵۰ ډالره
د ۴۰ دانو راکتونو اخیستل (۴۰×۱۰ ډالر) ۴۰۰ ډالره

**د اصلي مډل پراساس د لګښت جريان:**

**BB + TI = TO – EB**

مديريت ، د پلورل شويو توکو قيمت چې مجهول وي او يا TO په دې ترتيب پيداکوي.

TO=BB+TI-EB

۱۵۰-۴۰۰+TO=۱۰۰

TO=۳۵۰

يوه دايمې موجودي ، دوره يې موجودۍ ته په کتوسره ډير ارقام وړاندې کوي.

**دمثال په توګه:** د دايمې موجودې په يو سيستم کې د موجودی تفاوت پيداکول او همداراز ټول پلورل شوي توکي، تل چمتو او د ګټې اخيستنې وړ وي ، خو په يوه دوامدار موجودي سيستم کې دغه معلومات يواځې د موجودي د فزيکي شميرنې وروسته د ګټې اخيستنې وړ وي.

دايمې موجودی د کنټرولي مقصدونولپاره هم ګټوره وي، ځکه د ثبت دفتر کولای شي، په فزيکي شميرنې سره يې مقايسه کړي چې د غلا او خرابوالي ، او يا نورو ستونزو څخه ډاډ ترلاسه کړای شي. دوامدار ميتود او ښه اطلاعات د ساتنې د سيستم لپاره يوه ښه بيلګه ده او په کمپيوټرونو اونورو برقی وسايلو کې د کوډ څخه په ګټې اخيستنې سره ټولې موسسې کولای شی چې خپل هرڅه په ښه او غوره طريقې سره وساتي.

له هرو شپږو مياشتو وروسته بايد د کموالي د معلومولو ، دغلا د مخنيوي ، د اداري دقت ، د کورنيو او بهرنيو رضاکارانو د خوښې لپاره يوه فزيکی موجودي رامنځته شي.

**د دندې دسنجولو ګټې**

د دندې د لګښتونو سنجول د لګښتونو د قيمت او کنټرول لپاره ډير اهميت لري ، لوی اخيستونکي تل د پخوانيو لاسته راوړنو غوښتنه کوي اوپه معمولي ډول ټول کارونه يو رقابتي اساس شميري ، په هغه صورت کې چې عرضه کوونکي د رقابت له لارې د کار غوښتونکي وي او وغواړي ترڅو ګټه ترلاسه کړي ، نوبايد په دې وتوانيږي چې خپل لګښتونه په دقيقه توګه تخمين کړي. د مثال په توګه يو شرکت چې خپل د حساب ورکونې سيستم په سفارشي توګه دولتي موسسو ته چمتو کوي، نو په پای کې يې د حساب ورکونې سيستم د ددو شهرکونو له پاره تيار کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ګورام شهر  سیستم د  ۷۰۰۰ کاري ساعتونو له پاره دی، چې څو پیچلیو کمپیوټرونو ته اړتیا لري ، د مصارفو د ثبت له پاره د هر ښار له پاره د یو ډول سیستم د جوړولو سنجش چې یو ډول قیمتونه په پام کې نیول شوي وي او یو ډول تخمین او مصارف په پام کې نیول شوي وي، سم کار نه دی. د وظیفوي د مصارفو سنجش دا اجازه راکوي چې شرکت باید د هرې پروژې مصارف بیل او په دقیقه توګه ثبت کړي.

که څه هم هغوی توانیدلي چې یو رقابتي وړاندیز وړاندې کړی.

**د ادارې او بازار موندنې لګښت**

په موجودو حسابونو کې د بازار موندنې او اداري  سیستم مصرف نه ثبتیږي.  دغه لګښتونه ، دوره یې لګښتونه دي، چې د حساب ورکونکې دورې  په وروستیو ترل شویو حسابونو کې ثبتیږي. لګښتونه د ۲-۶  په شکل کې د ګټې او زیان په حسابونوکې ښودل شوي دي.
په دې شکل کې ۲-۶  زیان او ګټه

د ګټې او زیان صورت حساب: ۳۱ جنوري

| | |
|---|---|
| د پلورنې حاصلات | ۱۲۰۰۰$ |
| د پلورل شوې متاع لګښتونه (د ښکته حساب په صورت کې ) | ۸۳۰۰۰$ |
| تولیدي مشترک لګښتونه چې ګټه ورڅخه نه وي اخیستل شوې  (۱) | ۸۰۰۰$ |
| نا خالصه ګټه | ۲۹۰۰۰$ |
| منفي: د بازار موندنې او ادارې لګښتونه | ۱۰۰۰۰$ |
| عملیاتي ګټې | ۱۹۰۰۰$ |
| د تولید شوي او پلورل شوي ټولې متاع د لګښتونو حساب. | |
| د جنوري لومړۍ نیټه،  نیمه کارول شوي لومړني مواد | ۶۱۰۰۰$ |

د میاشتې په اوږدو کې تولیدي لګښتونه:

**مستقیم مواد:**

| | |
|---|---|
| لومړی موجودیت----------  د جنورۍ لومړۍ | ۱۰۰۰$ |
| + پیرودنې | ۶۰۰۰۰$ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| لاسته راغلي مواد | ۷۰۰۰۰$ |
| د متاع وروستۍ موجودیت ۳۱ دسمبر | ۲۸۰۰۰$ |
| ټول کارول شوي مواد | ۴۲۰۰۰$ |
| غیرمستقیم او نه کارول شوي مواد | ۲۰۰۰$ |
| دتولید په جریان کې مستقیم مواد | ۴۰۰۰۰$ |
| مستقیم کار | ۸۰۰۰۰$ |
| مشترک لګښتونه | ۹۶۰۰۰$ |
| د میاشتې په اوږدو کې مجموعي تحمیل شوي لګښتونه | ۲۱۶۰۰۰$ |
| دمیاشتې په اوږدو کې دمتاع نیمه مجموعي لګښتونه | ۲۷۷۰۰۰$ |
| د جنوري ۳۱ نیټه، د نیمه کارول شوې متاع موجودیت | ۸۲۰۰۰$ |
| د دورې په جریان کې د تولید شوې متاع لګښتونه | ۱۹۵۰۰۰$ |
| د بشپړ شوي کار لومړنۍ موجودیت ،د جنوري لومړۍ | ۰ |
| د ټمام شوي کار وروستی موجودیت د جنورۍ ۳۱ | ۱۱۲۰۰۰$ |
| د پلورل شوې متاع ټول لګښتونه | ۸۳۰۰۰$ |

**الف:** دغه پیسې د میاشتې په اوږدو کې د نه کارول شویو مشترکو تولیدي لګښتونو څخه عبارت دي.

**ب:** دغه پیسې د میاشتې په اوږدو کې له مجموعي نیمه کارول شوې متاع څخه عبارت دي.

**ج:** دغه پیسې د جنوري دمیا شتې په اوږدو کې د بشپړ شوی کار د متاع څخه عبارت دي.

**د:** دا مبلغ د جنوري په میاشت کې د امتعې د کار ټمامو کریډیټونو څخه عبارت دی.

**د پروسې د لګښتونو سنجش**

دا د ارزونې داسې یو میتود دی، چې د متجانسو واحدونولګښتونه په یوه مشخصه دوره کې ښيي. دغه میتود په وضعه شویو کټلوي او سلسلوي تولیداتو کې د ګټې اخیستنې وړ وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د دې ځنځيرې شکله فصل په لومړۍ برخه کې د توليد د ميتود او د سنجونې سيستم وښودل شو، چې تمرکز يې په هغو موسساتو وو چې وظيفوی توليدات يې لرل.
خو اوس د پروسه يي توليد د ارزونې ( سنجش ) په ميتود خبرې کوو.
د پروسې سنجونې په هغو تصديو کې کارول کيږي، چې سلسلوي يا کتلوي توليدات لري ، لکه د Sherwin-Williams کمپنۍ (نقاشي)Shell (د نفتو صنعت).
Dowchermical. هم د کوکولا يوه بله کمپنۍ ده.

د کوکو کمپنۍ د کوکولا شيره توليد وي، چې د کولا يوه ګيلنه شيره د توليد يو واحد حسابيږي. په يوه وظيفوي توليد کې ځانګړي مصارف ثبت کيږي او په کتلوي او سلسلوي توليد کې په هره موضوع کې لومړني مصارف ثبت کيږي او وروسته په توليد شويو واحدونو کې د توليد د مواضعو له لارې ( د بيلګې په توګه د کوکاکولا په بوتل کې شيره ) توزيع کيږي. دا توپير د وظيفې د مصارفو د سنجش ( د کار هر واحد ) او په ٣_٦ شکل کې د پروسې په سنجش کې ښودل شويدي.
توليد چې د له هري توليدي برخې څخه تيريږي، د هغه برخې مصارف پر توليد اضافه کيږي. په عمل کې شايد ځيني توليدات په تصدی کې له يو شمير توليدي برخو څخه استفاده وکړي، او په بل مورد کې شايد ځيني توليدات دوه ځله يوې برخې ته داخل شي. د پروسې د مصارفو د سنجش هدف دادی چې د توليد په برخو کې د هر واحد پر اساس د توليداتو مصارف وښيي.
دا مصارف د مديريتي تصميم نيونې لکه د استفادې وړ قيمت ټاکنه او د مصارفو کنټرول څيړي.که يوه برخه يا دګدام لومړی موجودي او يا هم وروستۍ موجودي په يوه مرحله کې نه وي، د دورې ټول ثبت شوي مصارف په ( انتقال په ) واحدونو کې چې له دې ديپارټمنټ څخه انتقال شوي دي، حواله کيږي. ددې مثال هغه مهال ور کولای شو چې يوې کمپنۍ د الساحه توليدي ميتود څخه استفاده کړي وي اود نيمه کاره موادو موجوده ګدام ونه لري.


**د ثقلت لرونکو ( وزن لرونکو ) منځنيو مصارفو سنجونه**


دا ميتود د هغه موجودي د پيدا کولو لپاره دی چې په يوه دوره کې مصارف ، د لومړی موجودي له يو رنګه واحدونو سره د توليد له تمام شوي قيمت سره ترکيب کړي. تصدۍ معمولا د موجودي مصرف د تعينولو له پاره له دغو دوو نه يوه طريقه د ځاي ناستې له پاره په کار اچوي. د (FIFO ) له لومړنۍ واردې څخه لومړنۍ صادره او د ثقلت لرونکې اوسط سنجش_ د ثقلت لرونکي لومړني مصرفي وسطي سنجش _ له هغو مصارفو سره چې د دورې پر مهال تحميل شويدي د محاسبې له پاره ترکيب کيږي، تر څو دا معلومه کړي چې له تصدۍ څخه د خارج شوې امتعې مصرف ( ته انتقال ) او د وروستۍ موجودي اندازه څومره ده.
دې ميتود ته ځکه ډير پام شوی چې هم يې زده کول اسانه دي او هم عملي جنبه لري.
له همدې امله لومړی د همدې ميتود په اړه خبرې کوو.
١_٦ شکل: د پروسې د سنجش او وظيفې څخه مقايسه.


(c) ketabton.com: The Digital Library




**د وظیفوي مصرف سنجش**




(c) ketabton.com: The Digital Library

د مراحلو په جريان کې مستقيم مواد، کار او توليدي ګډ مصارف اضافه کيږي. د پروسې د محاسبې د سنجش له پاره د وسطي ثقلت لرونکي سنجش له طريقې څخه په استفادې سره تصؤر وکړی چې د Spirite Berenoge شرکت يوه داسې کمپنۍ ده چې غير الکولي مشروبات توليدوي. دوی کولای شي چې خپل توليدات هم په انفرادي توګه او او هم په مارکيټونو (رستورانټونواو د خوراکي موادو په پلورنځيو) وپلوري. د ٤_٦ شکل الف عنوان د دسامبر د مياشتې د توليدي واحدونو د حرکت جريان يو دياګرام ښيي. دا موضوع د ٢٠٠٠ ام کال کې د ګدام د موجوده واحدونو له پاره د مياشتې په جريان کې استفاده ترې شوېده. د دسامبر په مياشت کې چې کوم ١٢٠٠٠ واحدونو توليد شوي دي، په هغوی کې ٨٠٠ ٠ واحده د تمام شوي کال محصؤل ګڼل کيږي، دا په داسې حال کې ده چې ٤٠٠٠ نور واحدونه د نيمه کاره امتعې په بڼه د موجودۍ په پای کې پاتې شويدي.

٤_٦ شکل د اسپرايت د نوشابې د مخلوط کوونکي په اړه معلومات:

**الف- مخلوط کوونکې برخه: د توليد د جريان دياګرام**

د دسمبر ٣١ مه




**ب**

| دتعداد او مصرف معلوماتي منابع | واحدات | د تکميل فيصدي | مصارف |
|---|---|---|---|
| د نيمه کاره امتعې موجودي | | | |
| په اول د دسمبر کې موجودي | ٢٠٠٠ | ٪٨٠ | ٢۵٨٠ |
| په دسمبر کې تحميل شوي مصارف | | | ٢١۶٠ |
| له مخلوطي موضع څخه انتقال | ١٠٠٠٠ | ٪١٠٠ | X |
| د نيمه کاره امتعې وروستۍ موجودي | | | |
| د ګدام موجودي د دسمبر ٣١ مه | ۴٠٠٠ | ٪۶٠ | X |

د ثقلت لرونکي د منځني اوسط د سنجش له پاره اړ نه يو، تر څو پوه شو چې کوم توليدات بشپړه شويدي. کوم يې د ( اولي موجودی ) څخه وو او کوم يې په جاري دوره کې تکميل شويدي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا موضوع لږ وخت ته اړتیا لري ، همدارنګه په درسي کتابونو کې د ستونزو د کمېدو لامل ګرځي او هم يې په واقعي نړۍ کې کارونه اسانه دي چې وروسته به بحث ورباندې وکړو.
ثقلت لرونکی منځنی سنجش د جارې دورې په اړه ډېر معلومات يا ارقام نه وړاندې کوي، ځکه د لومړی موجوده مصارفو سنجش ، د جاري دورې له مصارفو سره مخلوط کیږي.
د ګدام لومړي موجود مصارف په روانه دوره کې نه تحمیل کیږي، بلکې په مخکینۍ دورې پورې اړه لري.

٤_٦ شکل ، د ب عنوان ، اول موجود مصارف را ښيي چې ۲۵۸۰ ډالره کیږي. همدارنګه د دسامبر په میاشت کې تحمیل شوي مصارف ۲۱٦۰۰ ډالره دي. په دې صورت کې د مخلوط کونکي موضوع ۲٤۱۸۰ ډالره دي چې د دسامبر د میاشتي په حساب کې يې لري. ( ۲۴۱۸۰$=۲۵۸۰ لومړۍ موجودي او د دسمبر په میاشت کې ۲۱٦۰۰ ډالره تحمیل شوي مصارف ) په موجوده بڼه په ٤_٦ شکل کې د ب تر عنوان لاندې په نښه شویدي. له د غو ۲٤۱۸ ډالرو ۱۰۰۰۰ واحده انتقال شویدي، په ګدام کې له نیمه کاره واحدونو ٤۰۰۰ يې د دسمبر په ۳۱ مه د مخلوط د موضوع موجودي ده.

**د لګښت د جریان اساسي مډل ته پام کول**

پام وکړی چې موږ د اساسي مډل په واسطه د لګښت په جریان کې کوښښ کوو او د مډل په اساس دې ستونزو ته پام کوو : نو د مډل پر اساس:

BB+TI=TO+EB

TI=۲۱۶۰۰ BB=۲۵۸۰

موږ پوهیږو او کوښښ کوو ترڅو معلوم کړو چې د دې لګښتونو څخه شومره باید د TO واحد ته ولیږدوو او څومره باید د ګدام د وروستي واحد موجودیت ته EB ځانګړې کړو ، وروسته پنځه ګوني مرحلې د لیږدلوپه واحد TO او د ګدام وروستۍ موجودیEB راښیی ، بحث کوو.

**د لګښتونو په تعینولو کې پنځه ګونې مرحلې**

۱- د فزیکي واحداتو د جریان خلاصه کول.

۲- د همجنسو تولیداتو محاسبه او اجرایت.

۳- په لنډ ډول لاسته راغلي مجموعي لګښتونه.

۴- د همجنسو تولیدي واحدونو د لګښتونو محاسبه.

۵- TO ته د تولید د لیږلو د لګښتونو ښودل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**لومړۍ مرحله: دفزیکي واحداتو د جریان خلاصه کول.**

دغه مرحله دواحداتو فزیکی جریان دتکمیلی مرحلې ته د پام نه کولو پرته مشخص کیږي او په دوه برخو ویشل شوې.

۱- د تولید په وخت کې واحدات

۲- تولید شوی واحدات.

موږدغه واحدات د سپرایت په شرکت کې په لاندې ډول مشخص کوو .

**۱- د تولید په وخت کې واحدات:**

| | |
|---|---|
| دنیمه کارول شوې متاع د لومړنیو واحداتو موجودیت | ۲۰۰۰ واحده |
| په دې مرحله کې دتولید پیل | ۱۲۰۰۰ واحده |
| دتولید په وخت کې ټول واحدات | ۱۴۰۰۰ واحده |

**۲- تولید شوي واحدات:**

| | |
|---|---|
| هغه واحدونه چې بهر ته لیږدول شوي | ۱۰۰۰۰ واحده |
| د نیمه کار اچول شوې متاع وروستی موجودیت | ۴۰۰۰ واحده |
| ټول تولید شوي واحدات | ۱۴۰۰۰ واحده |

په دې مرحله کې ښودل کیږي، چې موږ باید د ۱۴۰۰۰ واحدو لګښتونه چې له ۲۰۰۰ لومړنیو موجودو واحدونو نیمه کاره اچول شوې متاع او ۱۲۰۰۰ واحدونه چې د دغې مرحلې تولید شوی محصول جوړ وي او د ډسمبر په آخر کې تثبیت کوو.

له دغه ۱۴۰۰۰ واحدونو څخه ۱۰۰۰۰ واحده، بهرته لیږدول کیږي، او ۴۰۰۰ پاتې واحدونه باید د ډسمبر په ۳۱مه په وروستي موجودي کې ثبت کړو.

**دویمه مرحله: د همجنس ( یو ډول ) محصول د واحدونو محاسبه**

داهغه مرحله ده، چې ځینې کسان هغه د پروسې د لګښتونو د سنجونې یوه مهمه برخه ګڼي، خو زده کول یې ورته ستونزمن ښکاري ، موږ غواړو چې دا مرحله د امکان ترکچې ساده اواسانه کړو ، ثقلت لرونکي، د محاسبې اوسط فورمول او همداراز د تولید شوي جنس واحدونه د یوې دورې په جریان کې عبارت دي له:

> **د موجودیت په پای کی همجنس واحدونه + ټول انتقال شوي واحدونه = تولید شوي همجنس اوسط ثقلت لرونکی واحدات.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه فورمول د همجنسو( يو ډول ) تولید شویو واحدونو د محاسبې د فورمول لپاره په راتلونکې ډسمبر میاشت کې بیانوو.

له ۶-۴ شکل څخه پوهیږو، چې ۱۰۰۰۰ واحدونه د ډسامبر په میاشت کې له دې برخې څخه بهر ته لیږدول شوي او ۴۰۰۰ واحدونه اوس هم په وروستی موجود گدام کې شته، همدارنګه په ۶-۴ شکل کې ښودل کیږي، چې د دغه ۴۰۰۰ وروستیو واحدونو ۶۰ فیصده یې د میاشتې په جریان کې بشپړیږي ، دې عواملوته په کتوسره همجنس (یو ډول) موجود واحدونه چې ۲۴۰۰ واحدونه دي محاسبه کوو

(تکمیل ۶۰ فیصده ×۴۰۰۰ واحده) هغه ۴۰۰۰ واحده چې ۶۰ فیصده یې بشپړ شوي، له ۲۴۰۰ واحده سره مساوي دي ، او ۱۰۰ مشابه ( یو رنګه ) تولیدات تکمیل شوي. د مشابه واحداتو د محاسبې لپاره له دې فورمول څخه ګټه اخلو او له ثقلت لرونکي فورمول څخه پوهیږو چې:

په وروستي موجودیت کې همجنس واحدونه + خارج ته ټول لیږدول شوي واحدات = د همجنسو تولید شویو ثقلت لرونکو واحدونو څخه.

= ۱۰۰۰۰ +(۶۰ فیصده×۴۰۰۰)

=۱۲۴۰۰ همجنس واحدونه

**درېیمه مرحله: د رامنځته شویو مجموعي لګښتونو خلاصه ( لنډیز):**

لاسته راغلي مجموعي لګښتونه له لومړنیو موجودو لګښتونو څخه عبارت دي ، یا دغه لګښتونه واحداتي لګښتونه دي چې په لومړۍ مرحله کې لاسته راشي. په دې ترتیب فرضا د سپرایت په شرکت کې ۲۰۰۰ موجوده لومړني واحدونه او ۱۲۰۰۰ خارج ته انتقال شوي واحدونه داسي ښودلی شو:

هغه لګښتونه چې رامنځته شوي:

د نیمه کارول شوې متاع لومړنی ټام شوی موجودیت ۲۵۸۰ ډالره.

د جاري دورې لګښت ۲۱۶۰۰ ډالره

مجموعي لګښتونه چې رامنځته شوي ۲۴۱۸۰ ډالره.

**څلورمه مرحله: د فی همجنس واحد د لګښت محاسبه:**

مثلا لومړی موجودي ۲۴۱۸۰ ډالره پیسې معلومې کړې، همداراز په دوهمه مرحله کې مو د واحدو ډولونو تعداد ۱۴۴۰۰ واحده محاسبه کړل، نو اوس را منځته شوي مصارف په تعداد او همجنسو ( یو ډول ) واحدونو ویشو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تولید د فی واحد لګښتونه = هغه لګښتونه چې رامنځته شوي / هم جنس (اوسط ثقلت دار)

د سپرایت لپاره فی واحد عبارت دی له:

دهمجنس تولید د فی واحد لګښت ۱,۹۵=۱۲۴۰۰÷۲۴۱۸۰

**پنځمه مرحله: د هغې متاع د لګښت معلومول چې بهرته انتقال شوې وي اود ګدام وروستی موجودي:**

د دندې د سرته رسولو لپاره ارقامو او محاسبوته اړتیا لرو، تر څو په ګدام کې د پاتې امتعې او هغې امتعې چې بهر ته انتقال شوې، تر مینځ مصارف تقسیم کړو. .

د پنځمې مرحلې د سرته رسولو لپاره د محاسبې د فی واحد د لګښت محاسبه او څلورمه مرحله، د واحدونوپرشمېر د لګښتونو د معلوملو لپاره د ګدام له وروستی موجودۍ سره ضرب کوو.

**په ګدام کې د وروستۍ موجودي د همډوله واحداونو تعداد × د فی واحد همجنسه تولید مصارف = د ګدام اخیري موجود مصارف**

همجنس واحدونه ۶۸۰=۱,۹۵× ۲۴۰۰، او د همجنس تولید د فی واحد تمام شوی قیمت دهمجنسو واحدونو شمیر ته لیږدوو او په بهر کې یې د لګښتونو د لاسته راوړلو لپاره ، له لیږدول شوې همجنسه متاع سره ضرب کوو. خو پام وي چې یو ډول (هم جنسه) تولیدات وي. بهر ته انتقال په هر واحد کې بهر ته د انتقال شویو واحداتو څخه شمېرل کیږي چې د یوې تجربې په پام کې نیولو او د ځانګړې موضوع د تحلیل په مرسته بشپړتیا مومي.

**بهر ته همجنسه تولید د واحدونو شمیر د فی هم جنس واحد مصارف = خارج ته د انتقال شوې امتعې تمام شوي مصارف**

۱۹۵۰۰=۱۰۰۰۰×۱,۹۵

د دې نهایي مرحلې د خلاصه کولولپاره:

**رامنځته شوي لګښتونه:**

بهرته د واحداتو دلیږدولو لپاره ثبت شوي لګښتونه = ۱۹۵۰۰

د موجودې نیمه کارول شوې متاع لګښت = ۴۶۸۰

رامنځته شوي لګښتونه = ۲۴۱۸۰

پام وکړئ چې رامنځته شوي مجموعي لګښتونه د مجموعي محاسبه شویو لګښتونو سره مساوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي، چې په دربیمه مرحله کې وشېړل شوه. دغه مساوات باید په دوارو مواردو او هر میتود کې چې تاسي ورڅخه ګټه اخلی په پام کې ونیسی ، ځکه رامنځته شوي لګښتونه باید له هغو لګښتونو سره برابر وي، چې رامنځته کیږي.

**د لګښت د جریان د اساسي میتود اصل په یاد وساتی:**

BB+TI=TD+EB

هغه مصارف چې رامنځته کیږي، د معادلې کیڼ خواته وړاندي شوي BB+TI په داسې حال کې هغه لګښتونه چې رامنځته شوي، د معادلې د ښی‍ خوا ځاینده ګي کوي ( TD+EB ). اوس خپله دنده د پنځمې مرحلې د مصارفو د تعینولو په صورت کې پای ته رسوو، دا هغه مصارف دي چې پنځمه مرحله یې رامینځته کړې وه او دا برخه باید ډیره مهمه وګڼو.

**د شپږم څپرکي لنډیز:**

**د وظیفې او پروسې د لګښتونو سنجول**

**۱- د وظیفې د لګښتونو سنجول:** د لګښت د سنجول یو سیستم دی چې لګښتونه په انفرادي واحدونو یا د ترونونو په مشخصو دندو او یا د تولیداتو په ګروپ محاسبه او تعقیب کوي.

**۲- د پروسې د لګښتونو سنجول:** د سنجولو له دې سیستم څخه هغه وخت ګټه اخیستل کیږي چې چې متجانس واحدونه د تولید د مرحلو له لارې په هم شکله بڼه تولید شوي وي ، یا د لګښت د سنجولو یو میتود چې د متجانسو واحدونو لګښتونه په یوه مشخصه دوره کې ښیي.
**پروژه:** یو لانجمن کار دی چې کله ناکله د بشپړېدو له پاره میاشتې او کلونه په پام کې نیسی.

**د پروژې تولید:** تولیدي سیستمونه دي چې په کتلوي ساده او متجانس شکل د مرحلې د جریان په متحدالشکلې بڼې سره تولیدوي.

**عملیه:** استندرد او تخنیکی میتود دی، چې په دوامداره توګه سرته رسیږي.

**د عملیې سنجول:** د ترکیبی (مخلوط) لګښت د سنجونې سیستم دی ، چې ډیر وخت په صنعتي تولیداتو کې چې ځینې یې عام او ځینې یې خاص شکلونه لري، ورڅخه ګټه اخیستل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د لګښت د جريان اساسي مډل:**

BB + TI = TO + EB

لومړی موجوديت + داخل ته ليږدول =بهرته ليږدول

**د ثقلت لرونکو منځني مصرف سنجش:** دا د موجودي د پيدا کولو له پاره هغه ميتود دی چې د لومړنيو همډوله واحدونو لګښتونو، د توليد د ټمام شوي قيمت د تعين له پاره يو له بل سره ترکيبوي.

**د لګښتونو ( مصارفو ) د تعينولو لپاره پنځه ګونې مرحلې:**

۱- د واحداتو د فزيکي جريان خلاصه کول

۲- د همجنسو توليداتو محاسبه او اجرايت

۳- په لنډ ډول رامنځته شوي لګښتونه.

۴- د هر يوه همجنسه توليدي واحد د مصارفو محاسبه.

۵- د ليږدونې د توليد د لګښتونو ښودل، TO د ګدام وروستی موجوديت EB

د توليد د في واحد د لګښتونو فورمول

$$\frac{\text{لګښتونه چې رامنځته شوي}}{\text{همجنس واحدات (اوسط ثقلت دار)}}$$

د اخيري موجوديت د لګښتونو فورمول

**په ګدام کې د وروستيو همجنسو واحداتو تعداد× د همجنسه توليداتو في واحد مصرف = د اخيري موجودي مصارف**

بهرته د ليږدول شوې متاع د ټمام شويو لګښتونو فورمول

**بهر ته د انتقال شوي همجنسه توليد د واحداتو تعداد × د في همجنسه واحد مصرف = بهر ته د انتقال شوې امتعې ټمام شوي لګښتونه**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د شپږم څپرکي پوښتنې:**

۱- د وظیفوي لګښتونو سنجونه تعریف کړئ؟

۲- په کوم وخت کې د وظیفوي لګښتونو له سنجونې څخه ګټه اخیستل کیږي، بیان یې کړئ؟

۳- د پروسې د لګښت سنجونه د مثال په بیانولو سره بیان کړئ؟

۴- په کومو برخو کې د پروسه یي لګښتونو د سنجونې څخه ګټه اخیستل کیږي؟

۵- د تولیدي پروژو په اړه معلومات ورکړئ؟

۶- پروژوي تولید بیان کړئ؟

۷- عملیه تعریف کړئ؟

۸- د عملیې سنجونه د مثال په بیانولو سره بیان کړئ؟

۹- د لګښت د جریان اساسي مډل ولیکی او هره سنجونه یې بیان کړئ؟

۱۰- د لګښت په تعینولو کې پنځه ګونې مرحلې بیان کړئ؟

۱۱- د تولید د فی واحد د لګښتونو فورمول ولیکی؟

۱۲- د وروستي موجودیت د لګښت فورمول ولیکی؟

۱۳- بهرته د لیږدول شوې متاع د ټمام شویو لګښتونو فورمول ولیکی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اوم څپرکی

## په مواضعو باندې د لګښت توزيع

**تولیزه موخه:**
د تصدي پر مواضعو باندې د لګښتونو د عملياتو د اجرا په اړه معلومات.

**د زده کړې موخې:** د دې فصل په پای کې به محصلین له لاندې معلوماتو سره آشنا شي.

- د لګښت ويشل څه ته وايي؟
- د مصرف طبيعت النفسي وېش.
- په توليدي او خدمتي موضوعاتو باندې د لګښت د وېشلو ميتودونه.
- د لګښت د وېشلو ميتودونه.
- د انجينري د مواضعو د لګښت وېشل.
- د لګښتونو وېشل، د کارخانې د سرپرستۍ موضع.
- د مکاني خدماتو د لګښت وېشل.
- په مواضعو باندې د لګښتونو وېشل.

**پر مواضعو د لګښتونو ويش**

**د لګښت ويش:** د لګښت په موضع کې د مستقيمو لګښتونو د عملیې شودل.

**د لګښت موضوع:** هغه څه چې د لګښت لامل ګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**عمومي لګښت:** په استهلاک کې د لګښت سهم ( برخه ) ، محصولات او یا خدمات. د لګښت د ویشلو ارزونه د یوغیر مستقیم لګښت څخه عبارت ده.

**د مثال په توګه:**

که د یوه ساختمان د تسهیلاتو ( اسانتیاوو) برخه ۱۵۰۰۰ ډالره قیمت ولري او د وېشلو وړ لګښت د غیر مستقیم یا عمومي لګښت په توګه وپیژندل شي ، او موږ تصمیم ونیسو چې لګښتونه باید د یو معیار په اساس ووېشل شي مثال ، د هرې موضوع د کارکوونکو شمیر یا د ویشلو په اساس وړ کارکوونکي او شمیر جوړ وی.

په لومړۍ مرحله باندې بحث کوو.

که ۴۰٪ کارکوونکی په لومړۍ موضع کې وي، وروسته ۴۰ فیصده ۱۵۰۰۰ ډالره په موضع پورې اړه لري او یا ۶۰۰۰ ډالره چې د لګښت په لومړۍ موضع ویشل شوي وي او ۶۰ فیصده باقی پاتې وي او یا ۹۰۰۰ ډالره په دویمې موضوع وېشل شوي وي ، ټول وېشل شوي لګښتونه د هغوی د فیصدۍ د برخې په اساس ویشل شوي وي.

په دې ترتیب ټول ۱۵۰۰۰ ډالره چې په مواضعو وېشل شوي وي، شمیر دی.

**ولې لګښتونه وېشل کیږي؟**

په موسسو کې د لګښت د ویشلو لپاره ډېر مثالونه موجود دي، د تولید مشترک لګښت یو عمومي لګښت دی، چې ډېر وخت د تولید کوونکو لخوا په هر واحد وېشل کیږي.

دغه ویش یا تقسیم د مالي راپور د ورکولو لپاره اړین دی ، لوېې موسسې د مرکزي دفترونو لګښتونه په انفرادي څانګو وېشي، د مثال په توګه: د Kmant شرکت یو مدیر چې د خورده فروشي څه له پاسه ۲۵۰۰ لویې مغازې لري راته وویل: د شرکت د دفترونو د لګښتونو په وېشلو کې هرمدیر باید په دې پوه شي چې په دې پیسو کې مشترک لګښتونه وجود لري او باید د انفرادي مغازو له لارې جبران شي، ترڅو د شرکت ګټه په عمومي توګه خوندی وساتو. د ویشلو دغه طریقه په اداره کې د یوې مهمې طریقې په توګه په کار اچول کیږي.

د لویې شتمنۍ فرسایش ( خرابوالی ) په مالیه کې د راپور ورکولو د لګښت د ویشلو یو بل شکل دی ، د فرسایش هدف دادی ترڅو د شتمني اصلي لګښت په زماني دورو ووېشي، چې دغه شتنمي د عوایدو په لاسته راتلو کې مرسته کونکې ده.

په لنډ ډول وېشل په مختلفو دلایلو اړین دي، د نقدي جریان (Cosh Flow) د وېشلو اغیزې او د وېشلو معیار باید په دقیقه توګه وټاکل شي، په دې معنا چې د وېشلو د معیار په وخت کې باید جدي پام وشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۲_۷: د مصرف د توزیع طبیعت النفسي**

د هغو عمومي مصارفو د تصدیق پراساس چې دارایي ( شتنمي ) په دوو او یا هم تر دوو ډیرو موضعو مصارف دي، دا امکان لري چې په یو ډول فردي قضاوتونو توزیع شي. په اختیاري او النفسي توګه د انتخاب د معیارونو ټاکل ددې لامل شوي، تر څو منتقدین ادعا وکړي چې شاید د مصارفو په توزیع کې په لوی لاس او اختیاري توګه تېروتنه شویده او ددې لامل شي چې په راپوررکونه کې اشتباه وکړي او یا هم په تصمیم نیونه کې ضعف رامینځته کړي.

له دغو ستونزو سره سره د شرکت د توزیع د مصرف په اړه یوې مطالعې یا څېړنې دا ښودلې دي چې د احصایه اخیستنې ۸۴٪ شرکتونو د مرکزي دفترونو مصارف د تصدیو په مواضع توزیع کې تصدي شویدي. مطالعې ښودلې دي چې د مدیرانو په وینا د مصارفو د توزیع له پاره هدف ګډ مشترک مصارف دي او ددغو مصارفو جبران د مفادو ( ګټې ) څخه لاسته راوړی شي.

**د لګښت وېشلو میتودونه.**

**لومړۍ مرحله:** د لګښت د وېشلو مرحلې په دوه برخو تقسیم شوې دي. په لومړۍ مرحله کې لګښتونه د تولیدي فعالیتونو په مرکزونو وېشل کیږي.

په دوهمه مرحله کې لګښتونه په ټول فعالیت وېشي.

په دې فصل کې لومړۍ مرحلې ته پام کوو.

**د خدمت د موضع طبیعت:**

د خدمت موضوع: هغه موضوع چې د خدمت په فعالیت خونو کې په نورو فرعي موضوعاتو کې وړاندې کیږي.

**د ګټې اخیستونکي موضوع:** هغه موضوع چې د خدمت د ترلاسه شوي موضوع څخه ګټه اخلي.

د خدمت موضوع: هغه موضوع ته ویل کیږي چې لاسته راوړنې نورو موضوع ګانوته وړاندې کوي.

**د ګټې اخیستنې موضوع:** د ګټې اخیستنې موضوع هم کولای شي د خدمت یوه بله موضوع وي، تجارتي، خدماتي او تولیدي موسسې ټولې د تولید او پلورلو مواضع لري

د خدمت د موضوع د بازار موندنې او تولید لپاره ډیر مثالونه شته، چې عبارت دي له:

| موسسه | دتولید موضوع | دخدمت موضوع |
|---|---|---|
| منفکچرینګ پلانټ | مونتاژ | ساتنه |
| مارشال فیلدز | سپورتي جامې | د عددونو اومعلوماتو طبقه بندي |
| عمومي روغتون | مایوچست عاجل اتاق | کالي مینځل |
| شهر مبای | د ښار پارکونه | د نقلیه وسایطو پاکول |

(c) ketabton.com: The Digital Library

**توليدي موضع:** هغه اصطلاح چې د توليد د مواضعو لپاره په صنعتي او توليدي موسسو کې ورڅخه ګټه اخيستل کيږي، لکه د مونتاژ موضع.

**د لګښت مرکز:** د لګښت يو وسطي مرکز چې لګښتونه يې په موسسه کې په نورو موضع ګانو ويشل کيږي.

**د لګښت وروستى مرکز:** د لګښت يو مرکز لکه د توليد او بازار موندنې موضع چې د لګښتونو څخه يې د لګښت په نورو مواضعو ويشل کيږي.

د جوړونې او توليد اصطلاح مترادفه نه ده، توليد د جوړونې څخه لوی دی، په دې کتاب کې چې د جوړونې په اړه خبرې کوو ، په ځانګړې توګه به زموږ هدف د هغو موسساتو په اړه وي، چې امتعه توليد وي. لکه د يوه مونتاژ موضع، دا د توليدي موضع يو مثال دی چې په خدماتي موسسې کې عبارت دی له د حرفې په حسا ب کې د شرکت د مالياتو موضع. ديلويتDeloitte او تاوچTouch، د خدمت موضع کله ناکله د مصرف د ارتباطي مواضعو په نوم هم ياديږي، او دا هغه وخت وي چې د توليد موضع او بازار موندنه د مصرف وروستي مرکزونه وي.

بايد پوه شو چې موږ د مصرف د وېش په اړه يوه ډيره پيچلې او ستونزمنه شرح وړاندې کوو. د استفاده کونکو مواضعو د توزيع ورکولو له پاره معياري ټاکنه:

**د توزيع د معيارټاکل:**

**دتوزيع اساس:** هغه معيار چې په مرسته يې نا مستقيم او يا ګډ لګښتونه د دوو يا څوو لګښتي موضوعګانو تر منځ ويشل کيږي

**محرک لګښت :** د يو ډول توليدي فعاليت د لګښت محرک يا لامل دی.

مشترک مصارف به د څلورګونو ګروپونو په داخل کې ( وروسته توضح کيږي ) تقسيم بندي کيږي. د توزيع مشخص اساسات په عمومي توګه يو بل ته نږدې دي، د توزيع يو معيار په عمومي توګه د مصرف له موضوعاتو سره اړيکې لري چې معمولا غير مستقيم مصارف او مشترک مصارف د هغه په واسطه د مصرف په موضوعاتو توزيع کيږي. د توزيع معيارونه بايد د مشترکو مصارفو علتونه منعکس کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هر ګډ ( مشترک ) مصرف له پاره کیدای شي چې د مصرف یو او یا هم تر یوه ډیر د مصرف محرک د استفادې وړ وګرځي.

**۱- کار ـ اړونده مشترک لګښتونه:** په کار پورې اړونده مشترک لګښتونه ډیر وختونه د استخدام کوونکو د شمیر او یا کارمندانوته په کتوسره ویشل کیږي. د کار ساعتونه ، د مزد ورکول اویا مشابه کار، ارتباطي معیارونه دي. ( ۱ او ۲ شکل ۷-۲ شکل ته پام وکړی. )

**۲- ماشین – اړونده مشترک لګښتونه:** په ماشین پورې اړونده مشترک لګښتونه ډیر وخت د ماشین د کار د وخت ، د ماشین د ځای د ارزښت ، د ماشینونو د شمیر او یا له دوی سره د اړونده معیارونه له مخکې چې په مشابه ماشینونو کې ورڅخه ګټه اخیستل کیږي، ویشل کیږي.

**۳- مکان – اړونده مشترک ارزښتونه:** په مکان پورې اړونده عمومي لګښتونه ډیر وخت په استخدام پورې اړه لري ( په (۱۲ تا۱۶ ماده) شکل۲-۷ ته وګورئ )

**۴- خدمت – اړونده عمومي لګښتونه:** په خدمت پورې اړوند، مشترک لګښتونه کولای شي د مقدار او وخت په ارزښت او په خدمت پورې اړونده معیارونو وویشل شي، ده ۱۲تا۱۶ ماده، په دې شکل کې ۲-۷ وګورئ ).

مدیران غواړي چې د لاندې درې ګونو معیارونو څخه په ګټې اخیستنې سره د مناسبې ویشنې یو اساس پیداکړي.

**۱- له پیښې سره ارتباط:** د امکان په صورت کې غواړي د لګښت او موضوع ترمنځ یوه اغیزمنه اړیکه پیداکړي. د مثال په توګه: هرکله چې د یوې الوتکي ساتنه د الوتنو وخت ته په کتوسره ترسره شي ،او وروسته د پرواز ساعتونه، د ساتنې د لګښتونو مناسبو معیارونو ته په کتوسره مشخص کیږي.

**۲- د ګټې ترلاسه کول:** په هغه صورت کې چې یوه اړیکه د لګښت له موضوع سره د لګښتونو د موندلو لپاره ونه موندل شي ، د توزیع د یوه معیار ټاکل، د ګټې د ترلاسه کولو لپاره کولای شي یوه طریقه ووسي.

دمثال په توګه دکارکوونکو د روزنې لګښت د کیفیت د لوړلو په خاطر نه، باید یومشخص محصول وي ، خو د محصول ګټه باید د ښوونیز پروګرام د اثر له امله پورته شي.

**۳- د منلو قابلیت:** په هغه صورت کې چې مدیران د یوه توزیعي معیار سره چې د تولید یا د ګټې د ترلاسه کولو لپاره موافقې ته ونه رسیږي، نودوی باید یو توزیعي معیار چې د منلو وړ وي وټاکي ، د مثال په توګه: د اړونده مکان د توزیع لپاره لکه د یوه کور په ساتنه کې چې د طولي معیار پراساس د لګښت وېشل وي، په ۷-۲ شکل کې د لګښتونو ویشل ښیي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ۷-۲ شکل کې د مشترکو لګښتونو د اساساتو ويشل.

| مشترک ( ګډ) لګښتونه | د توزيع لپاره ځانګړی معيار |
|---|---|
| **د کار په ارتباط کې:** | |
| ۱-سرپرستی | د مستخدمينو شمير |
| ۲- د پرسونل خدمات | د معاش ورکول يا د مستخدمينود کاري ساعتونوشمير |
| **دماشين په اړه:** | |
| ۳ - د تجهيزاتو بيمه | د تجهيزاتو ارزښت |
| ۴ - د تجهيزاتو ماليه | د تجهيزاتو ارزښت |
| ۵- د تجهيزاتو فرسايش ( خرابېدل) | د ماشين د کار ساعتونه او د ارزښت تجهيزات |
| ۶- د تجهيزاتو ساتنه | د ماشينونوشمير، دماشينونو ساعتونه |
| **د مکان په اړه ارتباط:** | |
| ۷-د ساختمان اجاره | د ګټې اخيستنې وړمکان |
| ۸ - د ګټې اخيستنې وړمکان بيمه | د ګټې اخيستنې وړمکان |
| ۹- بخاری اوکولر | د ګټې اخيستنې وړمکان ، دګټې اخيستنې مقدار |
| ۱۰- د اجارې حق الامتياز | د ګټې اخيستنې وړمکان ، مطلوب مکان |
| ۱۱- د داخلي تعمير ساتنه | د ګټې اخيستنې وړمکان |
| **د خدمت په اړه:** | |
| ۱۲- کمکی مواد | مقدار يا د موادو ارزښت |
| ۱۳- د جامو مينځل | د مينځل شوې امتعې وزن |
| ۱۴- دفتر داري او محاسبه | د اسنادو شمير |
| ۱۵- غير مستقيم مواد | د مستقيمو موادو ارزښت |
| ۱۶- خوراک | د غذا تعداد ( شمېر) |

**د خدمتي مواضعو د لګښتونو د ويشلو ميتودونه.**

په دې برخه کې د خدمت د مواضع د ويشلو درې مشترک لګښتونه بيانوو:

مستقيم ميتود ، مرحله يی او د طريقې ميتود ، چې موږ د آسانې پوهيدنې لپاره يو مثال وړاندې کوو ، مثال د يوې توليدې کمپنۍ په اړه دی، په پام کې ونيسي چې همدا ميتودونه کولای شي چې په غير توليدي کمپنيو کې هم ورځخه ګټه واخيستل شي.

فکر وکړئ چې د آل تکنيک توليدي کمپنۍ د خدمت د موضع يوه لاره ده ، د انجينرۍ خدمات S1 د ځای خدمات S2 د کارخانې سرپرستي S3، لګښتونه ثبت شوي، د خدمت په دې موضوع کې په دوه توليدي موضوع ګانو P1 اوp2 او د پلورنې يوه موضوع p3 وېشل کيږي. ټولې شپږ ګونې موضوع ګانې په ساختمان وېشو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د آل تکنیک تولیدي شرکت د تولید په مواضعو باندې لګښتونه په دوه موخوتقسیموي.
۱- د خپلو محصولاتو لپاره بازار موندنه او د تولید د لګښت پیداکول.
۲- د دې لپاره چې دمواضعو مدیران وهڅول شي، ترڅو د یوه بل لګښتونه تنظیم او کنټرول کړي، چې دا کار د مواضعو د مستقیم کنټرول د امر خلاف کار دی.
هره موضوع د مصرف د منځني مرکز خدمت یا داسې ځای دی چې په هغه کې مصارف د مخارجو تر عنوان لاندې ثبت کیږي. وروسته بیا د مصارفو په نورو مرکزونو باندې وېشل کیږي. د ال تخنیک د شرکت لپاره د انجنیري خدماتو موضع s۱ د هغو کارمندانو د د مواضعو له مخې چې نورو مواضعو ته خدمت وړاندې کوي، توزیع شویدي. د s۲ د مکاني خدماتو موضع د استفادې وړ ساحې په اساس، د استفاده کونکو د موضع له مخې، او د s۳ د سرپرستي خدماتو د مواضع پر اساس د مواضع د کارګرانو په پام کې نیولو سره توزیع شویدي.

## د وېشلو ( توزیع ) معیارونه

۷-۳ شکل د مصرف د توزیع اساسات د خدمت د هرې مواضع او د ویشل شویو مصارفو فیصدۍ د استفاده کونکو د مواضع له پاره راښيي. د بیلګې په توګه:
د انجنیري د مصارفو د توزیع موضع د تیرو شویو کاري ساعتونو د خدمت د موضع په اساس د هراستفاده کونکي موضع ته په کتو سره وېشل شویدي. د انجنیري موضع د کاري دورې له پاره ۱٤۰۰۰ ساعتونه ، تولیدي موضع p۱، او ٥٦۰۰۰ ساعتونه د p۲ تولیدي موضع له پاره په پام کې نیول شویدي، د انجنیري د تولید ۲۰٪ په p۱ موضع توزیع شویدي.
(۲۰ فیصد=۵۶۰۰۰ کاري ساعتونه+۱۴۰۰۰ کاري ساعتونه/۱۴۰۰۰ کاري ساعتونه)
له دې سره ۸۰٪ نور په p۲ معمولا یو رنګه میتودونه د فیصدیو د پیدا کولو له پاره د کارخانی دمکاني خدماتو د معلومولو په منظور او د کارخانی د سرپرتي له پاره د استفادې په هدف په پام کې نیول شویدي. دا فیصدي په ۳_۷ شکل کې ښودل شویدي. له دې فیصدي څخه مو په لاندې مثالونو کې ګټه اخیستې ده.

**مستقیم میتود:**
دا یو مصرفي توزیعي میتود دی چې د خدمت مواضع نورو استفاده کونکو مواضعو ته روښانه کوي، او د استفاده شوی خدمت نوري مواضع په پام کې نه نیسي.

٤_۷ شکل پیژندل شوي مصارف او تقسیمات ، د مستقیم میتود په واسطه راښيي. د لومړي خدمت د مواضع، مستقیم مصارف په هغه مواضع کې ثبت کیږي. دا مصارف د حساباتو د دبت د مواضع په برخه کې ښودل کیږي. وروسته بیا د خدمت د موضع مصارف ، استفاده کونکي مواضع ته په کتو سره توزیع کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مستقیم میتود څخه په استفادې سره د خدمت د مواضع د مصارفو تر مینځ د مصارفو هیڅ ډول توزیع نشته.
د ال تخنیک په تولیدي شرکت کې د مصرف د توزیع مستقیم میتود په هغه مثال کې شرح کولای شو چې په ۵_۷ شکل کې ښودل شویدي.
۳_۷ شکل د خدمت مواضع مصارفو د توزیع معیارونه راپه ګوته کوي.
د ال تخنیکي تولیدي شرکت، د s۱ د انجنیري خدمت موضع.

**د توزیع معیار:**
انجنیري خدمت، د استفاده کونکي په هر بشپړ شوي کاري ساعت کې.

| د استفاده کونکي موضع | انجنیري خدمات ساعتونه استفاده شوی کار. | مجموعي فیصدي |
|---|---|---|
| P۱ | ۱۴۰۰ | ۰,۲ |
| P۲ | ۵۶۰۰ | ۰,۸ |
| P۳ | - | - |
| مجموعه | ۷۰۰۰ | ۱۰۰ |

**د مکاني خدماتو موضع S۲**
**د توزیع معیار:** ساحه د ( متر مربعې ) په اساس د استفاده کونکي په هره موضع کې

| د استفاده کونکي موضع | د مړیني له مخې اندازه | مجموعي فیصدي |
|---|---|---|
| P۱ | ۸۰۰۰۰ | ۰,۳۲ |
| P۲ | ۶۰۰۰۰ | ۰,۲۴ |
| P۳ | ۶۰۰۰۰ | ۰,۲۴ |
| SI | ۲۰۰۰۰ | ۰,۰۸ |
| S۳ | ۳۰۰۰۰ | ۰,۱۲ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د کارخانې سرپرستي S۳**

**د توزیع معیار:** دګټې اخیستودمواضع دکلني معاش لست.

| د استفاده کونکي موضع | د معاشونو مقدار | مجموعي فیصدي |
|---|---|---|
| P۱ | ۳۶۰۰۰۰ | ۰,۴۵ |
| P۲ | ۲۴۰۰۰۰ | ۰,۳ |
| P۳ | - | - |
| SI | ۱۲۰۰۰۰ | ۰,۱۵ |
| S۳ | ۸۰۰۰۰ | ۰,۱۰ |
| مجموع | ۸۰۰۰۰ | ۱۰۰ |

**د انجینرۍ د موضع د لګښتونو ویشل ( توزیع )**

۳۶۰۰۰ ډالره په تولیدي مواضعو باندې د انجینرۍ خدمتونو د لګښتونو ویشل p۲,p۱ اوp۳ د کار د ساعتونو په اساس ویشل کیږي.

د ترلاسه شویو اطلاعاتو پربنسټ، چې په دې p۱ ۷-۳ شکل کې ۲۰ فیصده او p۲ ۸۰ فیصده د خدمت د موضوع د کار د ساعتونو s۱ ګټه اخیستل کیږي. د مارګیټنګ موضوع p۳ کوم خدمت پیدا نه کړای شو.

د انجینرۍ د خدمت د موضوع د لګښتونو ویشل s۱ په دې ترتیب آسان شوی.

P۱---------- ۳۶۰۰۰×٪۲۰=۷۲۰۰

P۲---------- ۳۶۰۰۰×٪۸۰=۲۸۰۰۰

------۳۶۰۰۰ ٪۱۰۰ ۳۶۰۰۰مجموعه

د دې فیصدۍ په اساس د خدمت د موضوع لګښت s۱ ویشل کیږي. د ۵-۷ شکل مطابق ( د خدمت s۱ مطالعه کړئ )

**د مکاني وضع شوي خدمت د لګښت ویشل**

د وضع شوې مکانی خدمت د لګښت ویشل مستقیم تناسب د نیول شویو ساحو د فیصدۍ په اساس په جلا توګه د مربع او فټ په واسطه ویشل کیږي.

په مواضعو کې په فت او مربع باندې اندازه شوې فیصدي p۲,p۱ وp۳. په ۳-۷ شکل کې ورکول شوی ارقام عبارت دی له:

| | |
|---|---|
| P۱ | ۰,۳۲ |
| P۲ | ۰,۲۴ |
| P۳ | ۰,۲۴ |
| مجموعه | ۰,۸ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

**په هغه صورت کې چې دا ۱۰۰٪ حساب کړو نو ویلای شوچې:**

P۱ ٪۰۰۰۰۰۰۰۰۰ ۴۰=۰,۳۲÷۰,۸

P۲ ٪۰۰۰۰۰۰۰۰۰ ۳۰=۲۴÷۰,۸

P۳٪۰۰۰۰۰۰۰۰۰ ۳۴=۲۴÷۰,۸

= ۱۰۰۰۰۰۰٪ مجموعه

لکه څرنګه چې په ۵-۷ شکل کې وښودل شول، په معمولي ډول د لګښتونو د ویشلو لپاره ، د مکاني خدماتو څخه ګټه نه ده اخیستل شوې.

د ۲ s شکل ته پام وکړئ.

**د کارخانې د سرپرستۍ موضوع د لګښتونو ویشل ( سوپروایزري )**

همدا محاسبې د لګښتونو د ویشلو لپاره رامنځته کیږي چې د کار د مزد په اساس ویشل کیږي.

۳-۷ شکل ته پام وکړئ.

| | |
|---|---|
| P۱ | ۰,۴۵ |
| P۲ | ۰,۳۰ |
| P۳ | ۰,۰۰ |
| مجموعه | ۰,۷۵ |

هغه وخت چې دا ۱۰۰ فیصده حساب کړو، نو ویلای شو چې :

| | |
|---|---|
| P۱ | ٪۶۰=۰,۴۵÷۰,۷۵ |
| P۲ | ٪۴۰=۰,۳÷۰,۷۵ |
| P۳ | ٪۰=۰÷۰,۷۵ |
| مجموعه | ٪۱۰۰ |

دغه فیصدۍ په معمولي ډول د خدمتونو د موضوعاتو د ویشلو لپاره ( لکه څرنګه چې په ۵-۷ شکل کې هم ولیدل شول) ګټه ورڅخه اخیستل کیږي ، د کارخانې۳s شکل ته پام وکړئ.

د ۵-۷ په شکل کې د مستقیم میتود د لګښت د ویشلو محاسبه:

| د A فیصدۍ | د انتقال وړ ویشل (توزیع) | | | |
|---|---|---|---|---|
| مواضع خدمت | د مواضعو مستقیم لګښتونه | P۱ | P۲ | P۳ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| دانجینیرۍ د خدمت موضع (S۱) | ۶۰۰۰ | | ۰,۲ | ۰,۸ | ۰,۰ |
| دمکاني خدمت موضع (S۲) | ۸۴۰۰۰ | ۰,۴ | ۰,۳ | ۰,۳ | |
| د سرپرستۍ موضع (S۳) | ۲۵۰۰ | | ۰,۶ | ۰,۴ | ۰,۰ |

**د B عنوان د لګښت د ویشلو مستقیم میتود:**

| | له | | ترر | |
|---|---|---|---|---|
| دخدمت مواضع | مبلغ P۱ | P۲ | | P۳ |
| دانجینیری موضع (S۱) | ۳۶۰۰۰ | ۷۲۰۰ | ۲۸۸۰۰ | ۰ |
| د مکانی خدماتو موضوع (S۲) | ۸۴۰۰۰ | ۳۶۰۰۰ | ۲۵۲۰۰ | ۲۵۲۰۰ |
| د سرپرستۍ موضع (S۳) | ۲۵۰۰۰ | ۱۵۰۰۰ | ۱۰۰۰۰ | ۰ |
| ویشل شوې موضوع | ۱۴۵۰۰۰ | ۵۵۸۰۰ | ۶۴۰۰۰ | ۲۵۲۰۰ |

**د C عنوان: ټاکل کیدونکې اضافی محاسبه**

| | ویشلې پیسې | | د A ځانګې فیصدۍ | | هغه پیسې چې ویشل شوې دي |
|---|---|---|---|---|---|
| انجینیري | ۷۲۰۰ | = | ۰,۲ | × | ۳۶۰۰۰ |
| مکاني | ۳۳۶۰۰ | = | ۰,۴ | × | ۸۴۰۰۰ |
| سرپرستي کارخانه | ۱۵۰۰۰ | = | ۰,۶ | × | ۲۵۰۰۰ |

هغه وخت چې فیصدي محاسبه شي، د لګښتونو ځانګړي کول د لګښتونو د ویشلو په واسطه چې په ۵-۷ شکل کې هم وښودل شول ، زیاتیږي ،$۳۶۰۰۰ډالره د انجیزي s۱ د موضوع د خدمت لګښتونه، اوهمدارز له ۷۲۰۰ یا د(۲۰ سلنې) له جملې څخه په مشترکو تولیدي لګښتونو ۲۸۸۰۰ یا په مشترکو تولیدی لګښتونو p۱ او یا ٪ ۸۰ فیصده مشترک تولید p۲ ویشل کیږي، مجموعي ویشل شوی لګښت ۳۶۰۰۰ یا ۲۸۸۰۰+۷۲۰۰) د انجنیري مصرف د موضع له مجموعي مصارفو سره برابر دي. د منځنۍ موضع ( سنجش ٪۱۰۰ دا نتیجه تایدوي.) C,B برخې د مصارفو توزیع دوو نورو خدماتي مرکزونو ته شرح کوي. د خدمتي موضع ټول لګښتونه چې پر نورو مواضعو باندې ویشل شوي وي، له ۵۵۸۰۰ څخه عبارت دي. د تولیدي موضع لپاره p۱ او د ۶۴۰۰۰ تولیدي موضع لپاره p۲ او د ۲۵۲۰۰ بازار موندنې موضع لپاره p۳.

**د مستقیم میتود محدودیتونه:**

ځینې وختونه مستقیم میتود د یوې موضوع په بلې موضوع باندې، وړاندې شوي خدمت ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پام سره تر انتقاد لاندې راځي ، که د لګښت د ویشلو هدف ، د مواضعو غیر مستقیم کنټرول وي، نو په دې صورت کې د دې سیستم ستونزه په دې کې ده، چې: هغه لګښتونه چې په خپله خدمت مواضعو کې رامنځته شوي وي او د بلې موضوع په واسطه ورڅخه ګټه اخیستل کیږی ، ورته په کمه سترګه کتل کیږي. د دې ستونزې د حل لپاره د خدمت د مواضعو د لګښتونو د مرحلی د ویشلو د میتود د رامنځته کیدو لامل ګرځي.

**مرحله یی میتود:** مرحله یی میتود د لګښت د ویشلو یو میتود دی، چې د خدمت د مواضعو ترمنځ د خدماتو ویشل توزیع کوی.

ویشل په معمولي ډول له خدمتي موضوع څخه پیلیږي، هغه داچې د مجموعي خدماتو لویه موضوع، نورو موضوع ګانوته وړاندې کوي ،او یا د مجموعي خدماتو لویه برخه نورو موضوع ګانوته وړاندي کوي، کله چې توزیع د خدماتو د یوې موضوع څخه رامنځته کیږي او وروسته هغه ویشنه یا توزیع په موضوع باندې تر سره کیږي ، څکه د خدمت یوه موضوع چې نورو موضوع ګانوته خدمات وړاندې کوي او همداراز د هغې موضوع خدمات پیداکوي.

د وړاندیز شوې توزیع د طریقې په وړاندې کولو سره مونږ کولای شو هغه رابطې چې د توزیع په مراحلو کې ورته پام نه دی شوې کمي کړو.
د مثال په توګه: هغه وخت چې مستقیم میتود د آل تکنیک په میتود کې د ګټې اخیستنې وړ وګرځي ، لګښتونه د کارخانې د سرپرستۍ له موضوع څخه په ساختماني موضوع ویشل کیږي او نه ددې برعکس چې په لاندې ډول بیان شوي دي.

د ال تکنیک شرکت د مواضعو د خدماتو څیړل ښیی چې د کار خانې سرپرستي ۲۵ فیصده خپله خدمات نورو مواضعو ته وړاندې کوي. په داسې حال کې چې دمکاني خدمت موضوع ۲۰ فیصده خپله خدمات نورو مواضعو ته وړاندې کوي ،د ۷-۳ شکل ته وګورى چې د انجینري موضوع خپله هیڅ ډول خدمات نورو مواضعو ته نه وړاندې کوي.

په مرحله یي توزیع کې دسته بندي د وړاندې شویو خدماتو په رڼا کې د خدمت په نورو مواضعو عبارت دی له:

| درجه | دخدمت موضع |
|---|---|
| -۱ | د کارخانې سرپرستي (s۳) |
| -۲ | مکاني خدمت (s۲) |
| -۳ | انجنیری (s۱) |

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کارخانې د سرپرستۍ موضعي لګښتونه کيدای شي چې د خدمت پر ټولو مواضعو چې د دغې موضع له خدمتونو څخه ګټه اخلي توزيع شي. حال دا چې د مکاني خدمتونو موضعي لګښتونه يوازې خدمتي موضع ته چې لاندې يې د توزيع درجه شته، توزيع کيږي. دا په ياد ولرئ چې د زماني پړاويز ويش تر عنوان لاندې چې د يوې خدمتي موضع لګښتونه پر نورو مواضعو توزيع شوي وي، بيا ورباندې نور لګښتونه نشي ويشل کيدای.

د آل تکنيک توليدي شرکت.
د الف عنوان: فيصدۍ
مخ پر زياتيدونکې فيصدي.

| د خدمت واضع | مستيم مصارف | S۳ | S۲ | S۱ | P۱ | P۲ | P۳مواضع |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| S۳ | ۲۵۰۰۰ | ۰ | ۰,۱ | ۰,۱۵ | ۰,۴۵ | ۰,۳ | ۰ |
| S۲ | ۸۴۰۰۰ | ۰ | ۰ | ۰,۰۹ | ۰,۳۷ | ۰,۲۷ | ۰,۲۷ |
| S۱ | ۳۶۰۰۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰,۲ | ۰,۸ | ۰ |
| | ۱۴۵۰۰۰ ډالره | | | | | | |

د ب عنوان: د مرحله يی ميتود توزيع
د لګښت توزيع:

| له | S۳ | S۲ | S۱ | P۱ | P۲ | P۳ |
|---|---|---|---|---|---|---|
| مستقيم لګښتونه | | | | | | |
| د خدمت موضع | ۲۵۰۰۰ | ۸۴۰۰۰ | ۳۶۰۰۰ | | | |
| مصارف موضعS۳ | (۲۵۰۰۰) | ۰۰۲۵ | ۳۷۵۰ | ۱۱۲۵۰ | ۷۵۰۰ | ۰ |
| مصارف موضع S۲ | | ۸۶۵۰۰ | ۷۷۸۵ | ۳۲۰۰۵ | ۲۳۳۵۵ | ۲۳۳۵۵ |
| مصارف موضع S۱ | | | ۴۷۵۳۵ | ۹۵۰۷ | ۳۸۰۲۸ | ۰ |
| | | | | ۵۲۷۶۲ | ۶۸۸۸۳ | ۲۳۳۵۵s |

**د مکاني خدماتو د موضع د لګښتونو توزيع**

د مکانی خدماتو دلګښتونو دويشلو په محاسبه کې د لګښتونو د مرحله يی ميتود په پام کې نه نيول کيږی ځکه د دې موضع وړاندې لګښتونه ويشل شوي دي. نتيجه دا ده چې د مکاني خدماتو د مصارفو موضع فيصدۍ مخکې توزيع شوېده. د انجنيري موضع په ۲۰۰۰۰ فټه مربع استفاده شوې او د دې موضوع په مرسته ښودل شويدي ( ۳_۷ شکل ). او د ۲۲۰۰۰۰ فټه مربع

(c) ketabton.com: The Digital Library

په واسطه په اساس د ( ۲۵۰۰۰۰ فټه مربع، مجموعي منفي ۳۰۰۰۰ د کارخانې د سرپرستي موضع په واسطه تصرف شوې ساحه ) ارایه کیږي. نتیجه تقریبا ۹ فیصده ده.

**له وضعه شوي مکانی خدمت څخه مجموعي ویشل شوي خدمات**

۸۶۵۰۰ افغانۍ دی چې له ( ۴۰۰۰) ډالرو سره برابر دي، د مستقیمو لګښتونو د حاصل د جمعې سره همداراز ۲۵۰۰ ډالره د کارخانې د سرپرستۍ موضوع او همداراز د انجنیرۍ د انتقال موضع له ۸۶۵۰۰ ډالره څخه ۹ فیصده ده چې له ۷۷۸۵ ډالر ه سره برابره ده ، په دې ترتیب د خدماتو د موضع لګښتونه ۱ په ۷-۶ شکل کې ښودل کیږي.

**د S۱ انجنیری موضعی لګښتونو ویش**

د ۷-۳ شکل د توضیحاتو له مخې د انجنیرۍ موضعي ۲۰٪ تولیدات د تولیدي p۱ موضع او ۸۰٪ د تولیدي p۲ موضع په مرسته کارول شوي دي. دغه خدمتونه د نورو مواضعو په مرسته نه دي کارول شوي. نو دا ټول مستقیماً د کاروونکي پر مواضعو ویشل شوي وو.(۲۰٪ پر p۱ او۸۰ سلنه پر p۲).

په پړاویز میتود کې د لګښتون جریان د دیاګرام په مرسته په VE-۷ بڼه کې ښودل شوی دی. په پام کې ولرئ چې د VE-۷ بڼه د ۴-۶ بڼې سره چې د لګښت جریان یې د مستقیم میتود په مرسته څرګنداوه، توپیر لري. ځکه ځینې لګښتونه د خدمت له یوې موضع نه د خدمت بلې موضع ته لیږدیږي، په ټول کې د خدمت پر مواضعو باندې ویشل شوي لګښتونه یوازې د خدمتی مواضع مستقیم لګښتونه نه دي، بلکې ټول هغه ویشل شوي لګښتونه پکې شاملیږي چې پرې د خدمت مواضع ویشل شوي وي.

**د پړاویز میتود محدودیتونه**

پړاویز میتود د مستقیم میتود په پرتله د پام وړ ویش لري، ځکه دا میتود څرګندوي چې د خدمت ځینې مواضع د نورو خدمتي مواضعو د کاروونکو په توګه وي. حال دا چې دغه میتود دوه اړخیز خدمتونه نشي توپیر کولی.
د مثال په ډول: د مکاني خدماتو موضع او د کارخانې سرپرستي موضع، دواړه یو بل ته خدمتونه چمتو کړل او ګټه یې ترې واخسته. که چیرې د استفادې ګټه او زیان د لګښت له ویش څخه وشمېرل شي، نو په دغسې حالت کې پړاویز میتود لزوماً له مستقیم میتود څخه غوره نه دی.
یوه کمپنۍ له پخوا نه مستقیم میتود کاروي، شاید د میتودونو بدلون غیر اقتصادي وګڼي، په ځانګړي ډول که د لګښت د ویش موخه یوازې د موجودۍ ارزونه او بهرنی مالي راپور ورکول وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دوه اړخيزه ( متقابل ) ميتود:**

د خدماتو د ويشلو دغه ميتود چې په متقابله توګه تبادله کيږي، تر بحث او څيړنې لاندې نيسي.
دوه اړخيزه ميتود په مرحله يي مستقيم ميتود کې شته محدوديتونه د لګښتونو په دوه اړخيزه لګښتونو کې روښانه کوي ، کله چې د خدمت مواضع ، متقابل خدمت يو پربل سرته رسوي، ټول وړاندې شوي خدمات د خدمت د مواضعو په واسطه په نورو مواضعو باندې تشخيص کيږي.
په دوه اړخيزه ميتود کې د توليد لګښت ، بازار موندنه او د خدمت د موضوع لګښتونه د معادلې په شکل ليکل شوي وي.

> لګښتونه چې په نورو مواضعو ويشل شوي وي + د خدمت د موضوع مستقيم لګښت = مجموعي لګښتونه.

وروسته دمعادلاتو سيستم په يووخت کې د الجبري ميتريکس معادلاتو څخه په ګټې اخيستنې سره حل کيږي ، د دغو معادلاتو په حل کيدوسره د مواضعو ټول لګښتونه د خدمت په منځ کې ويشل کيږي. دغه ميتود ته دوه اړخيزه ميتود ويلای شو ، ځکه د مستقيم جريان لګښت په هرو دواړه سمتو ( لورو ) کې محاسبه کوي او همدارنګه دغه ميتود د حل زمان ميتود په نوم هم ياديږي

د مرحله يي او کليدي ميتود ترمنځ اختلاف په ۷ -۷ او ۸-E۷ شکلونو کې ليدلای شو. پام وکړئ چې د خدماتو دوه اړخيزه ميتود د کارخانې مکاني خدمات او د سرپرستي موضوعات محاسبه کوي.

دوه اړخيزه ميتود کله چې د خدمت درې موضوع ګانې او يا له هغه څخه زياتې شتون ولري د معادلاتو د حل لپاره د الجبری ميتريکس څخه ګټه اخلي
د دغو معاملاتو د حل لپاره له کمپيوټر څخه هم استفاده کولای شو.
د ۹-۷ په شکل کې ويشل شوي لګښتونه ، د توليد اوبازار موندنې په مواضعو او په هرو درې ګونو ميتودونو د آل تکنيک توليدي شرکت ته چمتوکوي. نو تاسو د ويشل شويولګښتونو اغيزې په ګټه اخيستونکو مواضعو باندې ليدلای شی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۷-۸ شکل کې د دوه اړخییزه میتود د لګښت د جریان ویشل.

د آل تکنیک تولیدي شرکت

د خدمت مواضع

موضع انجینیري S۱

| | |
|---|---|
| په تولیدي مشترکو مصارفوویشل شوی<br>P1<br>P2 | د انجنیري د موضع له مستقیمو مصارفو څخه پیدا شوي:<br>د کارخانې د مکاني خدماتو موضع<br>مکاني خدماتي موضع S2 |
| مکاني خدماتي موضع S2 | |
| په تولیدي مصارفو وېشل شوي:<br>P1<br>P2<br>بازاریابی P3<br>د انجنیرۍ موضع S1<br>د کارخانې سرپرستي S3 | د مکاني خدماتو مستقیم مصارف چې له مشترکو تولیدي مصارفو څخه په لاس راغلي،<br>د سرپرستي موضع |
| د کارخانې د سرپرستۍ موضع S3 | |
| په مشترکو تولیدي مصارفو ویشل شوي<br>P1<br>P2<br>د انجنیري خدماتو موضع S3<br>ساختماني موضع S2 | د کارخانې د سرپرستي د مستقیمو مصارفو موضع چې استفاده شوي وي. د مکاني خدماتو موضع |

۷-۹ شکل: توزیع شوي ډالري مبلغ ، د ال تکنیک د تولیدي شرکت هر یو میتود تر اغیزې لاندې، توزیع شوي خدمات.

| مواضع | مستقیم میتود | مرحله لرونکی میتود | دوه اړخیزه میتود (الف) |
|---|---|---|---|
| P۱ | ۵۵۸۰۰ | ۵۳۳۶۱ | ۵۲۷۶۲ |
| P۲ | ۶۴۰۰۰ | ۶۸۸۸۳ | ۷۰۳۲۸ |
| P۳ | ۲۵۲۰۰ | ۲۳۳۵۵ | ۲۱۰۱۱ |
| مجموعه | ۱۴۵۰۰۰ | ۱۴۵۰۰۰ | ۱۴۵۰۰۰ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

الف: دغه لګښتونه ددې فصل سره په ضمیمه کولو کې محاسبه کیږي.
دوه اړخیزه میتود د الجبري معادلو څخه په ګټې اخیستنې سره حل کولای شو، خو په دې شرط چې د خدمت دوې موضع موجودې وي.
د توزیع یا ویشلو ستونزې یواځې د الجبري معادلو څخه په ګټې اخیستنې سره حل کولای شو.
ددې لپاره چې وښیو چې څرنګه دا عمل سرته رسوو، په دې اړه موږ یو ساده مثال وړاندې کوو.
فرض کړی چې یو شرکت د خدمت دوه موضع s۱ او s۲ او درې تولیدی موضوع ګانې p۱,p۲ لري، اوp۳ په مستقیمو لګښتونو او د لاندې توزیع په فیصدۍ بیانوي.

| | | S۱ | S۲ | P۱ | P۲ | P۳ |
|---|---|---|---|---|---|---|
| S۱ | ۷۹۰۰۰ | - | ۳۰٪ | ۳۰٪ | ۳۰٪ | ۱۰٪ |
| S۲ | ۲۶۰۰۰ | ۱۰٪ | - | ۱۵٪ | ۱۵٪ | ۶۰٪ |

د خدمت د دوه ګونو مواضعو لګښتونه کولای شو په لاندې معادلو کې بیان کړو.
هغه لګښتونه چې د خدمت په موضع وویشل شي + دخدمت د موضوع مستقیم لګښتونه = مجموعي لګښتونه.

I    S۲    ۰,۱+۷۹۰۰۰=S۱

II    S۱    ۰,۳+۲۶۰۰۰=S۲

دوه، دوه مجهوله معادلې چې کولای شي، د تعویض په توګه حل شي. د(I) معادلې په دننه کې د(II) معادلې په تعویض سره ویلای شو چې:

S۱    ۰,۰۳+۲۶۰۰+۷۹۰۰۰=(۰,۳S۱+۲۶۰۰۰)۰,۱+۷۹۰۰۰=S۱

۸۱۶۰۰=S۱    ۰,۹۷

۸۴۱۲۴=۰,۹۷/۸۱۶۰۰=S۱

او اوس له S۱ ارزښت په (II) معادله کې تعویض کوو او بیا وایو چې:

(۸۴۱۲۴)۰,۳+۲۶۰۰۰=S۲

۲۵۲۳۷+۲۶۰۰۰=S۲

۵۱۲۳۷=S۲

په دې صورت کې لګښتونه په یووخت کی د خدمت د ددواړو مواضعو ترمنځ ویشل کیږي.
د s۱=۸۴۱۲۴ ارزښت او د s۲=۵۱۲۳۷ دی، چې وروسته د مجموعي لګښت په توګه ورڅخه ګټه اخیستل کیږی. د خدمت مواضع باید د تولید په مواضع وویشل شي، چې توزیعات په دې شکل دی:

(c) ketabton.com: The Digital Library

له مجموعی لګښتونو څخه توزیع شوي

| | | P۱ | | P۲ | | P۳ | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | فیصدي | مبلغ | فیصدي | مبلغ | فیصدي | مبلغ |
| S۱ | ۸۴۱۲۴ | ۳۰٪ | ۲۵۲۳۷ | ۳۰٪ | ۲۵۲۳۷ | ۱۰٪ | ۸۴۱۲ |
| S۲ | ۵۱۲۳۷ | ۱۵٪ | ۷۶۸۷ | ۱۵٪ | ۷۶۷۸ | ۶۰٪ | ۳۰۷۴۲ |
| مجموعه | | | ۳۲۹۲۳ | | ۳۲۹۲۳ | | ۳۹۱۵۴ |

محاسبه

د P۱ او P۲ لپاره — د P۳

۸۴۱۲۴×۰,۱=۸۴۱۲ — ۰,۳×۸۴۱۲۴=۲۵۲۳۷ — S۱

۵۱۲۳۷×۰,۶=۳۰۷۲۴

۰,۱۵×۷۶۸۶=۵۱۲۳۷ — S۲ لپاره

د خدمت په مواضعو باندې مجموعي توزیع شوي لګښتونه په دې سره زیاتیږي:
۱۰۵۰۰۰=(۳۹۱۵۴+۳۲۹۲۳+۳۲۹۲۳)

چې مساوي کیږي له هغو لګښتونو سره چې د خدمت د مواضعو لخوا ویشل کیږي.
۱۰۵۰۰۰=(۷۹۰۰۰+۲۶۰۰۰)

**د میتودونو مقایسه**

د توزیع د میتودونو د مقایسی لپاره درې طریقې وجود لري. لومړۍ طریقه :
ازمایښت کوو چې څرنګه هرلګښت د خدمت په ترلاسه شویو مواضعو ویشل کیږي، چې د دې مسلې د روښانتیا لپاره د آل تکنیک شرکت لپاره وړاندې شوي مثال ته فکر کوو.

**دویمه طریقه:**

هر نهایي ( وروستي ) توزیعي لګښتونه چې د بازار موندنې د مواضعو په تولید باندې رامنځته شوي وي، ازمایو یې ، لکه څنګه چې په ۷-۹ شکل کې وښودل شول، د لګښتونو په ویش به د هر ډول سیستم په کارولو سره هماغه پیسې ۱۴۵۰۰۰ د آل تکنیک شرک لپاره لاسته راشي، نو له همدې امله یې تفاوت د بازارموندنې او د تولید په مواضعو کې یواځې په ځانګړو پیسو کې دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د آل تکنیک تولیدي شرکت

د میتود په هره توزیع کې د لګښتونو ترلاسه شوې مواضع

| دخدمت موضع | | ورکړل شوي لګښتونه | مستقیم میتود | مرحله لرونکی میتود | دوه اړخیزه میتود (الف) |
|---|---|---|---|---|---|
| انجینیري S۱ | P۱← | | P۲ | - | P۱ |
| | P۱← | P۱ | | | |
| | ← | P۲ | P۲ | - | P۲ |
| ساختماني S۲ | S۱← | - | S۱ | - | S۱ |
| | S۳← | - | - | - | S۳ |
| | ← | P۱ | P۱ | P۱ | P۱ |
| | ← | P۲ | P۲ | P۲ | P۲ |
| | ← | P۳ | P۳ | P۳ | P۳ |
| سرپرستي S۳ | S۱← | - | - | S۱ | S۱ |
| | S۲← | - | - | S۲ | S۲ |
| | P۱← | | P۱ | P۱ | P۲ |
| | P۱← | | P۲ | P۲ | P۲ |

د دغو توزیعاتو موثر لامل دی. د مکاني خدماتو د مصارفو موضع ده. په مستقیم میتود کې مکاني استفاده د خدمت په  نورو مواضعوکې په پام کې نه نیول کیږي. دا د دې لامل ګرځې چې د بازارموندنې موضع ته ډیر مصارف توزیع شي. ځکه هغه موضع د خدمت له نورو مواضعو څخه استفاده نه کوي. د بازارموندنې موضع د مصرف له توزیع څخه کمیږي او یا هم لږ صورت نیسي.

د مکاني خدماتو له موضع څخه د استفادې په اساس د خدمت د نورو مواضعو له خوا تشخیص کیږي. که د مصارفو د کښته راوستو په برخه کې د اجرایوي مدیرانو څیړنې د هغوی د لیاقت او توانایي له مخې وي، هغوی به په دې کار کې د مصرف د توزیع یوې توزیع ته ترجې ورکړي. د ۷_۹ شکل په اساس د بازار موندنې موضع ، دوه طرفه میتود غوره کوي او د  یوې عمومي قاعدې په سترګه ورته ګوري. په دې برخه کې مختلف میتودونه شته، کله چې د خدمت په برخه کې د مواضعو فعالیتونه موجود نه وي، وروسته به د درې واړو میتودونو پایلې یو ډول راووځي.

**د اووم څپرکي د مطالبو لنډیز:**

**۱-  د لګښت و یشلو ارزونه:** د لګښت په موضع باندې د یو غیر مستقیم لګښت څخه عبارت ده، د مثال په توګه:  که د یوه ساختمان د تسهیلاتو برخه  ۱۵۰۰۰۰ افغانۍ قیمت ولري او د ویشلو وړ لګښتونه د غیر مسقیمولګښتونو یا عمومي لګښتونو په توګه وشمیرل شي ، او هرکله چې موږ

(c) ketabton.com: The Digital Library

تصمیم ونیسو چې لګښتونه باید د یو معیار پراساس وویشل شي ، مثلا، د هرې موضع د کارمندانو تعداد د کارمندانو د توزیه د اساس د تعداد له مخې جوړیږي او مصرف موضع دیپارټمنتونه وي.

لومړۍ مرحلې ته پراختیا ورکوو: که په لومړی موضع کې ۴۰٪ کارمندان وي، وروسته په دې موضع پورې ۱۵۰۰۰۰۰ افغانۍ تعلق نیسي، او یا هم ۶۰۰۰۰۰ افغانۍ د لومړۍ موضع له پاره توزیع شوی مصرف په پام کې نیول کیږي، او ۶۰٪ پاتې شوې او یا هم ۹۰۰۰۰۰۰ افغانۍ په دوهمه موضع توزیع کیږي.

**۲: ولې مصارف توزیع کیږي:** په موسساتو کې د مصرف د وېش په اړه ډیر مثالونه شته. تولیدي مشترک مصرف، یو عمومي مصرف دی چې ډیر وخت د تولیدونکو له خوا د تولید په هر واحد وېشل شوی وي. دا توزیع د مالي راپور ورکونې له پاره ضروري ګڼل کیږي. لویې موسسې ډیر وخت د مرکزي دفتر مصارف په انفرادي څانګو کې توزیع کوي.

**۳- د لګښت د ویشلو انفسي طبیعیت:** دعمومي لګښت تعریف ته په کتوسره دا امکان شته چې هغه د لګښت په موضوع باندې د یو ډول فردي قضاوت په اساس ویشل شوي وي. په انفسي او اختیاری توګه د معیار ټاکل د دې لامل شوی، ترڅو انتقاد کوونکي ادعا وکړي چې شاید په اختیاري توګه دلګښتونو ویشل په ملي اویا مجربه راپور ورکونه کې تیروتنه رامنځته کړي او د تصمیم نیولو په کار کې کمزوري راولي.

ددې ستونزو سره سره د مصرف د ویش په اړه د یوه شرکت یوې څیړنې ښودلې ده چې ۸۴٪ تصدۍ( د احصایه نیونې په شمول ) د مرکزي دفترونو عمومي مصارف د توزیع په مواضعو تصدي کړیدي.

**۴- د لګښت د ویشلو میتود:** د لګښت دویشلو مرحلې په دوه برخو ویشل شوې دي.
په لومړۍ مرحله کې لګښت د تولیدي فعالیتونو په مرکزونو ویشل کیږي.
په دوهمه مرحله کې د فعالیت دمرکزونو فعالیتونه د تولید په واحداتو ویشل کیږي.

**۵- د خدمت موضع:** د خدمت په فعالیتونو کې چې موضوع نورو فرعي موضوع ګانو ته وړاندې کیږي.

**۶- د استفاده کونکي مواضع:** هغه موضع چې د خدمت دموضع د فعالیتونو څخه ګټه اخلي.

**۷- تولیدی موضع :** هغه اصطلاح چې د تولید د شرح شویو مواضعو لپاره ورڅخه ګټه اخیستل کیږي، لکه د مونتاژ موضع.

**۸- د لګښتونو مرکز:** د لګښت یو منځنی مرکز چې لګښتونه یې د موسسې په نورو مواضع وو ، ویشل شوي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۹- د لګښت وروستی مرکز:** د لګښت یو مرکز لکه ، د تولید یا بازار موندنې یوه موضع چې دهغې د لګښت څخه د نورو مرکزونو په لګښت ویشل کیږي.

**۱۰ – د توزیع اساس:** هغه معیار دی، چې د هغه څخه په ګټې اخیستنې سره غیر مستقیم او یا مشترک لګښتونه د لګښت په دوه یا زیاتو مواضعو ویشل کیږي.

**۱۱- حرکتي لګښت:** هغه عامل چې د هغه په واسطه محرک لګښت یو ډول تولیدي فعالیت رامنځته کړي، لکه کار ، د مکان او خدمت ماشین.

**۱۲- د توزیع د اساس د موندلو لپاره درې ګونې معیارونه:** په واقعې ( پیښې ) پورې ارتباط.
د ګټې پیداکول.
د قبول قابیلیت.

**۱۳- د لګښتونو د ویشلو میتودونه ، د خدمت مواضع.**
الف – مستقیم میتود.
ب – مرحله یي میتود.
ج – دوه اړخیزه میتود.

**۱۴- مستقیم میتود:** د لګښت د ویشلو یو میتود دی، چې د خدمت مواضع په نورو ګټه اخیستونکو مواضعو باندې ویشي.

**۱۵- مرحله یی میتود:** د واضع خدمتونو د لګښتونو د ویشلو یو میتود دی.

**۱۶- دوه اړخیزه میتود:** د خدماتو د ویشلو دغه میتود د لګښتونو د مواضعو په منځ کې تربحث او څیړنې لاندې نیول کیږي.

**۱۷- مجموعي لګښتونه:** له هغو لګښتونو څخه عبارت دي، چې په نورو مواضعو ویشل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د اوم څپرکي پوښتنې:**

۱- د لګښت د ویشلو ارزونه د مثال په وړاندې کولو سره بیان کړئ؟
۲- ولې لګښتونه په مواضعو ویشل کېږي؟ معلومات ورکړئ؟
۳- د لګښت د ویشلو طبیعت النفسي بیان کړئ؟
۴- د لګښت د ویشلو لګښتونه په څو برخو ویشل شوي، معلومات ورکړئ؟
۵- د خدمت موضع تعریف کړئ؟
۶- د تولیدي موضع په اړه معلومات ورکړئ؟
۷- ګټه اخیستونکی مواضع د مثال په وړاندې کولو سره ووایی؟
۸- د لګښتونو د مرکز په اړه معلومات ورکړئ؟
۹- دلګښت نهایی مرکز تعریف کړئ؟
۱۰- دتوزیع اساس بیان کړئ؟
۱۱- محرک لګښت څه ته وایی، بیان یې کړئ؟
۱۲- د مناسبې ویشنې د اساس د موندلو لپاره درې ګونې معیارونه بیان کړئ؟
۱۳- د خدمت د مواضعو د لګښتونو د ویشنې میتودونه کوم دي؟
۱۴- د مرحله یي میتود په اړه معلومات ورکړئ؟
۱۵ – دوه اړخیزه میتود بیان کړئ؟
۱۶- مجموعي لګښتونه بیان کړئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د لګښتونو د مواضعوو ارزونه

**تولیزه موخه:**
د تولیدي موسساتو د مواضعو د سنجش په اړه معلومات او توانایي پیداکول.

**د زده کړې موخې:** محصلین به د دې فصل په پای کې لاندې معلومات تر لاسه کړي.

- د لګښتونو د مواضعو د سنجش مفهوم او هدفونه.
- د یوې تصدۍ دتصنیف امکانات د مصرف په مواضعو.
- د لګښت په مواضعو باندې د بیلابیلو لګښتونو ویشل.
- د لګښتونو سنجول د موضعګانو په توګه د تصدی د پاڼې سنجول کول.
- د تصدۍ په دننه کې د توزیع د فعالیتونو طریقې.

**۱- د مصارفو د مواضعو د سنجش او اهدافو مفهوم:** د وضعه شویو لګښتونو (مصارفو) د سنجول معلومات د تصدۍ په هره څانګه باندې، چې په هغه کې دغه لګښتونه په یوه اقتصادۍ پړاو کې وړاندې کیږي.
د وضعه شویو لګښتونو په سنجونه کې، په وضعه شویو لګښتونوباندې دتولید مشترک لګښتونه په مستقیمه توګه ویشل کیږي.
د وضعه شویو لګښتونو د سنجونې مهم هدفونه په لاندې ډول دی
د خدماتو په لګښتونو باندې ،د مشترکو لګښتونو د وسیلې په توګه د اقتصاد کنټرول، او د لګښتونو په اړه د معلوماتو وړاندې کول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۲- په وضعه شوو لګښتونو باندې د يوې تصدۍ د تصنيف امکانات:** کولای شو چې يوه تصدي د مختلفو اړخونو له لارې په وضعه شويو لګښتونو وويشو.

**مثال:** د ساحوي ، تشکيلاتي، د لګښتونو د ليږدولو، د لګښتونو د سنجولو د تخنيک او وظيفې له پلوه.

له وظيفوي پلوه يوه تصدۍ په معمولي ډول په لاندې وضعه شويو لګښتونو ويشل شوې ده.

۱- عمومي وضعه شوي لګښتونه.

۲- توليدي وضعه شوي لګښتونه.

۳- د وضعه شويو لګښتونو مواد.

۴- د وضعه شويو لګښتونو پلورل

۵- د اداري لګښتونو وضعه کيدل.

پورته يادې شوې مواضع په نورو ضمني مواضعوو هم ويشلی شو چې دا تقسيمات د تصدۍ په لويوالي او وسعت پورې اړه لري.

**۳ - د مصرف په مواضعو باندې د مصارفو د مختلفو ډولونو توزيع:** په وضعه شويو لګښتونو باندې د لګښتونو د ډولونو د ويشلو په وخت کې له هرڅه وړاندې لګښتونه ، په انفرادي لګښتونو ، د لګښتونو په حمل ، اوپه مشترکو لګښتونو باندی ويشل کيږي.

مشترک وضعه شوي لګښتونه د نسبي قيمتونو په مرسته په وضعه شويو لګښتونو باندې ويشل کيږي. په دې صورت کې کوښښ کيږي، ترڅو د لګښتونو او نسبي کميت ترمنځ رابطه رامنځته شي. په هره اندازه چې د دغو لګښتونو د ويشلو لپاره مناسبه لاره پيدا شي ، په هماغه اندازه د وضعه شويو لګښتونو ارزيابي او د لګښتونو د سنجولو علت دقيق وي.

مقداری معيارونه عبارت دی له:

- مقدار ( اندازه ): مثال: د توليد شويو په کار اچول شويو او يا پلورل شويو واحدونو شمير اونور.
- ځای: مثال: طول ، مساحت ، حجم اونور ،
- وزن: مثال: د په کار اچول شويو موادو وزن ، د ترانسپورت شويو موادو وزن ، د توليد داندازې وزن اونور.
- تخنيکی معيارونه: مثال: کالورۍ ps کيلو، ولت او نور

کليدي او ارزښتناکه معيارونه په لاندې ډول دي

- لګښتونه ( مصارف ): لکه دتوليد شوي مزد لګښت ، د توليدي موادو لګښت ، دتوليد لګښت ، اونور
- د په کار اچول شويو موادو لګښت، مثال د موادو ارزښت اونور.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- د پلورلواندازه. مثال: د متاع پلورل اونور
- موجود ارزښت: مثال: د خامومواد و ارزښت ، د وروستیو تولیداتو ارزښت ، د ثابتې شتمنۍ ارزښت اونور.
- دارزيابي کميت: لکه د ارزيابي قيمت اونور
د لګښتونو د ويشلو لپاره مناسبې لارې په درې ډوله دي.

الف - د کليدي واحد لګښت × د کليدي واحد شمير= د لګښتونوسهم ( برخه )

| | |
|---|---|
| اضافه فيصدۍ × دکليدي واحدونوشمير | =د لګښتونوسهم (ب |
| ۱۰۰ | |

| | |
|---|---|
| دفيصدۍ سهم× مجموعي لګښتونه | =د لګښتونوسهم (ج |
| ۱۰۰ | |

د کليدي لګښتونو لومړی شکل، په تېره بيا د مقداري کليد په توګه مناسب دی.
مثال: که د بريښنا لګښت د کيلوواټ په اساس او استهلاک شوې يوساعت برښنا په لګښتونو وضعه کړو، په دې صورت کې له دې ميتود څخه ګټه اخلو:
د يوې موضوع ا ستهلاک شوې بريښنا د کليدی واحدونوپه توګه وړاندي کيږي.
د يوې تصدۍ د بريښنا مجموعي لګښت = ۲۰۰۰۰۰
د تصدۍ د مجموعي بريښنا استهلاک = ۲۵۰۰۰۰۰کيلوواټ ساعت
کيلوواټ ساعت افغانی ۰,۰۸= $\frac{۲۰۰۰۰۰}{۲۵۰۰۰۰۰}$ = په يوساعت کې دفی کيلو واټ لګښتونه (في واحد کليد
دساعت دکيلو واټ ۳۷۵۰۰ = د (A) د موضع د برق د استهلاک اندازه (د کليدونو تعداد)

افغانۍ ۳۷۵۰۰×۰,۰۸=۳۰۰۰ = د (A) د موضع د برق د استهلاک اندازه (د کليدونو تعداد)
د يوې مشخصې موضع د مصارفو د يوې دورې بر خه ( سهم ) د زمان ( وخت ) د دوهم شکل په اساس تثبيت کيږي ، خو شرط يې دادی چې له ارزښي کليد څخه استفاده وشي. په دې ځای کې د کليدونو تعداد اضافي خاصيت لري. مثلا: په يوه تصدۍ کې د رخصتيو مزد بايد د مصارفو د معاش د مواضعوو او د مزد په اساس په يوه دوره کې تقسيم شي. د يوې دورې د مزد او معاش او د رخصتيو د مزد له مجموعي نسبت څخه اضافه فيصدۍ سنجش کيږي. د مصارفو د يوې موضع

(c) ketabton.com: The Digital Library

مجموعي مزد د کلیدونو د شمېر په توګه وړاندې کیږي، او دا د اضافي فیصدي په نرخ کې ضرب کیږي او په سلو تقسیمیږي. په دې اساس د یوې موضع د مصارفو برخه سنجش کولی شو.

مثال:

۱۵۰۰۰۰ افغانۍ=په یوه دوره کې د تصدۍ د رخصتي مزدونه

۲۰۰۰۰۰۰ افغانۍ = په همدې دوره کې د تصدۍ د مزد او معاشاتو مجموعه

$$\text{د اضافه فیصدۍ نرخ} = \frac{۱۵۰۰۰۰ \times ۱۰۰}{۲۰۰۰۰۰۰} = ۷{,}۵\%$$

۵۰۰۰ افغانۍ= د A د موضع مجموعي مصارف(د کلیدونو تعداد)

$$\text{برخه، د A د مواضع د رخصتیو د مزدونو برخه (د کلیدونو شمېر)} = \frac{۵۰۰۰ \times ۷{,}۵}{۱۰۰} = ۳۷۵۰ \text{افغانۍ}$$

د وخت یا زمان له درېیم شکل څخه ګټه اخیستل کیږي ، کله چې استعمال شوي کمیتونه د یوه محدود وخت لپاره تثبیت شي ( مثال، د لویوالي او غځوالي په اساس د لګښت ویشل اونور ) په دې شکل کې د کلیدي واحدونو د فیصدۍ برخه ، د کلیدي واحدونو په مجموعي شمیر کې تثبیت کیږي او بیا د تصدۍ له لګښتونو سره ضرب کیږي.

**مثال:** د حجم د موضع په اساس د تسخین د لګښتونو ویشل چې په $m^3$ اندازه کیږي.

په یوه دوره کې د تصدۍ د تسخین لګښتونه =۲۵۰۰۰ افغانیو سره

دوضع شویو لګښتونو ټوله مجموعي ساحه = ۳۵۰۰۰۰ $m^3$

د وضع شویو لګښتونو ساحه = ۷۰۰۰۰ $m^3$

$$\text{د وضع شویو لګښتونو د نرخ د فیصدۍ سهم} = ۲۰\% = \frac{۷۰۰۰۰ \times ۱۰۰}{۳۵۰۰۰۰}$$

$$\text{د وضع شویو لګښتونو د تسخین سهم} = ۵۰۰۰ = \frac{۲۵۰۰۰ \times ۲۰}{۱۰۰}$$

په لنډه توګه ویلای شو چې د مصارفو په توزیع باندې د مصارفو د توزیع ډولونه په لاندې توګه ښودلی شو.

**لومړی ګام:** د مصارفو ډولونه په انفرادي مصارفوچې د مصارفو عامل دي او مشترک مصارف د ـ صارفو په حاملینو وېشل کیږي.

د مصارفو د حامل انفرادي مصارف په مستقیمه توګه د مصارفو په حامل تقسیم کیږي. دا په داسي

(c) ketabton.com: The Digital Library

حال کې ده چې د مصارفو د مشترکو مصارفو حامل د مصارفو د مواضعو له لارې د مصارفو په حامل توزیع کیږي.

په دوهم ګام کې د مصارفو مواضع په پخوانیو اود مصرف په اخیري مواضع وېشل کیږي. د مصارفو وروستۍ مواضع په مستقیمه توګه د مصارفو په حامل تقسیم کیږي. په داسې حال کې چې د مخکینۍ مواضع مصارف د مصارفو په اخیري مواضع وېشل کیږي.

په دریم ګام کې د ډیروالي فیصدي د مصارفو په هره اخیرنی مواضع کې سنجش کیږي.

**د تصدۍ د سنجش پاڼه(BAB) د مصرف د مواضع د سنجش د وسیلې په توګه:**

د مواضع د مصرف سنجش کولای شو چې په حسابي بڼه او یا هم په حسابي شکل کې د پرمخ بیولو د تابلو په بڼه وټاکو. په حسابي شکل کې د مصرف د هرې موضع له پاره یو حساب افتتاح شوی دی او په دې حساب کې په هره مواضع پورې د ټرلو حسابونو مصرف درج کړو. په هغه صورت کې چې د مصرف د مواضع سنجش د تابلو په اساس مخکې لاړ شي، له دوه اړخیزه محاسبې څخه ډډه کوو او د (BAB) د تصدۍ د سنجش د پاڼې یوه نمونه وړاند ې کوو. د تصدۍ د سنجش پاڼه یوه داسې تابلو ده چې په هغې کې په عمودي ډول د مصارفو ډولونه او په افقي ډول د مصارفو انواع د مصارفو د موضع په توګه راوړل کیږي. له همدې امله د مختلفو سنجشونو د وسیلې په توګه او د مصارفو مواضع هم یادیدی شي. د (BAB) د تصدۍ د سنجش د اساسي پاڼې ساختمان په لاندې توګه د کتنې ( ملاحظې ) وړ ده.

| د مصارفو مواضع / دمصارفو ډولونه | د باللغو مجموعه | د مصارفو مخکینۍ مواضع | | | | د مصارفو اخیري مواضع | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | عمومي مواضع | | | د موادو کمکي موضع | د موادو مواضع | د تولید مواضع | | د اداري مواضع | د خرڅلاو موضع |
| | | ۳ | ۲ | ۱ | | | B | A | | |
| د مختلفو ګډو مصارفو ډولونه | | | | | | | | | | |
| د لومړنیو مصارفو مجموعه | | | | | | | | | | |
| د مصارفو توزیع ، د مصارفوموضع | | | | | | | | | | |
| مجموع | | | | | | | | | | |
| د پوښښ توازن (د مصارفو انحراف) | | | | | | | | | | |
| مجموعي مصارف | | | | | | | | | | |
| اضافي فیصدۍ | | | | | | | | | | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه څنګه چې په پورتنۍ تابلو کې ليدل کيږي، د مواضع مخکينۍ مصرف او د مواضع وروستۍ مصرف له يو بله تفکيک کيږي. د مصارفو مخکينۍ مواضع د توليد عمومي مرسته کونکې مواضع په داسي حال کې رانغاړي چې د مصارفو اخيرې مواضع او د موادو مواضع ، توليد ، اداره او خرڅلاو هم په ځان کې رانغاړي. پورته هره يوه ياده شوې موضع په څو نورو ضمني ( لاندنۍ ) مواضعو هم د وېش وړ دي. دا تقسيما د تصدی يپه وسعت ( پراخوالي ) د اقتصادي معلوماتو په اړتيا او اقتصادي پرنسيپونو پورې اړه لري. په دې تابلو کې په افقي توګه لومړی د يوې تصدۍ په متعددو مواضعو باندې ګڼ مختلف مصارف توزيع کيږي، وروسته د مخکينۍ مواضع د مصارفو انتقال په وروستۍ مواضع باندې ليدلي کيږي.

کله چې د مصارفو د سنجش پلان په پام کې ونيول شي، ، په دې توګه د مصارفو تفاوت ښيي او د مصارفو پلان د وروستۍ موضع، د پوښښ په توګه د مصارفو د توازن انحراف ښکاره کوي. همدارنګه د (BAB) تابلو د وروستۍ موضع اضافي فيصدۍ او مجموعه هم راښيي.

**د تصدۍ په دننه کې د فعاليتونو د ويشلو لارې چارې**

په تصدۍ کې ځينې داسي بيلابيل وسايل ( امتعې ) هم توليديږي، چې په مارکيټ کې نه پلورل کيږي، بلکې د دوهم ځل لپاره د توليد په پروسه کې د تصدۍ په داخل کې ورڅخه ګټه اخيستل کيږی. د دغو سامان آلاتو د قيمت لګولو پروسه، چې د توليد په پروسه کې ورڅخه ګټه اخيستل کيږي ( د فعاليتونو د ارزيابۍ پروړاندې د ستونزو ) په نوم ياديږي.

دغه توليد شوي سامان آلات که مادي وسايل وي لکه ثابته شتمني ، او ياغير مادي سامان وي لکه د انساني کار قوت، کولای شي، چې د تصدۍ په دننه کې اصلي او فرعي فعاليتونه رامنځته کړي. د وسايلو هغه عمده ګروپونه، چې په هغو کې دغه ستونزې رامنځته کيږي، عبارت دي له:
ثابته شتمنۍ، چې د تصدۍ په داخل کې توليد شوې وي، د تصدۍ مواد چې د تصدۍ په دننه کې توليد شوې دي، او هغه قوت چې د تصدۍ په دننه کې توليد شوی وي.

هغه وسايل چې تر څو دورو پورې دوام کوي او د استفادې وړ وي، لکه ثابته شتمنۍ چې په يو فعال بيلانس کې فعاليږي او کلنۍ فرسايش ( خرابوالی ) چې د لګښتونو په سنجولو کې د ثابتو لګښتونو په توګه ثبتيږي.

د تصدۍ په دننه کې د فعاليتونو د ارزولو په وړاندې اساسي ستونزې دادې، چې په کومه اندازه د دغو فعاليتونو لګښتونه په وضع شويولګښتونو ووېشو. د دغو لګښتونو ويشل په وروستيو وضع شويو لګښتونو باندې اغيزه کوي ، د تصدۍ په دننه کې د دغه فعاليتونو په ارزولو کې له لاندې فعاليتونو څخه ګټه اخلو:

۱- د لګښتونو د ډولونو طريقې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲- د لګښتونو د انتقال مصارف د مواضع مصرف.

۳- د لګښتونو د انتقال مصارف د مواضع مصرف.

۴- د وضع شويو لګښتونو د توازن طريقه.

۵- د لګښتونو حامل طريقه.

د لګښتونو ( مصارفو ) د ډولونو په طريقه کې يواځې د لومړنيو لګښتونو يوه برخه چې هغه هم د تصدۍ د داخلی محصول څخه لاسته راغلې وي، په اخيستونکي وضع شوي لګښت کې ارزول کيږي ، هغه لګښتونه چې په مستقيم ډول د تصدۍ په داخلی محصول ويشل کيږي ، د مشترکو مستقلو لګښتونو په توګه او يا هغه لګښتونه چې په مستقيمه توګه د تصدۍ په محصولاتو ويشل کيږي د مشترکو او مستقلو لګښتونو اويا د تصدۍ د سنجونې په پاňه کې د لګښتونو د نورو ډولونو په توګه په پام کې نيول کيږي.

په وضع شويو لګښتونو کې فعاليت کوونکي نه ليدل کيږي، بلکې په مستقيمه توګه په وضع شويو لګښتونو باندې، چې په هغه کې توليدي محصولات په کار اچول شوي وي، ويشل کيږي.

برعکس هغه پاتې لګښتونه چې، د تصدۍ د داخلی محصولاتو له امله منځته راغلي وي، په هغه کې لګښتونه، ليږدوونکي وضع شوي لګښتونه شتون لري، په دې ترتيب مجموعي لګښتونه چې د تصدۍ د داخلي محصولاتو لپاره منځته راغلی وی مثال:

د يوه ماشين د ترميم په وخت کې هغه مواد چې د هغه د ترميم لپاره ترې استفاده کيږي، اوهغه مزدورکاران چې دهغه ترميم مخته وړي، همداراز د تصدۍ د ارزونې په پاňه کې په توليدي موضع کې چې په هغه کې له ماشين څخه ګټه اخيستل کيږي، په پام کې نيول کيږي ، او د ترميم نور لګښتونه لکه، کمکي مزد، د تصدۍ د تجهيزاتو لګښت اونور، د لګښتونو په مواضعوو کې شامل دی.

له دې امله چې د لګښتونو په ډولونو کې د تصدۍ په دننه کې رامنځته شوي محصولات نه تثبيت کيږي ، نو په همدې خاطر د اقتصاد کنټرول ، او د بازار د قيمت سره د هغه مقايسه کول د توليد لپاره نه عملي کيږي.

په دې طريقه کې دتصدۍ داخلی محصولات په پام کې نيول کيږي، د دغې طريقې څخه هغه وخت ګټه اخيستل کيږي، چې د تصدۍ داخلي محصولات د اختصاصي ځانګو لخوا توليد شي.

د دغو لګښتونو دقيقه ارزونه هغه وخت رامنځته کيږي چې د لاسته راوړنو له لارې دلګښت په ويشلو کې ورڅخه ګټه واخيستل شي. دغه ساده طريقه چې په دې ارتباط ورڅخه ګټه اخيستل کيږی ، د تقسيمي لاسته راوړنو په نوم ياديږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د وضع شویو لګښتونو د توازن په طریقه کې د تصدۍ د داخلي محصولاتو ټول لګښتونه د اخیستونکو په مواضعو ویشل کیږي ، دغه طریقه هغه وخت په کار اچول کیږی چې د تصدۍ داخلي محصولات نه یواځې د اختصاصي ځانګې، بلکې د ځو وضع شویو لګښتونو په واسطه تولید شي.

په ځانګړي ډول دغه طریقه هغه وخت په وضع شویو تولیداتو کې مناسبه ده، چې په هغه کې منځني او وروستي تولیدات د خرڅلاو او د تصدۍ د نورو مواضعوو لپاره تولید شي. د دې طریقې په اساس د تصدۍ د داخلي فرسایشونو مجموعي لګښت د محصولاتو په مواضعوو ویشل کیږي.


**د محصولاتو د متقابل بدلون په صورت کې د تصدۍ د داخلي محصولاتو د سنجش طریقه:**

ځانګړي ستونزې هغه مهال رامینځته کیږي چې د محصولاتو د مصارفو دوې او یا هم تر دوو ډیرې مواضع په مستقیمه او یا هم غیر مستقیمه توګه بدلې شي.

په ( الف) حالت کې لاسته راوړنې ( محصول ) په مستقیم ډول او د ( ب ) په حالت کې لاسته راوړنې ( محصول ) په غیر مستقیمه توګه بدلیږي.
د ( الف ) حالت- لاسته راوړنې په مستقیمه توګه بدلیږي.




د (ب) حالت- لاسته راوړنې په غیرمستقیمه توګه بدلیږي.





په دې صورت کې د محصولاتو ( لاسته راوړنو ) مصارف په تدریجي توګه نه دي تقسیم شوی، بلکې په عین وخت کې د معادلاتو د سیستم په واسطه ویشل کیدای شي
د موضوع د لا روښانتیا له پاره لاندی مثال وړاندې کوو.

دوه مخکینۍ مواضع v١ اوv٢ چې په هغه کې متجانس محصولات تولیدیږي، په پام کې نیسو. فرض کړۍ چې دواړه ذکر شوې موضؤعات په متقابل ډول یو له بل سره محصولات

(c) ketabton.com: The Digital Library

توليدوي،په دې سربېره دوه وروستۍ موضوعات E۳ اوE۴ هم په پام کې نيسو ، مخکينۍ موضوع v۱،۲۰ فيصده خپله فعاليت د مخکينې موضوع v۲ او۵۰ فيصده په واک کې ورکوي او همداراز E۳ د وروستۍ موضوع په واک کې او ۳۰ فيصده نور د وروستۍ موضوع E۴ په واک کې ورکوي. مخکينۍ موضوع v۲،۲۰ فيصده خپل محصولات v۱،۴۰ فيصده مخکينۍ موضوع ته او همداراز E۳ ۴۰ نور د E۴ په واک کې ورکوي. که چيرې v۱ اوv۲ د پخوانۍ موضوع لومړني لګښتونه وي ، يا v۳,v۲ د پخوانۍ موضوع لومړنی لګښتونه وي ، او همداراز E۳ اوv۴ د وروستۍ موضوع لومړني لګښتونه وي ، او بالاخره دوروستۍ موضوع لومړني لګښتونه وي ، نو په دې صورت کې کولای شو چې هغه په لاندې ډول بيان کړو.




د دې لپاره چې د هرې موضوع مجموعي لګښت تثبيت کړو، نو بايد د هرې موضوع لومړني او دوهم لګښتونه په پام کې ونيسو ، که د هر يوه وضعه شوي لګښت مجموعي لګښتونه په kj (k۱-k۴) باندې وښيو، نوپه دې صورت کې د مخکينۍ موضوع مجموعي لګښتونه په لاندې ډول دی.

$$۰,۲K_۲+U_۱=K_۱$$
$$۰,۲K_۱+U_۲=K_۲$$

د مخکينۍ موضوع مجموعي لګښتونه عبارت دي له v۱ مجموعي لګښتونو څخه او همداراز د مخکينۍ موضوع د ۲۰ فيصده مجموعي لګښتونوڅخه چې د معادلو لګښتونو په دغه برخه کې د v۲ موضوع د v۱ موضوع لپاره توليد کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د وروستۍ $E_۳$ او $E_۴$ موضوع لګښت عبارت دی له:

$$۰,۴K_۲+۰,۵K_۱+U_۳=K_۳$$
$$۰,۴K_۲+۰,۳K_۱+U_۴=K_۴$$

د څلورو ذکر شويو موضع ګانو لومړنی لګښت په لاندې ډول وي:

$۸۰۰۰=U_۱$

$۶۰۰۰=U_۲$

$۱۰۰۰۰=U_۳$

$۲۰۰۰۰=U_۴$

په دې صورت کې د پورته هرې ذکرشوې موضوع مجموعي لګښت په لاندې ډول دی.

$K۰,۲+۸۰۰۰=_۱$ (۱)

$K۰,۲+۶۰۰۰=_۲$ (۲)

$K۰,۵+۱۰۰۰۰=_۳K۰,۴+_۱K_۲$ (۳)

$K۰,۳+۲۰۰۰۰=_۴K۰,۴+_۱K_۲$ (۴)

د معادلاتو په دې سیستم کې باید دوه لومړنې معادلې په يوه وخت کې حل شي او وروسته باید $K_۱$ او $K_۲$ قیمتونو د وضع کولو په واسطه د $K_۳$ او $K_۴$ قیمتونه پیداکړو. معادلې کولای شو د قیمتونو په وضع کولو سره حل کړو.د (۱) معادله په (۲) معادله کې وضع کوو او لیکو چې:

$$(۰,۲K_۲+۸۰۰۰)۰,۲+۶۰۰۰=K_۲$$
$$۰,۴K_۲+۱۶۰۰+۶۰۰۰=K_۲$$

$$K_۲=\frac{۷۶۰۰}{۰,۹۶}=۷۹۱۶\frac{۲}{۳}$$

$K_۱$ کولای شو چې له (۱) معادلې څخه یې پیداکړو.

$$K_۱=۸۰۰۰=۰,۲\times۷۹۱۶\frac{۲}{۳}=۹۵۸۳\frac{۱}{۳}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

$K_{۳}$ و $K_{۴}$ په لاندې توګه ارزیابی کوو.

$$K_{۳}=۱۰۰۰۰ = ۰,۵ \times ۹۵۸۳\frac{۱}{۳} + ۰,۴ + ۷۹۱۶\frac{۲}{۳} = ۱۷۹۵۸\frac{۱}{۳}$$

$$K_{۴}=۲۰۰۰ = ۰,۴ \times ۹۵۸۳\frac{۱}{۳} + ۰,۴ + ۷۹۱۶\frac{۲}{۳} = ۲۶۰۴۱\frac{۲}{۳}$$

کولای شو چې پورتني مثالونه په حسابی ډول په لاندې توګه ولیکو.

| D $V_1$ | C | | D $V_1$ | C |
|---|---|---|---|---|
| ۸۰۰۰ لومړني لګښتونه | $۱۹۱۶\frac{۲}{۳}$ د $V_{۲}$ لپاره فعالیتونه | | لومړنی لګښتونه =۶۰۰۰ | $۱۵۸۳\frac{۱}{۳}$ د $V_{۱}$ لپاره فعالیتونه |
| $۱۰۸۳\frac{۱}{۳}$ له $V_{۲}$ خخه ګټه اخیستنه | $۴۷۹۱\frac{۲}{۳}$ د $E_{۳}$ لپاره فعالیتونه | | $=۱۹۱۶\frac{۲}{۳}$ له $V_{۱}$ خخه ګټه اخیستنه | $۳۱۶۶\frac{۲}{۳}$ د $E_{۳}$ لپاره فعالیتونه |
| | ۲۸۷۵ N د $E_{۴}$ لپاره فعالیتونه | | | $۳۱۶۶\frac{۲}{۳}$ د $E_{۴}$ لپاره فعالیتونه |
| $۹۰۸۳\frac{۱}{۳}$ مجموعی‌لګښتونه | $۹۰۸۳\frac{۱}{۳}$ | | $۷۹۱۶\frac{۲}{۳}$ مجموعی لګښتونه | $۷۹۱۶\frac{۲}{۳}$ |

| D $E_{۳}$ | C | | D $E_{۲}$ | C |
|---|---|---|---|---|
| ۱۰۰۰۰مصارف اولی | $۱۷۹۵۸\frac{۱}{۳}$ د لګښتونو د لیږدولو توزیع | | =۲۰۰۰۰ لومړنی لګښتونه | $۲۶۰۴۱\frac{۲}{۳}$ د لګښتونو د لیږدولو توزیع |
| $۴۷۹۱\frac{۲}{۳}$ له $V_{۱}$ خخه ګټه اخیستنه | | | =۲۸۷۵ له $V_{۱}$ خخه ګټه اخیستنه | |
| $۳۱۶۶\frac{۲}{۳}$ له $V_{۲}$ خخه ګټه اخیستنه | | | $۳۱۶۶\frac{۲}{۳}$ له $V_{۲}$ خخه ګټه اخیستنه | |
| $۱۷۹۵۸\frac{۱}{۳}$ مجموعی لګښتونه | $۱۷۹۵۸\frac{۱}{۳}$ | | $۲۶۰۴۱\frac{۲}{۳}$ مجموعی لګښتونه | $۲۶۰۴۱\frac{۲}{۳}$ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې حسابونو کې کینې خواته د لومړنیواودوهمو لګښتونو ترکیب  د هرې مواضع لپاره ملاحظه شوی او ښۍ خواته د مخکنیو مواضعو حسابونه لیدل کیږي، چې څرنګه د هغوی لګښتونه د نورو لګښتونو مواضعو ته لیږدولی شو ، په داسې حال کې چې ښۍ خواته د لګښتونو وروستۍ مواضع چې د لګښتونو د لیږدولو لپاره ارزول کیږي ، د ملاحظې وړ ده.

په هغه صورت کې چې د لګښتونو له دو موضوع ګانو څخه زیات یوله بل سره متقابل فعالیت وکړي، نو په دې صورت کې د مټرکس له  ارزونې وروسته  دقیق حل رامنځته کیږي.

که څلور موضوعات  وي ( دوه وروستۍ موضوعات   اودوې نورې یې مخکینۍ موضوعات وي ) نو  ویلای شو،  چې ټولې څلور موضوع ګانې په متقابل ډول محصولات تولید وي ،

چې بیا په عمومي ډول ویلای شو چې:

| | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| $K_1=u_1+a_{11}$ | | $K_1+a_{12}$ | | $K_2+a_{13}$ | | $K3+a_{14}$ | | $K_4$ |
| | | | | | | | | |
| $K_2=u_2+a_{21}$ | | $K_1+a_{22}$ | | $K_2+a_{23}$ | | $K3+a_{24}$ | | $K_4$ |
| | | | | | | | | |
| $K_3=u_3+a_{31}$ | | $K_1+a_{32}$ | | $K_2+a_{33}$ | | $K3+a_{34}$ | | $K_4$ |
| | | | | | | | | |
| $K_4=u_4+a_{41}$ | | $K_1+a_{42}$ | | $K_2+a_{43}$ | | $K3+a_{44}$ | | $K_4$ |

د معادلاتو دغه سیستم په یو وخت کې دي او د $U_j$ په اساس حل کیږي.

| | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| $U_1=K_1+a_{11}$ | | $K_1-a_{12}$ | | $K_2-a_{13}$ | | $K_3-a_{14}$ | | $K_4$ |
| | | | | | | | | |
| $U_2=K_2-a_{21}$ | | $K_1-a_{22}$ | | $K_2-a_{23}$ | | $K_3-a_{24}$ | | $K_4$ |
| | | | | | | | | |
| $U_3=K_3+a_{31}$ | | $K_1-a_{32}$ | | $K_2-a_{33}$ | | $K_3-a_{34}$ | | $K_4$ |
| | | | | | | | | |
| $U_4=K_4+a_{41}$ | | $K_1-a_{42}$ | | $K_2-a_{43}$ | | $K_3-a_{44}$ | | $K_4$ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مترکس په واسطه کولای شو چې پورتنۍ معادلې داسې ولیکو

$$\begin{pmatrix} U_1 \\ U_2 \\ U_3 \\ U_4 \end{pmatrix} = \begin{pmatrix} K_1 \\ K_2 \\ K_3 \\ K_4 \end{pmatrix} - \begin{pmatrix} a_{11} & a_{12} & a_{13} & a_{14} \\ a_{21} & a_{22} & a_{23} & a_{24} \\ a_{31} & a_{32} & a_{33} & a_{34} \\ a_{41} & a_{43} & a_{43} & a_{44} \end{pmatrix} \begin{pmatrix} K_1 \\ K_2 \\ K_3 \\ K_4 \end{pmatrix}$$

که چیرې : وکتور $U = \begin{pmatrix} U_1 \\ U_2 \\ U_3 \\ U_4 \end{pmatrix}$ او وکتور $K = \begin{pmatrix} K_1 \\ K_2 \\ K_3 \\ K_4 \end{pmatrix}$

مترکس $A = \begin{pmatrix} a_{11} & a_{12} & a_{13} & a_{14} \\ a_{21} & a_{22} & a_{23} & a_{24} \\ a_{31} & a_{32} & a_{33} & a_{34} \\ a_{41} & a_{42} & a_{43} & a_{44} \end{pmatrix}$ او E واحد مترکس وی


په دغسې حالت کې کولای شو چې د پاسنیو معادلو سیستم په لاندې توګه خلاصه کړو:

$$U=K-AK$$
$$=K(۱-A)$$
$$=K(E-A)$$
$$K=U(E-A)^{-۱}$$

د موضوع د ښې توضیح لپاره مخکنی مثال په پام کې نیسو او هغه داسې پراختیا ورکوو چې څلور واړه موضعګانې یوې بلې ته مخامخ فعالیت وکړي. داسې فرض کوو چې د $E_{۳}$ وروستۍ موضع په ۰,۲ اندازه، د مخکنۍ موضع لپاره $V_{۱}$ او د ۰,۱ معادل د $V_{۲}$ مخکنۍ موضع لپاره خدمت کوي. د $E_{۴}$ وروستۍ موضع د ۰,۱ د $V_{۱}$ مخکنۍ موضع لپاره او ۰,۱ د $V_{۲=}$ مخکنۍ موضع لپاره فعالیت کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د $E_3$ وروستۍ موضع ټول لګښتونه د دغې موضع له هغو لومړنيو او دوهمو لګښتونو نه متشکل دي چې دغه موضع د $V_1$ او $V_2$ له مخکنيو مواضعو او د $E_4$ وروستۍ موضع نه پر لاس راغلي دي.




دغو عددونو ته په پام سره د پاسنيو معادلو سيستم داسې ليکو:

$$\begin{pmatrix} K1 \\ K2 \\ K3 \\ K4 \end{pmatrix} = \begin{pmatrix} 1-0.2 & -0.2-0.1-1 \\ 0.2-1 & -0.1-0{,}1 \\ 0.5-0.4 & 1-0.4 \\ 0.3-0.4 & 0.2-1 \end{pmatrix} \begin{pmatrix} 8000 \\ 6000 \\ 10000 \\ 20000 \end{pmatrix}$$

د مترکس انځور په پام کېنيولو سره هغه داسې ليکو:

$$\begin{pmatrix} K1 \\ K2 \\ K3 \\ K4 \end{pmatrix} = \frac{1}{1409} \begin{pmatrix} 2040 & 760 & 600 & 530 \\ 715 & 1890 & \frac{835}{2} & \frac{855}{2} \\ 1810 & 1730 & 2190 & 1230 \\ 1260 & 1360 & 785 & 1985 \end{pmatrix} \begin{pmatrix} 8000 \\ 6000 \\ 10000 \\ 20000 \end{pmatrix}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ټولو څلورو موضوع ګانو لګښتونه عبارت دي له:

$۲۷۰۲۶,۲۵=K_۱$

$۲۱۱۳۹,۱۰=K_۲$

$۵۰۶۴۵,۸۴=K_۳$

$۴۶۶۹۳,۲۸=K_۴$

دهرې موضوع لپاره د T حسابونو په پام کې نیسو او کولای شو ولیکو چې :

| $V_1$ | |
|---|---|
| ۵۴۰۵,۲۵فعالیت د $V_۲$ | =۸۰۰۰ لومړني لګښتونه |
| ۱۳۹۱۳,۱۲د $E_۳$ لپاره فعالیت | =۴۲۲۷,۸۰ د $V_۲$ څخه ګټه اخیستنه |
| ۸۱۰۷,۸۷ د $E_۴$ لپاره فعالیت | =۱۰۱۲۴,۱۶ د $E_۳$ څخه ګټه اخیستنه |
| | =۴۶۶۹,۲۷ د $E_۴$ څخه ګټه اخیستنه |
| ۲۷۰۲۶,۲۴ | ۲۷۰۲۶,۲۴مجموعي لګښتونه |

| $V_۲$ | |
|---|---|
| ۴۲۲۷,۸ د $V_۱$ لپاره فعالیت | =۶۰۰۰ لومړنی لګښتونه |
| ۸۴۵۵,۶۵ د $E_۳$ لپاره فعالیتونه | =۵۴۰۵,۲۵ د $V_۱$ څخه ګټه اخیستنه |
| ۸۴۵۵,۶۵ د $E_۴$ لپاره فعالیتونه | =۵۰۶۴,۵۸استفاده از $E_۳$ |
| | =۴۶۶۹,۲۷ د $E_۴$ څخه ګټه اخیستنه |
| ۲۱۱۳۹,۱۰مجموعي لګښتونه | ۲۱۱۳۹,۱۰مجموعي لګښتونه |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| $E_۳$ | |
|---|---|
| ۱۰۱۲۹,۱۶ د $V_۱$ لپاره فعالیتونه | =۱۰۰۰۰ لومړنی لګښتونه |
| ۵۰۶۴,۵۸ د $V_۲$ لپاره فعالیت | =۱۲۵۱۳,۱۲ د $V_۱$ څخه ګټه اخیستنه |
| ۱۰۱۲۹,۱۶ د $E_۴$ لپاره فعالیت | = ۸۴۵۵,۶۵ د $E_۳$ څخه ګټه اخیستنه |
| ۲۵۳۲۲,۹۴ د لګښتونو د لیږدولو لپاره توزیع | =۱۸۶۷۷,۰۷ د $E_۴$ څخه ګټه اخیستنه |
| ۵۰۶۴۵,۸۴مجموعي لګښتونه | ۵۰۶۴۵,۸۴مجموعي لګښتونه |

| $E_۴$ | |
|---|---|
| ۴۶۶۹,۲۷ د $V_۱$ لپاره فعالیت | =۲۰۰۰۰ لومړنی لګښتونه |
| ۴۶۶۹,۲۷ د $V_۲$ لپاره فعالیت | =۸۱۰۷,۸۷استفاده از $V_۱$ |
| ۱۸۶۷۷,۰۷ د $E_۴$ لپاره فعالیت | = ۸۴۵۵,۶۵له $E_۳$ څخه ګټه اخیستنه |
| ۱۸۶۷۷,۰۷ لګښتونو د لیږدولو لپاره توزیع | =۱۰۱۲۹,۱۶ له $E_۳$ څخه ګټه اخیستنه |
| ۴۶۶۹۲,۶۸مجموعي لګښتونه | ۴۶۶۹۲,۶۸مجموعي لګښتونه |

مثال د تصدۍ د پاڼې د ارزونې په اړه (BAB)

په یوه تصدۍ کې لاندې ارقام د مشترکو لګښتونو په توګه لیدل کیږي.

| په افغانیو | ډول ډول مشترک لګښتونه |
|---|---|
| ۴۰۰۰ | دمشترکو موادو لګښت |
| ۳۰۰۰ | معاشونه |
| ۱۰۰۰ | قانوني اجتماعي لګښتونه |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| د مزد مشترک لګښتونه | ۳۰۰۰ |
| برښنا | ۴۰۰ |
| کرایه | ۴۰۰ |
| بیمه | ۱۴۰ |
| رامنځته شوی فرسایش | ۵۰۰ |
| رامنځته شوې ربح | ۲۵۰ |

دغه لګښتونه د تصدۍ په مختلفومواضعو په لاندې طریقو سره توزیع یا ویشل کیږي:

| ورودستۍ مواضع | | | | | وړاندیني مواضع | | | کلید | ډول ډول مشترک لګښتونه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| د پلورني موضوع | د اداري موضوع | د تولید اصلي مواضع | | د موادو موضوع | د تولید کمکی موضوع | عمومي مواضع | | | |
| | | A | B | | | ۲ | ۱ | | |
| - | کیلو ۱۰ | کیلو ۸۰ | کیلو ۵۰ | کیلو ۱۰ | کیلو ۱۵ | کیلو ۲۵ | کیلو ۱۰ | د موادو د اخیستلو سند | دموادو مشترک لګښت |
| کس ۱ | کسان ۶ | کسان ۴ | کسان ۳ | نفر۱ | نفر۱ | نفر۲ | نفر۲ | د نفروشمیر | معاشات |
| نفر ۱ | نفر ۶ | نفر۴ | نفر۳ | نفر۱ | نفر۱ | نفر۲ | نفر۲ | دنفروشمیر | اجتماعي لګښتونه |
| ساعت ۱۵ | ساعت ۲۵ | ساعت ۹۰ | ساعت ۷۰ | - | - | ساعت ۵۰ | ساعت ۵۰ | دکمکي مزد سند | دمزد مشترک لګښت |
| کیلوات ۴۰ | کیلوات ۱۰۰ | کیلوات ۳۰۰ | کیلوات ۲۰۰ | کیلوات ۹۰ | کیلوات ۲۰ | کیلوات ۵۰ | کیلوات ۳۰ | استهلاک برق | برق |
| ۵ | ۳۰ | ۱۵ | ۲۵ | ۵ | ۵ | ۷ | ۸ | $m^2$ | کرایه |
| نفر ۱ | نفر۶ | نفر۴ | نفر۳ | نفر۱ | نفر۱ | نفر۲ | نفر۲ | د کسانو شمیر | بیمه |
| - | - | ساعت ۲۰۰ | ساعت ۱۵۰ | - | ۴۰ ساعت | ساعت ۶۰ | ساعت ۵۰ | د کارد ثبت وقت | د فرسایش براورد |
| ۲۰۰ افغانی | ۴۰۰ افغانی | ۱۶۰۰ افغانۍ | ۲۰۰۰ افغانۍ | ۱۱۰۰ افغانۍ | ۲۰۰ افغانۍ | ۳۰۰ افغانۍ | ۲۰۰ افغانۍ | سرمایه | د براوردي ربح |

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳۲۴۸ افغانی = د تولیدي موادو انفرادي لګښتونه

۳۰۰۰ افغانی = د A په تولیدي موضع کې تولیدي معاشونه

۶۰۰۰ افغانی = د B په تولیدي موضوع کې تولیدي معاشونه

دعمومي موضوع د لګښتونو ویشل: ۱: ۱۰۰ افغانۍ په عمومي موضوع

اوله ۴۰٪ فیصده پاتې لګښتونو څخه ۲ او ۲۱ افغانۍ د تولید مرسته کونکې ( کمکي ) موضوع ، په هرې تولیدي موضوع او همداراز B,A و ۱۰ فیصده د ادراې په هرې موضوع پلورل اوویشل کیږي.

دعمومي موضوع د لګښتونو ویشل ۲: ۴۲ له ۵۰ فیصده باقی ( پاتې ) لګښتونوڅخه ۱۰۰ افغانۍ د تولید کمکی موضوع ، په تولیدي موضوع باندې او همداراز A او ۶۰ فیصده د B په تولیدي موضوع ویشل کیږي.

د تصدۍ د ارزونې ( سنجش ) د توزیع پاڼه او اړونده حسابونه یې په لاندې ډول دي:

الف – د لګښتونو په هره مواضع باندې د لومړنیو لګښتونو ویشل.

۴۰۰۰ افغانۍ = د مشترکو موادو دلګښت توزیع

۲۰۰= ۱۰+۲۵+۱۰+۵۰+۸۰+۱۰ کیلوګرام = د کلیدونو مجموعه

۲=۴۰۰۰÷۲۰۰ فی کیلو افغانۍ = د کلید د فِي واحد لګښتونه

په هرې مواضع باندې د مشترکو موادو د لګښتونو سهم ( برخه ) د کلید په اساس ( کیلوګرام ) په لاندې ډول دی:

۱۰×۲۰=۲۰۰ افغانی ۲۵×۲۰=۵۰۰افغانی ۱۵×۲۰=۳۰۰ افغانی

۱۰×۲۰=۲۰۰ افغانی ۵۰×۲۰=۱۰۰۰افغانی ۸۰×۲۰=۱۶۰۰ افغانی

۱۰×۲۰=۲۰۰ افغانی

(c) ketabton.com: The Digital Library

(BAB) دتصدۍ د سنجونې پاڼه

| دلګښت مواضع | پیسې | د لګښتونو مخکینۍ مواضع | | | د لګښتونو وروستۍ مواضع | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | عمودي مواضع | | د تولید مرسته کونکي موضع | د موادو موضع | د تولید اصلي مواضع | | اداره | پلورل |
| دلګښتونوډولونه | | ۱ | ۲ | | | A | B | | |
| دلومړنیولګښتونو توزیع | | | | | | | | | |
| د مشترکوموادو لګښت | ۴۰۰۰ | ۲۰۰ | ۵۰۰ | ۳۰۰ | ۲۰۰ | ۱۰۰۰ | ۱۶۰۰ | ۲۰۰ | - |
| معاشات | ۸۰۰۰ | ۸۰۰ | ۸۰۰ | ۴۰۰ | ۴۰۰ | ۱۲۰۰ | ۱۶۰۰ | ۲۴۰۰ | ۴۰۰ |
| قانوني اجتماعي مصرف | ۱۰۰۰ | ۱۰۰ | ۱۰۰ | ۵۰ | ۵۰ | ۱۵۰ | ۲۰۰ | ۳۰۰ | ۵۰ |
| دمزد مشترک لګښتونه | ۳۰۰۰ | ۵۰۰ | ۵۰۰ | - | - | ۷۰۰ | ۹۰۰ | ۲۵۰ | ۱۵۰ |
| بریښنا | ۴۰۰ | ۱۵ | ۲۵ | ۱۰ | ۳۰ | ۱۰۰ | ۱۵۰ | ۵۰ | ۲۰ |
| کرایه | ۴۰۰ | ۳۲ | ۲۸ | ۲۰ | ۲۰ | ۱۰۰ | ۶۰ | ۱۲۰ | ۲۰ |
| بیمه | ۱۴۰ | ۱۴ | ۱۴ | ۷ | ۷ | ۲۱ | ۲۸ | ۴۲ | ۷ |
| رامنځته شوی فرسایش | ۵۰۰ | ۵۰ | ۶۰ | ۴۰ | - | ۱۵۰ | ۲۰۰ | - | - |
| رامنځته شوې ربح | ۲۵۰ | ۱۰ | ۱۵ | ۱۰ | ۵ | ۱۰۰ | ۸۰ | ۲۰ | ۱۰ |
| لومړني مجموعي لګښتونه | ۱۷۶۹۰ | ۱۷۲۱ | ۲۰۴۲ | ۸۳۷ | ۷۱۲ | ۲۵۲۱ | ۴۸۱۸ | ۳۳۸۲ | ۶۵۷ |

| د لګښت مواضع / د لګښت ډول | مبالغ | د لګښتونو مخکني مواضع: مواضع عمومی ۱ | ۲ | موضع کمکی تولید | د لګښتون وروستي مواضع: موضع مواد | مواضع اصلی تولید A | B | اداره | فروش |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| II د مصارفو توزیع، د مصارفو مواضع | ۱۷۲۱ | | +۱۰۰ | +۲۱ | | +۶۴۰ | +۶۴۰ | +۱۶۰ | +۱۶۰ |
| د لومړنۍ عمومي موضع مصارفو توزیع | ۱۷۲۱ | | +۴۲ | +۱۰۰ | +۱۰۰۰ | +۸۰۰ | | +۱۰۰ | +۱۰۰ |
| د دوهمې عمومي موضع مصارفو توزیع | | | | | | | | | |
| ټول لیدنه | ۱۷۶۹۰ | - | - | ۹۰۰ | ۸۱۲ | ۵۱۵۶ | ۶۲۵۸ | ۳۶۴۲ | ۹۱۷ |
| III د کومکي موضع د مصارفو توزیع | | | | ۲۱۴۲ | | +۱۶۰ | +۱۶۰ | | |
| د تولید پر اصلي موضع تولید | | | | | | | | | |
| د وروستیو مواضعو ټول لګښت | | | | | ۸۱۲ | ۵۵۲۱ | ۶۷۹۸ | ۳۶۴۲ | ۹۱۷ |
| IV د سلنې برخه | ۱۷۶۹۰ | | | | انفرادی مواد | تولیدی مزد | تولیدی مزد | د استحصال مصارف | د استحصال مصارف |
| اضافی اساس | | | | | ۳۲۴۸ | ۳۰۰۰ | ۶۰۰۰ | ۲۵۳۷۹ | ۲۵۳۷۹ |
| اضافی سلنه | | | | | ٪۲۵ | ٪۱۸۴,۰۳ | ٪۱۱۳,۳ | ٪۱۴,۳۵ | ٪۳,۱۷ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تصدۍ د ارزونې پاڼه ( BAB) او اړونده حسابونه يې په لاندې ډول دي:
الف – د لګښتونو په هرې مواضع باندې د لومړنيولګښتونو ويشل.
۴۰۰۰ افغانۍ = د موادو د مشترکو لګښتونو له توزيع سره ( ۱ )
۲۰۰kg=۱۰+۲۵+۱۵+۱۰+۵۰+۸۰+۱۰ کيلوګرام =مجموعه کليد
فې کيلوګرام – افغانۍ ۲۰=۴۰۰۰÷ ۲۰۰ د کليد د فې واحد لګښتونه
د کيلوګرام په اساس په هرې مواضع باندې د مشترکو موادو د لګښتونو سهم ( برخه ) په لاندې ډول ده:

۱۰×۲۰=۲۰۰ افغانی ۲۵×۲۰=۵۰۰افغانی ۱۵×۲۰=۳۰۰ افغانی
۱۰×۲۰=۲۰۰ افغانی ۵۰×۲۰=۱۰۰۰افغانی ۸۰×۲۰=۱۶۰۰ افغانی
۱۰×۲۰=۲۰۰ افغانی

۲- دمعاشونو ويشل = ۸۰۰۰ افغانۍ
دکليد مجموعه کسان ۲ =۲+۲+۱+۱+۳+۴+۴+۶+۱=۲۰ تن
د کليد د فې واحد لګښت ۸۰۰۰ =÷۲۰=۴۰۰ افغانۍ فې نفر
د کليد په اساس و هر کس د لګښت مواضع د معاش برخه په لاندې ډول ده:

۲×۴۰۰=۸۰۰ افغانی ۲×۴۰۰=۸۰۰افغانی ۱×۴۰۰=۴۰۰ افغانی
۱×۴۰۰=۴۰۰ افغانی ۳×۴۰۰=۱۲۰۰افغانی ۴×۴۰۰=۱۶۰۰ افغانی
۶×۴۰۰=۲۴۰۰ افغانی ۱×۴۰۰=۴۰۰افغانی

۳- د اجتماعي لګښتونو توزيع ۱۰۰ = افغانۍ
۲۰ کسان = د کليد مجموعه
د هرې مواضع د لګښتونو لپاره د کليد په اساس د اجتماعي لګښتونو سهم په لاندې ډول دی:
۵۰×۲=۱۰۰ افغانی ۵۰×۲=۱۰۰افغانی ۵×۱=۵۰ افغانی
۵۰×۱=۵۰ افغانی ۵۰×۳=۱۵۰افغانی ۵۰×۴=۲۰۰ افغانی
۵۰×۶=۳۰۰ افغانی ۵۰×۱=۵۰افغانی

۴- دمزد د مشترکو لګښتونو توزيع =۳۰۰۰ افغانی
د کليد مجموعه ۵۰ =+۵۰+۷۰+۹۰+۲۵+۱۵=۳۰۰
د هر تن د فې واحد لګښت۳۰۰۰ =÷۳۰۰= ۱۰ افغانۍ هرساعت
د مزد د لګښتنونو مشترک سهم ( برخه ) د فې ساعت په اساس د تصدۍ د هرې مواضع لګښت

(c) ketabton.com: The Digital Library

په لاندې ډول دی:

۵۰×۱۰=۵۰۰ افغانی ۵۰×۱۰=۵۰۰افغانی ۷۰×۱۰=۷۰۰ افغانی

۹۰×۱۰=۹۰۰ افغانی ۲۵×۱۰=۲۵۰افغانی ۱۵×۱۰=۱۵۰ افغانی

۵- د برېښنا د لګښتونو ویش ۴۰۰ = افغانۍ

د کلید مجموعه ۳۰ =+۵۰+۲۰+۶۰+۲۰۰+۳۰۰+۱۰۰+=۴۰کیلوواټ

د کلید د فې واحد لګښت ۴۰۰ =÷۸۰۰= ۰,۵ افغانۍ فې کیلوواټ

د برېښنا سهم د کلید په اساس ( کیلوواټ ) د تصدۍ د هرې مواضع لګښتونه په لاندې ډول دي.

۳۰×۰,۵=۱۵ افغانی ۵۰×۰,۵=۲۵افغانی ۵۰×۰,۵=۲۵افغانی

۶۰×۰,۵=۳۰ افغانی ۲۰۰×۰,۵=۱۰۰افغانی ۳۰۰×۰,۵=۱۵۰ افغانی

۱۰۰×۰,۵=۵۰ افغانی ۴۰×۰,۵=۲۰ افغانی

۶- دکرایې د لګښتونو ویش = ۴۰۰ افغانۍ

د کلید مجموعه ۸ =+۷+۵+۵+۲۵+۱۵+۳۰+۵=۱۰۰

د کلید د فې واحد لګښتونه۴۰۰ =÷۱۰۰=۴ فې متر مربع، افغانی

د کلید( مترمربع ) په اساس د لګښتونو د سهم کرایه د تصدۍ د هر وضع شوي لګښت په لاندې ډول دی.

۸×۴=۳۲ افغانی ۷ ×۴=۲۸ افغانی ۵×۴=۲۰ افغانی۲۵×۴=۱۰۰ افغانی

۷- د بیمې د لګښت توزیع = ۱۴۰ افغانی

مجموع کلید= ۲۰ نفر

دکلید د فې واحد لګښت = ۱۴۰ =÷۲۰=۷ افغانۍ فې نفر

دبیمې د لګښت سهم د کلید په اساس د تصدۍ هر وضع شوی لګښت په لاندې ډول دی.

۲×۷=۱۴ افغانی ۲×۷=۱۴افغانی ۱×۷=۷افغانی

۷×۱=۷افغانی ۳×۷=۲۱ افغانی ۴×۷=۲۸افغانی

۶×۷=۴۲ افغانی ۱×۷=۷ افغانی

۸- د رامنځته شوي فرسایش ویشل = ۵۰۰ افغانۍ

د کلید مجموعه = ۵۰+۶۰+۴۰+۱۵۰+۲۰۰=۵۰۰ ساعت ماشین

دکلید د فې واحد لګښتونه = ۵۰۰ =÷۵۰۰=۱ ۱فې ساعت ماشین، افغانۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

د رامنځته شوي فرسایش

د في ساعت د فعالیت په اساس د تصدۍ د هر وضع شوي لګښت لپاره د رامنځته شوي فرسایش برخه ( سهم ) په لاندې ډول ده.

۰۴×۱=۱افغانی ۰۶×۱=۰۶افغانی ۰۵×۱=۰۵ افغانی

۰۰۲×۱=۰۰۲ افغانی ۰۵۱×۱=۰۵۱افغانی

۹- د رامنځته شوې ربحې توزیع =۲۵۰ افغانۍ

دکلید مجموعه = ۲۰۰ =+۳۰۰+۲۰۰+۱۰۰+۲۰۰۰+۱۶۰۰+۲۰۰+۴۰۰= ۵۰۰۰ افغانی

دکلید د في واحد لګښت ۰,۰۵ = ۲۵۰ ÷ ۵۰۰۰=

د وضعه شویو تولیدی لګښتونو لپاره د رامنځته شوې ربحې برخه د سرمایې په اساس په لاندې ډول ده:

۲۰۰×۰,۰۵=۱۰Af ۳۰۰×۰,۰۵=۱۵Af ۲۰۰ × ۰,۰۵ =۱۰ Af

۱۰۰×۰,۰۵=۵Af ۲۰۰×۰,۰۵=۱۰Af ۱۶۰۰×۰,۰۵=۸۰Af

**ب** - په وروستیو وضع شویو لګښتونوباندې د مخکنیووضع شویولګښتونو توزیع: (د ثانوي لګښتونو توزیع ):

د عمومي موضع د لګښتونو توزیع -۱= ۱۷۲۱ افغانۍ

د عمومي مواضعو سهم ۲ او کمکي موضع۱۰۰= +۲۱=۱۲۱

د عمومي موضوع پاتې لګښتونه -۱۷۲۱= ۱-۱۲۱= ۱۶۰۰افغانۍ

د هر تولیدي موضع سهم ۶۴۰ = $\frac{۱۶۰۰\times ۴۰}{۱۰۰}$ = افغانۍ

د ادارې د هرې مواضع سهم او خرڅلاو ۱۶۰= $\frac{۱۶۰۰\times ۱۰}{۱۰۰}$ = افغانۍ

-۲ د دویمې موضوع د لګښتونو توزیع ۲۱۴۲=افغانۍ

د کمکي موضوع سهم اود موادو موضع ۱۰۰ =+۴۲=۱۴۲

دعمومي موضع پاتې لګښتونه ۲۱۴۱ =-۱۴۲=۲۰۰۰

A دتولید د موضوع سهم ۱۰۰۰= $\frac{۲۰۰۰\times ۵۰}{۱۰۰}$ = افغانۍ

B دتولید د موضوع سهم ۸۰۰= $\frac{۲۰۰۰\times ۴۰}{۱۰۰}$ = افغانۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳- دلگښتونوتوزیع د تولید کمکي موضوع ۹۰۰ = افغانۍ

A دتوليدي موضوع سهم ۳۶۰ = $\frac{۴۰ \times ۹۰۰}{۱۰۰}$=افغانۍ

Bدتوليدي موضوع سهم ۵۴۰ = $\frac{۶۰ \times ۹۰۰}{۱۰۰}$=افغانۍ

ج- داضافي فيصدۍ ارزونه ( سنجش )

- دموادو د موضوع اضافي فيصدۍ

| دموادولگښت انفرادي | مواد مشترک لگښتونه |
|---|---|
| ۳۲۴۸ | ۸۱۲ |
| ۱۰۰ | X |

$$X=\frac{۱۰۰ \times ۸۱۲}{۳۲۴۸} = ۲۵٪$$

دموادو اضافي فيصدۍ =۲۵٪

A-۲ دتولید دموضوع اضافي فيصدۍ

| د مزد | تولید مشترک لگښتونه |
|---|---|
| ۳۰۰۰ | ۵۵۱۲ |
| ۱۰۰ | X |

$$X=\frac{۱۰۰ \times ۵۵۲۱}{۳۰۰۰} = ۱۸۴,۰۳٪$$

A-۳ دتولید د موضع اضافي فيصدی

| توليدي مزد | توليدي مشترک لگښتونه |
|---|---|
| ۶۰۰۰ | ۶۷۹۸ |
| ۱۰۰ | X |

$$X=\frac{۱۰۰ \times ۶۷۹۸}{۶۰۰۰} = ۱۱۳,۳٪$$

۳- د اداري اضافي فيصدی

د استحيال مصارف = (۸۱۲+۳۲۴۸)+(۵۵۲۲+۳۰۰۰)+(۶۷۹۸+۶۰۰۰)=۲۵۳۸۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

| اداري لګښتونه | د استحصال لګښتونه |
|---|---|
| ۳۶۴۲ | ۲۵۳۸۰ |
| X | ۱۰۰ |

$$X=\frac{۱۰۰ \times ۳۶۴۲}{۲۵۳۸۰} = ۱۴,۳۵\%$$

۵- د خرڅلاو د موضع لپاره اضافی فیصدی

| لګښتونه پلورل | د لګښتونو استحصال |
|---|---|
| ۹۱۷ | ۲۵۳۸۰ |
| X | ۱۰۰ |

**د اتم څپرکي د مطالبو لنډیز:**

**۱_ د مصرف د مواضع د سنجش مفهوم:** د مصارفو د موضع په سنجش کې د مصارفو د توزیع مختلف ډولونه د تصدۍ په ټولو هغو ځانګو کې چې دا مصارف په یوه اقتصادي مرحله کې رامینځته شوي وي، وړاندې کوي.

**۲_ د مصارفو د مواضع د سنجش مهم اهداف:** د اقتصادیت د اندازې کنټرول د خدمت د مصارفو په حامل باندې د مشترکو مصارفو د وسیلې په توګه عبارت ده.

**۳_ له وظیفوي اړخه د مصارفو د مواضعو وېش:**

_ د عمومي مصارفو مواضع
_ د تولیدي مصارفو مواضع
_ د موادو د مصارفو مواضع
_ د خرڅلاو د مصارفو مواضع
_ د اداري مصارفو مواضع

**٤_د مصارفو په مواضع باندې د مصارفو د ډولونو وېش:** مصارفد د تولیدي انفرادي مصارفو په حامل او د حامل ګډ مصارفو باندې تقسیمیږي. د مصارفود حامل انفرادي مصارف په مستقیمه توګه د مصارفو په حامل وېشل شوی، په داسې حال کې چې د مصارفو د حامل مشترک مصارف د مصارفو د مواضعوو له طریقي د مصارفو په حامل وېشل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مصارفو حامل مصارف کولای شو د مصارفو په انفرادي مواضعوو او د مصارفو په مشترکو مواضعوو وویشو.

د مصارفو د مواضع انفرادي مصارف په مستقیمه توګه او له نسبتي کمیتونو ( کلیدونو ) پرته د مصارفو په موضع تقسیم کړو، خو مشترک مصارف د نسبي ( کلیدي ) کمیتونو په مرسته د مصرف په مواضعوو تقسیمولی شو. په دې توګه هڅه کیږي چې د مصارفو او نسبي( کلیدونو ) تر منځ اړیکه وساتو.

**۵_ د متناسب کلید د مصرافو د وېش له پاره:** د کلید واحد مصارف × د کلیدونو شمېر = د مصارفو سهم –الف

د مصارفو برخه $\frac{\text{اضافي سهم×د کلیدونو شمېر}}{۱۰۰}$

د مصرف برخه $\frac{\text{د فیصدي فیصدۍ×د مصرف مجموعه}}{}$

**٦_ د تصدۍ د سنجش پاڼه (BAB) د مصارفو د مواضعوو د سنجش د وسیلې په توګه:** د مصارفو د مواضع سنجش د پرمخ بیولو د تابلو یا په حسابي بڼه تر سره کړو، په دې توګه چې د مصارفو هرې یوې موضع ته حساب افتتاح کړو او په هغه کې په هرې مواضع پورې اړونده ډولونه درج کړو.

په هغه صورت کې چې د مصرفو د مواضعو سنجش د تابلو په بڼه وړاندې لاړ شي، له دوه اړخیزې محاسبې څخه ډډه کوواو د تصدۍ د سنجش پاڼه (BAB) د هغه یوه نمونه وړاندې کوي. د تصدۍ د سنجش پاڼه یوه تابلو ده چې په هغې کې په عمودي ډول د مصارفو ډولونه او په افقي ډول د مصارفو مواضع درج کیږي. له همدې امله د مختلفو مواضعوو د مصارفو د سنجش په نوم هم پیژندل کیږي.

**۷_ د تصدۍ په دننه کې د توزیع د فعالیتونو طریقې:** په تصدیو کې ځینې داسې مختلفې امتعې تولید کیږي، چې په مارکیټ کې نه پلورل کیږي، بلکې دوهم ځل په تصدۍ کې د تولید په بیلابیلو پروسو کې کار ورڅخه اخلي. ددې امتعو ( وسایلو ) قیمت ګذاري په تصدۍ کې د داخلي فعالیتونو د سنجش د ستونزو په نوم یادیږي. دا وسایل کیدای شي چې مادي وسایل وي ( ثابته دارایي، امتعه او نور ) او یا هم غیر مادي امتعه وي ( بشري قوا ، علمي معلومات او نور ).

د تصدۍ د داخلي فعالیتونو د سنجش له پاره له لاندي طریقو څخه استفاده کولای شو:


۱_ د مختلفو مصارفو طریقه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


۲_د مصارفو د انتقال طریقه، د مصارفو مواضع
۳_د مصارفو د مواضع د توازن طریقه
٤_د مصرف د حامل طریقه

۸_ د بدلیدو ( تعویض ) په صورت کې په تصدۍ کې د متقابلو فعالیتونو د سنجش طریقه:

ځانګړې ستونزې هغه مهال را څرګندیږي چې د فعالیتونو د مصارفو په دوو او یا تر دوو ډیرو مواضعوو کې په مستقیمه او یا هم غیر مستقیمه توګه بدلون راشي.




په الف حالت کې فعالیتونه په مستقمه توګه او په ب حالت کې په غیر مستقیمه توګه بدل شویدي.




په دې صورت کې د فعالیتونو مصارف په تدریجي توګه نه دي تقسیم شوي، بلکې د معادلاتو د سیستم له مخې په یوه وخت کې وېشل شویدي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د اتم څپرکي پوښتنې**

۱- په یوه دوره کې د یوې تصدۍ مشترک لګښتونه په لاندې ډول ملاحظه کیږي.

| د مشترکو لګښتونو ډولونه | افغانۍ |
|---|---|
| د مشترکو موادو لګښتونه | ۲۴۰۰۰ |
| بریښنا | ۳۶۰۰۰ |
| کومکي مزد | ۶۳۰۰۰ |
| معاشونه | ۶۶۰۰۰ |
| اجتماعي لګښتونه | ۴۰۰۰۰ |
| د ترمیم لګښتونه | ۲۲۰۰۰ |
| مالیات | ۴۲۰۰۰ |
| لاسته راغلې ربح | ۶۴۰۰۰ |

دا لګښتونه د دغې تصدۍ په څلورو وروستیو مواضعو د لاندې کلید په واسطه ویشل کیږي ، په وروستۍ موضوع پورتنې مشترک لګښتونه په دغه تصدۍ ویشل کیږي اود تصدۍ د ارزونې پاڼه ترتیب کیږي.

۲- یوه تصدۍ په پام کې ونیسۍ چې د دوو مخکنیو موضوعاتو v ۱او v۲ او دوو وروستیو موضوعانو E۳ اوE۴ وي، د دغو موضوعانو هریو لومړنی لګښت په لاندې ډول دی.

$V_۱$ د مخکینۍ موضوع لومړني لګښتونه =۸۰۰۰

$V_۲$ د مخکینیۍ موضوع لومړني لګښتونه = ۱۰۰۰۰

$E_۳$ د وروستۍ موضوع لومړني لګښتونه = ۱۲۰۰۰

$E_۴$ د وروستۍ موضوع لومړني لګښتونه = ۲۰۰۰

مخکینۍ موضوع $V_۱$ ، ۱۰ فیصده خپله لاسته راوړنې په $V_۲$ او ۴۰ فیصده په $E_۳$ او ۵۰ فیصده نورو په E۴ سرته رسیږي. مخکینۍ موضوع V۲ ، ۲۰ فیصده خپل فعالیت په V۱ او ۵۰ فیصده په E۳ او ۳۰ فیصده نورو په $E_۴$ سرته رسیږي.

الف- د هرې پورته ذکرشوې مواضع لګښت د هماغه وخت د معادلاتو د سیستم په اساس ارزول کیږي.

ب- د هرې مواضع لګښتونه په اړونده حسابونو کې درج کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ج- انفرادي لګښتونه ، ثانوي لګښتونه او مشترک لګښتونه هریو د دې مواضعو د جذب د کومک په واسطه ارزيابي کړئ؟

۳- په یوه دوره کې د یوې تصدۍ مشترک لګښتونه په لاندې ډول دی:

دمشترکو موادو لګښتونه = ۲۰۰ افغانۍ

معاشونه =۴۰۰ افغانۍ

قوت =۵۰ افغانۍ

ترسره شوی فرسایش =۱۰۰ افغانۍ

متفرقه=۵۰ افغانۍ

د تولیدي موادو انفرادي لګښتونه =۵۳ افغانۍ

تولیدي مزدونه =۹۸۸ افغانۍ

| د لګښتونو ډولونه | کلید | وروستۍ موضع | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | د موادوموضع | د تولید موضع | د اداري موضع | د پلور موضع |
| د مشترکو موادو لګښتونه | دموادو د اخیستلو سند | ۴۰۰ کیلوګرام | ۱۹۰۰ کیلوګرام | ۱۰۰ کیلوګرام | - |
| قوت | د بریښنا استهلاک | ۶۰۰۰۰ کیلوواټ | ۱۸۰۰۰ کیلوګرام | ۶۰۰۰۰ کیلوواټه | ۶۰۰۰۰ کیلوواټه |
| کمکي مزدونه | د کمکي مزد سند | ۲۰۰ ساعت | ۵۰۰۰ ساعت | ۵۰۰۰ ساعت | ۱۰۰۰ ساعت |
| معاشونه | د پرسونل شمیرنه | ۲ کسان | ۲ کسان | ۶ کسان | ۱ کس |
| اجتماعي لګښتونه | مزد او معاش | ۲۰۰۰۰ | ۱۰۰۰۰۰ | ۶۰۰۰۰ | ۲۰۰۰۰ |
| د ترمیم لګښتونه | د کار وخت | ۵۰ ساعت | ۴۵۰ ساعت | - | ۵۰ ساعت |
| مالیات | د اساس ارزول | ۲۰۰۰۰۰ | ۵۰۰۰۰۰ | ۵۰۰۰۰۰ | ۲۰۰۰۰۰ |
| ترلاسه شوی ربح | سرمایه | ۸۰۰۰۰۰ | ۳۲۰۰۰۰۰ | ۱۶۰۰۰۰ | ۸۰۰۰۰۰ |

په وضع شویو لګښتونو باندې پورتنیو لګښتونو ته په کتوسره دغه تصدۍ په لاندې پړاوونو ویشل شوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

| د اداري موضوع | دتوليدموضوع | دموادوموضوع | عمومي موضع | کليد | مشترک لګښتونه |
|---|---|---|---|---|---|
| - | ۱۴ کيلوګرام | ۱ کيلوګرام | ۵ کيلوګرام | د موادو د اخيستلو سند | د مشترکو موادو لګښت |
| ۱۰ کسان | ۹ کسان | ۲ کسان | ۴ کسان | د معاش د اخيستلو سند | معاشات |
| | ۱۵ ساعته | ۲ ساعته | ۳ ساعته | د ماشين د فعاليت د ثبتولو سند | رامنځته شوی فرسايش |
| | ۳ | - | ۱ | - | متفرقه |
| کيلوواټه ۲۰ | ۵۰ کيلوواټه | ۱۰ کيلوواټه | ۲۰ کيلوواټه | د برښنا استهلاک | انرژۍ |

الف- د تصدۍ د ارزونې پاڼه ترتيبوو او د لګښتونو په وروستۍ موضوع اضافي فيصدي ارزوو ، د عمومي موضوع لګښتونه ۴۹ افغانۍ د موادو په موضوع او پاتې ۸۰ فيصده په توليدي موضوع او ۲۰ فيصده نور د اداري په موضوع ويشل کيږي.

ب - د يو فرسايش حاصل شوي لګښتونه د اضافي فيصدۍ په پام کې نيولو سره ارزيابی کړئ؟ په هغه صورت کې چې د موادو د انفرادي لګښتونو توليد ۱۰۶ او د دغه فرسايش توليدي مزد ۴۹۴ افغانۍ دی.

۴- يوې تصدۍ ته پام وکړئ چې له دوو v۱ اوv۲ مخکنيو موضوعاتو او دوو وروستيو E ۳ او E۴ موضوعاتو څخه جوړه شوې وي، د دغو مواضعو لومړني لګښتونه په لاندې ډول دي.

$V_1$ د مخکينۍ موضوع لومړني لګښتونه =۶۰۰۰

$V_1$ د وروستۍ موضوع لومړني لګښتونه ۱۴۰۰۰=

$E_1$ د ورستۍ موضوع لومړني لګښتونه ۲۰۰۰۰=

$E_1$ د وروستۍ موضوع لومړني لګښتونه ۳۰۰۰=

دا څلور موضع په متقابله توګه په يو بل فعاليت کوي. پخوانۍ موضع ۱۵,v۱ د خپل فعاليت فيصدۍ پخوانۍ موضع ۴۵,v۲ ته ور سپاري. پاتې مصارف وروستۍ موضع E۳ ،۴۰ ته ورکوي او پاتې فيصدي د وروستۍ موضع E۴ په واک کې ورکوي.پخوانۍ موضع ۲۰,v۲ فيصده خپل فعاليت

(c) ketabton.com: The Digital Library

مخکینۍ موضع ۳۰,v۱ او څه فیصدي وروستۍ موضع E۳ ته ورکوي. ۵۰ فیصده پاتې يې اخيري E۴ ترسره کوي. اخيري موضع ۱۰,E۳ فیصده خپل تولید مخکینۍ v۱ او۱۵ او نوره فیصدۍ v۲و۲۵ موضع په واک کې ږدي. اخيري موضع ۲۰,E۴ فیصده خپل فعالیت پخوانۍ موضع ۱۰,v۱ ته، فیصده يې اخيري او v۲ و۱۰ فیصده يې وروستۍ موضع ته E۳ سرته رسوي.

الف- د څلورو مواضعو هره موضع د مترکس په مرسته سنجش کړی؟

ب- د دغو هرې یوې موضع مصارف په حسابونو کې درج کړی؟

**سرچيني او اخځليکونه:**


۱- سنجش مصارف در موسسات صنعتی افغانستان، انستیتوت اداره و صنعت کابل، دکتور هربرت هیریشی

۲- حسابداری صنعتی (حسابداری قیمت تمام شد) سازمان آموزشی و حرفه ای کشور ایران، مترجم پوهنیار غلام ربانی ظهور

۳- مفاهیم اساسی مصرف برای تصمیم گیری، پوهنتون مزار شریف، استاد محمد عارف

۴- حسابداری مالی و حسابداری شرکت ها، دانشگاه ها و مدارس ایران، محمد علی جلالی

۵- سنجش مصارف، پوهنتون کابل، پوهنحی اقتصاد، دکتور نذیر احمد شهیدی

۶- حسابداری صنعتی مقدماتی، وزارت آموزش و پرورش، ایران ابوالقاسم عشقی و محمد رضا جانسپاه

۷- حساب مصرف و سرمایه گذاری، پوهنتون کابل پوهنحی اقتصاد، مولف Carl Zimmerer

۸- تیوری تولید و مصرف، پوهنتون کابل، پوهنحی اقتصاد، دکتور نذیر احمد شهیدی

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ښوونیز نصاب د پراختیا د ریاست پیغام

د پوهنې وزارت د تخنیکي او مسلکي زده کړو معینیت د ښوونیز نصاب د انکشاف ریاست د ټولنې د عیني او ښکاره ضرورت په درک کولو سره چې د محصلینو او شاګردانو د درسي کتابونو په برخه کې یې تخنیکي او مسلکي رشتې درلودې او لري یې، په لومړي سر کې یې تصمیم ونیو، چې په ښـــوونیزو پلانونو او درسي مفرداتو باندې بیا کتنه وکړي او ورپســـې بیا د شاګردانو او محصلینو د درسي کتابونو د تالیف لپاره مبادرت او کوښـــښ وکړي. د خدای(ج) په فضل او مرحمت سره او د ادارې او حســـابدارۍ څانګې د ښـــوونکو په میړانې او همت سره د ادارې او حســـابدارۍ درسي کتابونه تالیف شول تر څو په وړیا ډول د شاګردانو او محصلینو په واک او اختیار کې ورکړل شي.

د علم او معرفت له ټولو لوســـتونکو، علاقمندانو، د ادارې او حسابدارۍ د مکاتبو له ښوونکو، ګرانو شـــاګردانو او د تخنیکي او مســـلکي زده کړو د چارو له متخصصینو او همدا شـــان له ټولو څېړونکو او شنونکو څخه صمیمانه هیله کیږي، چې د دې کتابونو په مطالعې سره چې په لومړي ځل د ښـــوونکو او د ادارې او حســـابدارۍ څانګې د مســـلکي غړو له لوري تالیف او تدوین شوي دي. د مســـلکي، تخنیکـــي او علمي مطالبـــو او مفاهیمو د څرنګوالي په هکلـــه خصوصاً د هغوی املایي او انشـــایي اشـــتباهاتو په اړه مونږ ته لارښوونه وکړي، ترڅو په راتلونکي کې وکړای شو، په همدې او نورو برخو کې ګرانو شـــاګردانو ته له دې څخه ښه، غوره، ګټور او ارزښتناکه موضوعات وړاندې کړو.

همدا شـــان له ګرانو شـــاګردانو او محصلینو څخه هیله کوو ترڅو د دې کتابونو د مطالعې او اســـتفادې پر مهال د هیواد اقتصادي ســـتونزې، فقر او وروســـته پاتې والی په نظر کې ونیسي او د کتابونو په ساتنه کې کوښښ او زیار وباسي، ترڅو د ډېرو شاګردانو او محصلینو د ګټې وړ وګرځي.

**پته:** د پوهنې وزارت- د مسلکي او تخنیکي زده کړو معینیت

د تعلیمي نصاب د پراختیا ریاست

د درسي کتابونو د چمتو کولو عمومي مدیریت

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**